به قول مردم این محل جهیل ها را حضرت علی بسته است از آنجهت نام آنها بنـــام بـــند امـــیر است.

چشمه شفاء بر خلاف آب جهیل نهایت سرد و به شدت زیاد از قـــاعده‌ء بنـــد فـــوران میکـــرد. در روزگاران گذشته زنان و مردان جن دار و مرگی دار را با لبـــاس شـــان در بـــین چشـــمه‌ء شـــفاء

میانداختند تا بعد از چند پلوغوطه خوردن شفا یابند و جن ها از بدن شان برای همیش فرار نمایند نام این چشمه به خاطر شفای بیماران روانی مسمی به چشمه شفا شهرت یافته است.

در سمت شمال این جهیل که به نام بند هیبت یاد میشود تعمیر دو طبقه یی که در سال ۱۳۳۲ هجری قمری به سر پرستی قل محمد خان و دو نفر از سادات محل به نام شاه میرزا حسین از یکاولنگ و سید عبدالعلی از ولایت غزنی چند اطاق به سبك کنبدی از خشت خام و سنگهای تاوه یی ساخته شده بود تا هنوز قسمتی آن پا برجا مانده است.

موسفیدان محل میگویند که قل محمد خان حاکم کهمرد بود و میخواست که در این محل تعمیر بزرگتر را بسازد. اما او به مرضی گرفتار شد. شاه اولیا را در خواب دید که به او گفته بود تا ازین کار دست بردارد. ساحل جهیل تا هنوز به شکل طبیعی آن باقیمانده است. غیر از یك لوحه چوبین که در روی آن چنین نوشته بود:

خط دلکش دیار کم نظیر   معجر مولاعلی بند امیر
آب آن سرچشمهء پاك وزلال   میرود تا سرزمین های شمال

چیزی دگر در کنار آن نبود.

به قول مجاور آن سه ماه قبل از سفر ما به اندازه یك متر در شانزده متر (به عرض یك متر و ارتفاع شانزده متر) درز کلان در دیوار تحتانی سمت شمالی بند هیبت پیدا شده بود که در اثر نذر و خیرات دوباره به هم جوش خوردند. آن درز دیوار را من خود به چشم دیدم که در حال ترسب و نزدیك به هم بود.

تقریباً هفتاد سال قبل از امروز نیز همچو واقعه به اتفاق افتاده بود که به اندازهٔ یك متر در دو متر سوراخ از دیوار بند پیدا شد که در اثر نذر و خیرات دوبارهٔ به هم جوش خورد و پر شد. به قول غواصان محل ده متر در وسط بند امیر نهایت آب سرد و فشار زیاد دارد که مفهوم آن اینست. در زیر این جهیل آب سردی چون از جریان در حرکت است. تحقیقات و معلومات بیشتر در باره جهیل های بند امیر به شکل ساختمان طبیعی اش چنین آغاز میگردد.

جهیل های بند امیر به فاصله پنجاوپنج کیلومتر فاصله فضا و هفتادوپنج کیلومتر مسافه زمینی سمت غرب وادی بامیان به ارتفاع دوهزارونه صدو بیست متر از سطح بحر واقع و در

بین سی و چهار درجه و پنجاه دقیقه عرض البلد شمالی و شـــصت و پنـــج درجـــه و ده دقیقـــه طـــول ـ البلد شرقی بوده متشکل از هفت جـــهیل انـــد.

جهیلهای بند امیر از سمت غـــرب بـــه شـــرق بـــه نامـــهای بنـــد ایســـپی او(ســـپین آب)، بنـــد غلامو(بند غلامان)، بند قمبر، بند هیبت، بند پنیر، بند پودینـــــه و بنـــد ذوالفقـــار مســـمی و در بـــین کوه های آهکی و نیمه آهکی محاط انـــــد.

مجموعه یی سطح جهیل های بند امیر بالغ بر شش صد هکتـــــار کـــه از جملـــهء چـــهارصد و نـــود هکتار آنرا بند ذوالفقار و نود هکتار آنرا بند هیبـــت تشـــکیل میدهـــد.

اندازهء کلی بستر آبی بندهای خورد و بزرگ بالغ بر چهل و یـــك هـــزار هکتـــار زمـــین بـــوده، و ارتفاع کوه های دورادور آن به سه هزار و هشت صد متر از ســـطح بحـــر بـــالغ میـــگردد.

این بند ها در انجام ساختمان بیضـــوی مـــانند خـــود دارای مـــواد آهکـــی و ترســـبات کلســـیم کاربونیت اند. ممکن است از نگاه جیولوجی چنین اســـتنباط گردد کـــه در طـــول ملیونهـــا ســـال در داخل این جهیل های آب مملو از کلسیم کاربونیت بوده که در اثر ترســـبات پـــی درپـــی بـــه همچـــو شکل تعیین کننده جهیل ها تبدیل شـــده باشـــد.

از نتایج تحقیقات جیولوژیکی که تاالحال در حصهء تشکل ایـــن جـــهیل هـــا بـــه دســـت آمـــده چنین استنباط میگردد که این بندها در اثر تحولات تیکتونیکـــــی و یـــا یخچـــالی تشـــکل کـــرده کـــه میتوان منبع آبهای ذخیرهء آنرا به گمان غالب چشمه های داخلی منـــابع آبهـــای یخچـــالی دانســـت.

جهیل های بند امیر در ارتفاع سه هزار مـــتر مملـــو از آبهـــای صـــاف و نیلـــگون خـــود حیـــث پدیدهء کم نظیر و شهکار یگانهء طبیعت یکی از زیباترین مناظر طبیعـــــی و تورســـتیکی وطـــن عزیـــز ما افغانستان را تشکیل داده اســـــت.

از نگاه صنعت توریزم و جهانگردی کمتر کسی پیـــــدا میشـــود کـــه از نـــام و شـــهرت جـــهیل های بند امیر اطلاعی نداشته باشـــــد.

طرفه حکایتی است که گویند در گذشته های دور در بین مجـــــاوران بـــر ســـر عمـــق و ژرفنـــای بند هیبت منازعه یی بر پا شد یکی از جملهء آنها گفت: چقـــــری ایـــن بنـــد پنجصـــد قـــلاچ اســـت دیگری به سه صد و عده یی به دوصد قلاچ حدس و گمـــــان زدنـــد.

بالاخره مردی هوشیاری از بین آنها گفت: بیائید عمق این بنـــــد را بـــا سربســـر کـــردن چندیـــن ریسمان و بستن یك انجام آن به سنگ آسیابی آزمـــــایش کنیـــم: ایشـــان ده ریســـمان ده قـــلاچـــهء علفی را سر به سر گره زدند و یك سر آنرا بر درختی و انجـــام دگر آنـــرا بـــه ســـوراخ پلـــه ســـنگ

آسیا بستند و چندین نفر آن سنگ را مانند عراده یی به سمت پایان جهیل لول دادند. بعد از چند دقیقه ناگهان شدت وزن آسیا سنگ آخرین انجام ریسمانرا از درخت قطع کرد و هم اثری از رسیدن آسیا سنگ در بستر زیرین این بند دیده نشد؛ این به آن مفهوم که عمق بند هیبت بیشتر از صد متر است.

مردان کهنسال مجاور این بند که زمانی آببازان ماهر بودند گفته اند که ارتفاع بند هیبت عمودی نه، بلکه طور مایل است و عمیق ترین نقطهء آن در قسمت سفلی بند مذکور بود که از قسمت بالای این نقطهء عمیق به نام چشمهء شفا فواره میکند و سطح پایانی بند هیبت الی حصه سفلی چشمهء شفا به شکل مایل بوده که پیمایش ارتفاع آن در زیر زمین کاری مشکل است. طوری که گفته شد ژرفای این جهیل قبلاً معلوم نبوده حدسهای گوناگون در بارهء آن زده میشد. مطابق تحقیق برتش و فورستر دانشمند آلمانی عمق جهیل های بند امیر به ٦٤ متر میرسد.

در ماه جوزای سال ١٣٥٦ش یك هیئت وابسته به موزیم موسسهء مطالعات مغاره های جمهوریت سلواك(یکی از جمهوریت های چکوسلواکیا) متشکل از مغاره شناس، غواص، زمین شناس، جغرافیه دان و تخنیکر به افغانستان وارد گردید و سه روز در بند امیر به تحقیق پرداخت و برای معلوم نمودن عمق جهیل به غواصی دست زد و گویا این اولین باری بود که پای بشر بر بستر آب بند امیر گذاشته میشد.

مطابق به اظهار غواصان این هیئت، عمق آب بند امیر به (٣٠) متر میرسد که در بعضی از قسمتها بیشتر از آن نیز میباشد.

یکی از اعضای هیئت گفته بود که هیئت غواصان به خاطر ندارند که در یك ارتفاع سه هزارمتری از سطح بحر به غواصی پرداخته باشند، این کاوش از لحاظ شاخه های گونه گون علوم چون زمین شناسی، زنده جان شناسی، حیات شناسی و جزء اینها اهمیت زیاد دارد...

در این جا ما با چنان پدیده های طبیعی بر خورد کردیم که اگر بگویم در جهان ما یگانه است مبالغه نکرده ام. عضو دگری هیئت اظهار نموده بود که میتوان حدس زد که تشکل پس جهیل ها در ربع اول دورهء آخر جیولوجیکی یعنی پس از ختم دوران چهارم یخچالها صورت گرفته باشد.

نکته یی جالب که در مورد به وجود آمدن جهیل ها میتوان ذکر کرد آن است که این جهیل ها دوره دوم زنده گی را از سر میگذرانند. دلیل این گفته آن است که ما مادهء

تراورتین را که در تشکل این جهیل ها نقش تعیین کننـــــده را دارد پنجـا مـتر بلنـد تـر از سـطح جهیل کنونی یافتیم. این نشان میدهد که این جهیل هـا بـه اوج اصطـلاح بلنـدی خـود رسـیده، پس بنابر آفات و مصیبتهای گوناگون طبیعی از بین رفته و سپس بـار دگر بـه زنـده گی گام نهـاده اسـت.

از بررسی ابتدایی بر میآید که از عمر تشکل دوبارهء این جهیل ها سـه ملیـون سـال میـگذرد. والتر لشیکا عضو محیط شناسی هیئت گفت: ما تا جایی‌کـه آبهـای دریـاچـه هـا و جـهیل هـای گوناگون جهان را مطالعه کرده ایم، آب هیچ جهیل دگر به پاکی و زلالی بنـد امـیر نمیرسـد و ایـن امر از نگاه دانش محیط زیست شناسی و یا ایکالوژی بسـیار جـالب اسـت.

تجارب مستقیم چنین نشان میدهد که آب این جهیل ها درهـر موسـم سـال تقریبـاً بـه یـك پیمانه ظرفیت خود را حفظ میکند؛ که این خود وسیلهء تحقیق بیشـتر بـرای یـك جیولـوژسـت در حصه منبع آبهای ذخیرهء این بندها اسـت.

اگر منبع این جهیل ها چشمه های بستر آنها باشد چرا در موسـم زمسـتان تمام جـهیل هـا را یخ میزنند به قطر حتی یکمتر سطح آن از یـخ مسـتور و مـورد رفـت و آمـد سـوار و پیـاده و ماهی‌گیران محل قرار میگیرد؛ و اگر منبع آنها آب باران و برف اسـت دلیـل چیسـت؟ کـه آنقـدر شفاف ونیلگون است که از عمق چندین متر ماهیان در بین آن بـه چشـم میخورنـد؟

به هر حال. در بین این جهیل ها ماهیان بـزرگ و دگر حیوانـات آبی از جملـه اسـپ آبی نـیز دیده شده اسـت.

حکایت دگر نیز در بین مردم محل مشهور است که گویند زمـانی چنـان قحـط سـالی در آنجـا رونما شد که عده یی از غربا و فقراء از قلت نان و سردی زمسـتان تلـف میشـدند.

مردم محل از گوشت حیوانات اهلی از قبیل گاو، گوسـفند و بـز،گوسـاله اسـتفاده میکردنـد، اما کار به جایی رسید که در دهکده ها مواشی نمـاند. مـردم از گرسـنه گی بـه تنـگ آمدنـد و شب و روز مصروف شکار آهوان کوهی و مرغان دشتی بودنـد؛ ایـن روش هـم سـود نمیبخشـید زیرا تعداد شکاریان بیشتر از آهوان بودنـد.

گویند شبی در قریه جارو کشان(جاروب کشان) که نزدیك بند هیبـت اسـت صـدای مـهیب و سهمناگ شنیده شد و فردای آن شب مردم آنجا مشـاهده کردنـد کـه در حصـه بـالایی جـهیل که از یخ های کلفت زمستانی مانند پوش بلورین احاطه گردیـده بـود نهنـگی را دیدنـد کـه یـخ آب ایستاده را یك طرف پاره کرده خود را از عمق جهیل به سـوی سـطح آن انداختـه اسـت.

بنا بر قحطی که وجود داشت مردمـــان محـل الزامـاً چندیـن مـاه ازیـن گوشـت اسـتفاده میکردند. غرض ازین گفتار اینست که در بین این جهیل هـا ماهیـان خیلـی بـزرگ نـیز موجـود اند.

همچنان یکی از مجاوران آنجا چندین سال قبل اسپ آبی ابلـق را در کنـار آن بنـد دیـده بـود، در موقعی که این واقعه بر شخص مجاور دست میدهد وی با صـداي هیجـان آور دیـگران را صـدا میکند تا این که اسپ دوباره سر به دریا زده از نظرها نـاپدیـد میـگردد.

این وادی زیبا و خوشگوار مملو از آب در سه ماه بهـار و دو مـاه تابسـتان اقلیـم نسـبتاً گرم و معتدل داشته بهترین ایام تفریح و دیدار سیاحان داخلـی و خـارجی اسـت.

این جهیل ها به حیث منابع سرشار اقتصادی از نگاه توریـزم و صنعـت تولیـد بـرق و تربیـهء ماهی یکی از مهمترین و پر استعداد ترین سرمایه های طبیعی مـا در دل کشـور اسـت.

بند امیر در علاقهٔ یکاولنگ در فاصله سی کیلو متری نایك واقع اسـت کـه متشـکل از شـش جهیل طبیعی میباشـند.

این جهیل های ششگانه همواره مملو از آب اند و سـرریزهء آبهـای آن رودخانـه پی را تشـکیل میدهد که از وادی یکاولنگ رو به جانب شمال غـرب و شمـال جریـان میـیابد و آبهـای چشـمه ساران و جوی باران نقاط دگر مـانند دریـای گومـآب، آبشـار غـازی، آب درهٔ کلـو(کـلان)، دریای فیروز بهار، دریاچـهء بـابر دره، آب درهٔ علـی و اوری زاغ، آبشـار درهء بنـدك و مـرغ آواز، دریای سیاه دره و دریاچه گنگ و ینطاق با آب گرم کلیگان و ذولیـج یـك جـا بـا آبهـای کشان و ا یسمیدان و چندین چشمه سـار دگر دره بلخـاب را عبـور نموده در تنـگه پی بوینقـره دریای بزرگی را که معادل هیرمند و یا نصف آمو دریا است به نام دریـای بلخـاب تشـکیل و بـه هجده نهر تقسیم میگردد. این نهرها دشت های وسیع بلخ را سیرآب سـاخته کـه مدنیـت باریـنهء بلخ و سرسبزی امروزی آن مرهون همـین دریاسـت.

حبيب الله رفيع

د پوهاند رښتين پښتني لارښود

[۱]

د تاريخ د لمر څرک نه پخوا، ډېر پخوا چې آريايانو د زمان په تره غونې کې تشکل کاوه نو د اريانا د طبيعي ښکلاوو او د آريانا ويجه په سمسوره غېږه کې يې د خپل خانګړي ثقافت او ښځوب بنسټونه هم کېښودل او د خپلو تجربو په رڼا کې يې د خپل ټولنيز ژوند اساسات هم وټاکل.

دوی خپل کړه وړه (د ژوند اخلاقي اړخونه)، راشي درشي (ټولنيز اړيکې) او راکړې ورکړې (اقتصادي روابط) پر پنځو بنيادونو ودرول او د خپل ژوند په نيمه تاريخي دوره کې چې د تر تاريخ وړاندې او تاريخي دورو تر منځ يوه بله دوره يا د ويدونو دوره ده، د خپل ژوند د اخلاقي ضابطې او اجتماعي اډانې ټينګولو لپاره ويدي سرودونه وويل چې انساني فضايل، اخلاقي نغوتې او معنوي سپېڅلتياوې پکې نغښتل شوې وې او له يوه نسل نه بل نسل ته خوله په خوله پاتې کېدل. همدا وخت يې د خپلې ټولنې ټولنيز جوړښت له لاندې نه په پورته جوړ کړ، " کورنۍ" يې چې کولا "کهول" بلل کېده د ټولنې بنسټ وګرځوله چې پکې پلار د خوړو برابرولو او مور د هغه د عادلانه رسولو مسووله وه، ورپسې تشکل " ګوترا" و او هغه کورنۍ پکې وې چې ځاروي به يې په ګډه اغيل کې درول او مشر به يې د غړيو کورنيو په خوښه ټاکل کېده، دريمه کړۍ يې ګوشتي وه چې د ګډې ورشو خلک به پکې يو ځای وو او يو مشر به يې ورته ټاکه، څلورمه لويه کړۍ يې کرامه وه چې د سيمې معنی يې ورکوله او دې ته به هم د ټولو ګوشتي ګانو په خوښه مشر ټاکل کېده، تر دې لوی تشکل يې ويسه و چې د هغې مشر هم انتخابي و او وروستنی تشکيل يې "جانا" و چې د يوې وړې واکمنۍ بڼه يې درلوده چې په راس کې به يې د " راجان " په نامه ټاکل شوی مشر درلود.

ورو- ورو چې د آريايي ټولنې اجتماعي او سياسي جوړښتونه نور هم پراخ شول نو بيا يې د" سبها " او" سميتي " په نامه دوې جرګې هم را منځ ته کړې چې لومړې جرګه به د کلي او سيمې وړې پېښې فيصله کولې او ځانګړې ټاکلې خونه يې درلوده چې نارينه وو او ښځو به ګډه پکې برخه اخيسته او ترې بره "سميتي" وه چې مشران به پکې را غونډېدل، د هيواد په سطحه پېښې به يې پکې فيصله کولې او باچا به هم پکې ټاکل کېدلای شو.

د"سامانه" ميله د دوی د اجتماعي کړو وړو يو بل تولید ځای و، دلته به بالغو ځوانانو ته کمربندونه ور تړ ملا کېدل او تر دې وروسته به دوی ته د ټولنيزو چارو مسووليت ور په غاړه و چې خبرې به يې سنجيدلې او ګامونه

به يې شميرلې وو. د ودونو بنيادونه هم د ځوان او پيغلې په خوښه په همدې کلتي ميله کې ايښودل کيدل او بيا به کورنيو د درنو دودونو هسک ته د ګرد وچتوونکو اتڼونو په ترڅ کې هغه لمانځل او تر سره کول.

[۲]

کله چې زرګونه کلونه وړاندې " يما " په بلخ کې د پيشداديانو د واکمنۍ ډبره کښيښوده او په بلخ کې د دې خواکمنې واکمنۍ لوړ لوړ بيرغونه رپانده شول د "پښتون "، "پښتو"، "پښتونولی" او پښتني خاورې" د تشکيل او را منځ ته کيدو نخښې نښانې هم را بر سيره شوې.

پښتنو د خپلو آريايي پلرونو ټول ميراثونه خپل کړل، د بلخ- بخدي، پښتني نوم د دوی له نامه سره وتړل شو او بيا کله چې د هندو کش نه را وښتل او جنوب ته را وليږديدل نو د همدې نامه په بنسټ يې پښتونخوا ودانه کړه، دوی د ويدي سرودونو په بنسټ خپلې سندرې، لکه د ميندو او ماشومانو سندرې، لنډۍ، نارې، سروکې او نور را ونښلول چې لا تر اوسه د ويدي سرودونو غوندې خوله په خوله او سينه په سينه را ليږدي، دوی اريايي دودونه او نرخونه چې د راشې درشې او راکړې ورکړې لپاره را منځ ته شوي وو د پښتونولۍ په نامه تنظيم کړل او پخې تيرې، نرخونه، دودونه او نور يې د خپل ژوند د سمون او د خپلې ټولنې د نظم ساتلو لپاره د يوه نا ليکلی قانون په توګه خوندي کړل او دا دي تر موږ پورې په همهغه معنوي بڼه را رسيدلې او د کانې د کرښې په توګه را پاتې دي.

پښتون وپنځيد او تر پښتون را لاندې پښتني قبيلې يوه په بله پسې همهغه د بلخ د استوګنې له وخت نه را پيدا شوې، د اروا ښاد استاد کهزاد د وروستي دور تحقيق له مخې ګرشاسپ يا ويشتاسپ همهغه د پښتون د کورنۍ يو نامتو پلار " غرغښت " دی چې د زردشت د را ښکاره کيدو پر وخت د وخت پاچا و، پرده وګروهيد او د ده دين ته يې وده او پراختيا ورکړه، همدا راز د سيستان او نيمروز واکمن اتريت د پښتنو مشهور نيکه بيټنی او د کاولستان او زاولستان د پاچا کورنګ شاه زوی سرند همهغه پښتون" سړ بن" دی چې د سړبني پښتنو لوی نيکه باله شي. همداراز همداوخت د اپاريتي (اپريدی)، بيسايا (بړيخ) وردهکار (وردګه ساکا (سهاک)، سپاسی (اسپزي) او نور پښتني قومونه هم د پيښواوسندونو له غيږې نه سر را پورته کوي او په دې توګه د پښتون لوی قام له خپلو قبيلو سره پنځيږي او د تاريخ په پاڼکو کې خپلې نخښې او ګامونه را پريږدي.

[۳]

هو! دا ټول هغه مسايل دي چې خيړل، خيړل، ګرويږل او پلټل غواړي او له نيکه مرغه د نولسمې او شلمې پيړۍ په اوږدو کې د پښتون، پښتو، پښتونولۍ او پښتونخوا پر ټولو موضوعاتو باندنيو او کورنيو پوهانو پر له پسې څيړنې او ليکنې کړې او دا کار لا روان دی کيږي.

لومړی خل ختيځپوهانو دې راز علمي څيړنو ته لاس غځولی چې له يو لړ تيرو تنو او تيرو ايستنو سره – سره يې سعی مشکوره او زيار د ياد وړ دی! بيا چې کله په افغانستان کې د پښتو غورځنګ پيل شو او پښتو مرکه وروسپې پښتو ټولنه جوړ شول، پښتو ليکوالو هم پر يادو شويو موضوعاتو څيړنې پيل کړې چې په تيرو پنځوسو کلونو کې اروابناد علامه حبيبي، اروابناد استاد خادم، اروابناد استاد پژواک، اروابناد استاد کهزاد، اروابناد استاد الفت او زموږ مشر او درون ليکوال پوهاند صديق الله رښتين د دې ډول څيړنو سر لارې او مخکښان دي. دوی پر تيارو لارو ډيوې کښيښودې او موږ يې پر تيارو لارو روان کړو.

په ځانګړې توګه پښتونولي چې د پښتنو د عاداتو او معاملاتو له ټولو اړخونو یې غېره را چاپېره ده، یوه جالبه موضوع ده چې هراړخېزې او څو اړخیزې څېړنې غواړي. په لومړي سر کې په زړه آریایي ټولنه کې د دې نخښې لټول په کار دي، بیا د پښتنو په بیلابیلو قومونو او قبیلو کې د دې دودونو، نرخونو او حقوقي تعاملاتو پر توپیرونو بحث په کار دی، بیا یې عملي اړخ د څېړنې وړ دی او بیا یې له نړیوالو حقوقي، قانوني او مذهبي تعاملاتو او قوانینو سره پر تلیزه څېړنه، چې پر دې هره برخه څه نا څه خو ګډې وډې څېړنې شوي دي.

[۴]

د پوهاند صدیق الله رښتین پښتني لاربنود د پښتونولۍ د ټولو اړخونو، کړو وړو، راشو درشو او راکړو ورکړو یو ویر او هر اړخیز لار ښود دی چې په ځای په ځای پر تاریخي سوابقو هم نظر ساتي او پر پښتونولۍ د اوړدو او پلنو څېړنو لپاره د کار یو پلان هم دی.

دا کتاب د پښتني خویونو په برخه کې د پښتنو کړه وړه سپړي د پت او عزت، ښېګڼې او نیکۍ، وعدې او وفا، تورې او میړانې، ننګ او غیرت، رښتیا او صداقت، زړورتیا او همت، انصاف او عدالت، شرم او حیا، ښې خوانۍ او سخیتوب، امانت ساتنې، سلا او مشورې اصلونه او ارزښتونه په وجیز ډول څېړي او د دې اوږدې کلاوې سر د راتلونکو څېړونکو په لاس ورکوي او د دې مرغلین مزي د لاغځولو لاره ورته پرانیزي.

کتاب د پښتني دودونه په برخه کې د پښتنو د راشې درشې اصلونه او ارزښتونه تر څېړنه لاندې نیسي او په جرګه، مرکه، تنواتې، تیره، سوله او روغه، پناه ورکولو، ننګ ور وړلو، د ښځو درناوي، غزا او جهاد باندې خبرې کوي او په دې برخو کې د پښتنو رواجونه او وروونه په نخښه کوي.

د دوی د کتاب دریمه برخه د پښتنو د راشو درشو ټولنیز اړخونه او د راکړو ورکړو اقتصادي اصلونه شمیري او په بدرګې، بدل، برمتې، داړې، ناغې، بندن، چیغې، یرغمل، تره ترون، پیغور، د کارونو ویش، اشر، د وطن ساتنه، بسپنه او مرسته، میلمه پالنه، د مشرانو منڼه، د مشر خوښونه، ځلوېښتیان، سوګند او لوړه، ګوندي او پره، کونتون، د اولاد روزنه، خوراک او پوښاک، روغبړ او ښه راغلې، خپلوي او خیښي، ګاونډیتوب، د لارې ټګ، د رنځور پوښتنه، اختر او میلې، لوبې او سپورټ، د خمکې خرخون، د مړي لاس نیوه، د مړي خیرات، ویروسی، عام خیراتونه، پلارنۍ هدیره، میراث، زیارتونه، د جومات او ملا لمانځنه، د حاجیانو لمانځنه، د واده چارې، د ځمکو ویش، د کورونو ویش، ډ بو ویش، ورشوګانې او سزاګانې تر لویو او وړو سر لیکونو لاندې له پښتونولۍ سره اړوند مطالب او اړخونه څېړي، شمیري او زموږ مخې ته یې ږدي.

پدې ترتیب د پوهاند صدیق الله رښتین دا کوچنی کتاب د پښتونولۍ کلیات په خپله غېره کې را نغاړي او د دې لاره هواروي چې راتلونکې څېړونکي د همدې لاښود په رڼا کې د پښتونولۍ په جزئیاتو پسې لټون او پلټون وکړي او د دې جوړې کړې نقشې د پاسه د پښتونولۍ ماڼۍ له خپلې ټولې ښکلا سره ودانه کړي او د نړیوال تمدن له ظاهراً ځلیدونکو او بلیدونکو دنګو ماڼیو سره یې د پرتلنې او مقایسې ډګر ته را وباسي. پدې توګه د پوهاند رښتین دا کوچنی او وجیز کتاب به د پښتونولۍ د پولو ټاکلو په برخه کې د لوی، ویړ او غوریدلي کتاب کار وکړي او علاقمندان به د پښتونولۍ د دنګ قد او قامت ننداري ته را بولي.

سر محقق محمد محسن فرملی

نقش وسایل ارتباط جمعی در تعیین تاریخ آینده و ملل

تاریخ بیان وقایع گذشته انسان است . مسلماً در پرتو بررسی پیشینه های ملت خود میتوان کم و کیف زنده گی موجود را آگاهانه به تحلیل و تفسیر گرفت و به پیش بینی آینده پرداخت. همانگونه که محتوای همه داشته های تاریخی شامل اسناد به جا مانده (Remains) و آثار روایتی (Traditions) ، (شفاهی، تصویری و کتبی) نه تنها مبین تاریخ گذشته های ما استند و زنده گی موجود ما در ژرفنای محتوای آن شکل یافته است، بلکه مبانی تاریخ آیندهء ما نیز بر شمرده میشوند.

بنابر آن بدین باور داریم که وسایل ارتباط جمعی با آنکه ساحهء به ویژه مطالعات انسانی را تشکیل میدهد، اما در عین حال بهترین اسناد و مدارك تاریخی را در لای خود نهفته دارد که همهء آن میتواند مردم موجود و آینده را به رویداد ها و وقایع پیشینهِ های شان در تماس دایمی آرد. روزنامه ها، جراید، مجلات، رادیوتلویزیون، کتب، تصاویر، درامه، خطابه ها، گزارش ها، پارچه های هنری، موسیقی و شمار دگری همه اسناد و مدارك تاریخی سه گانهء " شفاهی، تصویری و کتبی " اند که با کار برد آن به آینده گان تصویری روشنی زنده گی گذشته و موجود به شمار میآید.

از آنجهت است که امروز وسایل ارتباط جمعی در جهانی که به سر میبریم در عرصهء باز تاب دهی زنده گی اجتماعی، سیاسی و فرهنگی ملل جایگاه ویژه و مقام بلند بالایی یافته است.

از آنجهت که رشد و فراگیری نمودن وسایل ارتباط جمعی و کاربرد تکنالوژی در مورد در قرن حاضر از ویژه گیهای خاص برخوردار است. اشتیاق به دانستن ارزشهای هنری، ذهنی، طرزاندیشه رسم و رواج فوکلور و سایر جلوه های فرهنگی پیشینیان در شیوهء زنده گی و دگر شوون اجتماعی خود و ملل دگر موثرترین مدارك ذهنی و انتباهی برای آینده گان به خاطر تعیین راه و رسم زنده گی شان شناخته میشود.

با توجه به مطالب فوق گفته میآید که استفاده از وسایل ارتباط جمعی و بررسی مطالب آن بر مبنای نگرش انتقادی و تحلیل و تفسیرهای علمی از آن پیگیری روابط و پیوسته گی غیر قابل انکار آن با رشد ذهنی، فکری، تربیتی و گسترش اندیشه های مهم در اثر نوسازی و نو آوری و گذشتن از مراحل زنده- گی یکنواخت و (Static) و آهنگ به سوی یك زنده گی متحول و (Dynamic) مبنای تاریخ آیندهء ملل را روشن میسازد. در جامعهء مثل جامعهء مان که از نوآوری میترسند و به آن به نظرشك و ظن میبینند و مردم به اندازه یی زبون و بیچاره شده که حتی قادر نیستند که برای رفع احوال نامناسب زنده- گی خویش عملی را انجام دهند، در جامعه یی که انسان همه چیز را به مقدرات بدون آن که خود در تعیین و تغیر آن دست اندر کار باشند، میسپارند و به اعتبار کار ایمان ندارند و بالاخره در جامعه یی که خود فورمول بندیهای ضد باروری و اندیشهء قهقرا جویی و تنگ نظری و شمار دگری مسلط باشد، نقش رسانه های گروهی به خاطر تغییر ذهن او اندیشه فرد و افراد و جلب تمایل آنها به سوی ارتقا پسندی و تعالی جویی که شعار انسان مدنی است خیلی برازنده ارزیابی شده است.

مسلماً در بیداریهای ملل آسیایی، افریقایی و امریکای لاتین نقش مطبوعات به مثابه بهترین مدارك تاریخی و انتباهات از گذشته به خاطر راه اندازی جنبشهای انقلابی و آزادیخواهی در نهایت درد به خور بوده است. چنان که ابراهیم رشید پور درمورد می نویسد: " در هر یك از نقاط خاور میانه، آسیا، افریقا و امریکای لاتین انجام تحقق عملی به بهترین نحو رابطه رشد ملی و باخبر گشتن مردم از آنچه در جهان ایشان میگذرد (به کمك وسایل ارتباط جمعی) به اثبات میرساند. هر گاه ما تاریخ را شناسنامهء ملتها بنامیم و با شناسایی گذشته بتوانیم زنده گانی حال وآینده را بهتر درك کنیم رسانه های گروهی به مثابهء بهترین مدارك و بازگویندهء شکل بندی تاریخ آیندهء ملل به شمار میاید مسلما در پرتو آن نظم اجتماعییکه در نتیجه آن خلاقیت فرهنگی امکان پذیر میگردد برای آینده گان میسر میشوند. مجید یکتایی در تعریف فرهنگ میگوید: وضع اجتماعی بشری با در نظر گرفتن اوضاع سیاسی و اجتماعی و پیشرفت آن در علم و دانش و ذوق و هنر و خلاصه ترقیهمه گانی است.

نگرش به اوراق تاریخ و تکوین فرهنگ آنان مارا بدین باور میآورد که پنج بنیاد تاریخ ساز انسان "زبان و دین، خط و عدد نویسی، دانش و تکنالوژی و هنر و صنعت" در واقع زیر بنای وسایل ارتباط جمعی بر شمرده میشوند.

زبان: استعداد، سخن گویی و نـگارش و انـدازه گـیـری و سـازنده گی در امـر تفاهم از دیر زمان به اینسو با آدمی بوده است، پس آن گاهی کـه انسـان بـه حیـات اجتماعی روی آورده، نیازمندی به زبان بیشتر شده اسـت نقـش زبـان درشـخصیت و تمدن تاریخ سازی انسان آنقدر دارای اهمیـت بوده اسـت کـه انسـان را حیـوان ناطق گفته انـد.

دین: پرورش عقاید دینـی در آدمـی از نخسـتین روزگاران زنـده گی اجتمـاعی محسوس بوده است. دین و عقیده در پهلوی این کـه تبعیـت از اوامـر خداونـد بـوده است تمثیل عقاید دینی موجبات بـس فـراورده هـای هـنری، معمـاری، اندیشـه، و تفاهم مشترك شده است. همانگونه که دین مقـدس اسـلام همـواره، موید، حـامی و تضمین کنندهء ارزشهای مطبوعات بوده، در رونـد تکـاملی وگسـترش آن هیچگونـه موانع را ایجاد نکرده اسـت.

خط و عدد نویسـی:

خط یك پدیدهء برزگ تمدن بشری است که سـرآغاز تـاریخ بـه شـمار مـیرود. انسان توسط اشکال و حروف خطی توانسته اندیشـهء پنـدار و تصـورات خـودرا بـه دگران بیان کند. باز مانده های خطی همه در اعمار تاریخ آینـدهء ملـل اثـرات بـس شـگرفی دارد.

عدد نویسی: شمار نویسی یکی از پدیده های تـاریخی بشـری اسـت کـه بنیـاد دانشهای ریاضی و مباحثات نجومی و آمارگیری براین بـافت یافتـه اسـت.

علـوم:

مسلماً تمدن بشری بر پایه دانشـها و دانسـتنیها و شناسـاییها بنـا شـده اسـت. وسایل انتقال دانش و علـوم همـه عنـاصر اطلاعـاتی شـمرده میشـوند. بنـابر آن گسترش تاریخ و فرهنگ انسـانی کـه بـه آینـده گان بـه ودیعـه گذاشـته میشـود، بیگمان در تعیین راه رسم زنده گانی آینده ملل تـاثیر بـه سـزایی دارد.

صنعت و هـنر:

هنر از پدیده های عظیم و تاریخی انسان است . انسان از دیر زمانی به تراش سنگ و صیقل آن، کلالی، نقاشی، آرایش و رقص و آوازخوانی‌سرو کار داشته، بازمانده های هنری و صنعتی در تکوین تاریخ موجود و آینده انسان اثرات عظیم دارد.

از گفتار بالا این گونه نتیجه گیری مینمایم که عناصر عمدهء فرهنگ و مدارك تاریخ ملل، وسایل ارتباط جمعی به شمار میرود که از نسل به نسل به مثابهء میراثهای اجتماعی و تاریخی انتقال میکند. به گونه یی که از گذشته ها به ما رسیده و آینده گان از ما به ارث میبرند، همهء آن بنای تاریخ ملل به شمارش میآیند.

بنابرآن بر حکومات است که وسایل ارتباط جمعی کشور را دست خوش خواستهای تبلیغاتی و پخش اخبار جعلی و تحریف شدهٔ خویش نساخته، بلکه از آنچه است گسترش دهند و آنرا به موازین و معیار های بین المللی آراسته سازند تا بتوان از رسانه های گروهی کشور به گونهء اسناد و مدارك معتبر تاریخی در روال روشن ساختن حقایق و رویدادهای زنده گی ملی بهره گیریم.

همان گونه که وسایل جمعی را به حیث بهترین و موثر ترین منابعی‌در تعیین تاریخ آینده ملت خویش توان به کار بست.

و من الله توفیق.



اروانباد پوهاند رښتین د خپلو آثارو په هنداره کې

د آزاد افغانستان مجله په ډېره خواشینۍ د افغانستان د نوميالي فرهنګي شخصیت او د پښتو د ناستو څېړونکي او ژبپوهاند، پوهاند صدیق الله رښتین د غمجنې مړینې خبر خپروي.

پوهاند صدیق الله رښتین د روان میلادي کال د نوسبر په ۲۶مه نېټه ـ د روان لمريز کال د لیندۍ په ۵مه نېټه د پېښور په یو روغتون کې د ور پېښې ناروغۍ له امله د ۷۹ کالو په عمر وفات شو (انالله و انا الیه راجعون).

د لیندۍ په ٦مه د رواښاد جنازه د پېښور په حیات اباد کې وشوه، د جنازې تر لمانځه وروسته سناتور استاد اجمل خټک او کاندید اکادمیسن پوهاند دوکتورالهام د پوهاند رښتین د ژوند او فرهنګي کارونو په باب خبرې وکړې او د دو مړینه یې یوه فرهنګي ضایعه وبلله. وروسته د پوهاند رښتین دوو زامنو پوهنمل شیر خان رښتین او ښاغلي فضل الله رښتین خبرې وکړې او د دوی تر خبرو وروسته د ده جنازه ننګرهار ته انتقال شوه.

د پوهاند رښتین د جنازې او د جنازې د انتقال په مراسمو کې د افغانستان او پښتونخوا ځینو سیاسي او فرهنګي مشرانو، لیکوالو، شاعرانو، د افغاني فرهنګي موسسو استازیو او مشرانو د پېښور د پښتو اکادمۍ مشر دوکتور راج ولیشاه خټک، غړیو او نورو دوستانو برخه اخیستې وه.

د اروانباد پوهاند رښتین جنازه ننګرهار ته له لېږدولو وروسته په بهسودو کې خاورو ته وسپارل شوه. د جنازې د ښخولو په مراسمو کې د ننګرهار ځینې شاعران، لیکوال، د ساینږد روښان پوهنتون ځینو استادانو، قومي مشرانو او سپین ږیرو ګډون کړی و.

د اروانباد پوهاند رښتین فاتحه د روان میلادي کال د دسمبر په ۳مه د ۱۳۷۷ش کال د لیندۍ د میاشتې په ۱۲مه نېټه د پېښور په سپین جومات کې ور اخیستل شوه. په فاتحه کې یې ډېرو افغانانو او د پښتونخوا خلکو برخه واخیسته.

د فاتحې په پای کې د افغانستان د مطالعاتو مرکز رئیس پروفیسور عبد الرسول امین او قاضي محمد امین وقاد د اروانباد پوهاند رښتین د ژوند پر ځینو څنګونو رڼا واچوله. ...ده بدل یې د افغان خوانانو په روزنه او د فرهنګ په پیاوړتیا کې وستایه. په دوی پسې د استاد رښتین مشر زوی ښاغلي فضل الله رښتین له ټولو هغو کسانو نه د زړه له کومې مننه وکړه چې د استاد د ناروغۍ په دوران کې یې د دوی پوښتنه کړې وه او هم ټولو هغو ښاغلیو ته یې کور ودانی و وایه چې د اروانباد استاد رښتین د جنازې او فاتحې په مراسمو کې ګډون کړی و. د اروانباد پوهاند رښتین فاتحې په کابل او

جلال اباد کې هم واخیستل شوې. مور د آزاد افغانستان د مجلې په دې ګڼه کې د نورو مقالو تر څنګه د ده پر ژوند او آثارو کتنلې شوې دا لیکنه هم خپروو:

پېژندنه: اروابناد پوهاند صدیق الله رښتین د ده د خپلو لیکنو له مخې په ۱۳۳۵ھ ق= ۱۲۹۸ش کال شاوخوا د مولوي تاج محمد (مهتمم صاحب) په کور کې زو کړې دی. د زوکړې ځای یې د مومندو سور کمر او په خپله سلیمان خیل دی. ده لومړنی زده کړې په خپل کور کې کړې دي او نورې یې د ننګرهار د هډې په نجم المدارس او د کابل په عربي دارالعلوم کې وکړې. دی په ۱۳۱۱ش کال په نجم المدارس کې شامل شو او په ۱۳۱۵ش کال کې کابل ته ولاړ او په عربي دارالعلومو کې شامل او په ۱۳۱۸ش کال کې ترې فارغ شو له فراغت سره سم په همدغه ۱۳۱۸ش کال کې د پښتو ټولنې په غړیتوب ومنل شو. او له همدې وخته د ده رسمي کار پیل شو. ده ته په پښتو ټولنه کې بیلا بیلې چارې سپارل شوې وې. په ۱۳۲۰ش کال کې د پښتو ټولنې د قواعدو د څانګې مدیر مقرر شو، په ۱۳۲۱ش کال د پکتیا د جریدې موسس او لومړنی خپرونکی، په ۱۳۲۲ش کال کې د پښتو دایرة المعارف د ترجمو د څانګې امر، په ۱۳۲۵ش کال د مطبوعاتو د ریاست د نشریاتو د اولې څانګې مدیر، په ۱۳۲۶ش کال د فراه د سیستان جریدې لومړنی خپرونکی او موسس، په ۱۳۲۷ش کال د پښتو ټولنې مرستیال او د پښتو دایرة المعارف امر، په ۱۳۲۹ش کال د پښتو ټولنې د مرستیالۍ او د پښتو آریانا دایرة المعارف له امریت سربېره د هیواد د اخبار چلونکی هم و، په ۱۳۳۰ھ ش کال د پښتو ټولنې لوی مدیر، په ۱۳۳۴ش کال د پښتو ټولنې رئیس، په ۱۳۳۵ش کال د پوهنې وزارت سلاکار او د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي استاد و.

ده ته په پوهنتون کې د استادۍ د سابقې په لړلو (له ۱۳۲۵ش کال نه نیولی) لومړی د پوهنوال او بیا په ۱۳۴۰ش کال کې د پوهاند علمي درجه ورکړل شوه.

پوهاند رښتین ته په ۱۳۴۲ش کال بیا د پښتو ټولنې ریاست ور وسپارل شو او د ۱۳۵۲ش کال د زمري تر میاشتې پورې د دې ټولنې رئیس و بیا یې تقاعد وکړ.

پوهاند رښتین د خپله رسمي کار په دوران کې پخوانی شوروي، مصر، هند، ایران، پاکستان او د پښتونخوا سیمو ته سفرونه کړي دي. په دغو سفرونو کې یې د پښتو ژبې، د پښتو ادبیاتو او د پښتنو د تاریخ په باب کنفرانسونه ورکړي دي. پوهاند رښتین له خپلې مورنۍ ژبې (پښتو) سربېره په دري، عربي او اردو ژبو پوهیده. لیکنې یې زیاتره په پښتو کړې دي. په دري ژبه هم اثار لري او په عربي یې ځینې مقالې لیکلې او خپرې شوې دي.

آثار، تالیفونه او ترجمې:

اروابناد پوهاند صدیق الله رښتین له ۱۳۱۶ش کال د نظمونو په ویلو پیل کړی دی او په دې کال یې یو نظم په اصلاح ورځپاڼه کې خپور شوی دی. نو بنا پر دې یې مور د ادبي فعالیت پیل ۱۳۱۶ش کال ګڼو.

ده له ۱۳۱۶ش کاله د ۱۳۷۷ش کال تر اواسطو ـ مانا دا چې ترخپلې مړینې څومیاشتې د مخه لیکل کړي دي او پدې حساب ده د خپل ژوند ۶۱ کاله فرهنګي فعالیت کړی دی.

ده د خپل فرهنګي فعالیت له پیله له لیکلو او ښه ویلو سره مطالعه هم کوله او له دې لارې یې د خپلې مطالعې دایره پراخوله. اروابناد پوهاند رښتین په دې دوران کې د ادبپوهنې په ځینو څانګو، د ژبپوهنې په ځینو څانګو، کلیوالي فرهنګ او هنر، تاریخ او سیاسي - ملي مسایلو لیکنې کړې دي. سفر نامې او ډرامې یې لیکلې، نظمونه او منثورې پارچې یې لیکلې او درسي کتابونه یې د افغانستان د پوهنتون، ښوونې او روزنې او

پښتو کورسونو لپاره تهیه کړي دي. ده په دې کابو څه د پاسه ٦٠ کلن فرهنګي فعالیت کې په سلګونو یادداشتونه، تبصرې، سرمقالې، رسالې او کتابونه لیکلي دي. چې زیاتره په هیوادنیو موقوتو خپرونو کې چاپ دي. ځینې رسالې او کتابونه یې مستقل چاپ شوي دي.

استاد رښتین د ۱۳۴۰ش کال په شاوخوا کې د خپلو مقالو او لیکنو شمیر اته سوه ښوولې ده، نو طبیعي ده چې له هغې نیټې وروسته به د ده د ژوند په پاتې ۳۷ کلونو کې دوی ډیرې نورې لیکنې هم کړې وي او دې شمیرې تغییر کړی دی.

دلته موږ د دوی هغه اثار یادوو چې مستقل چاپ شوی دی او دا معرفي به د دوی د اثارو د موضوعي ویش له مخې وي:

د ژبپوهنې څانګو ته مربوط اثار: استاد رښتین د خپل ژوند په اوږدو کې د ژبې مطالعې او ښنې ته ډیره توجه کړې وه، د دې پوهنې په بیلا بیلو څانګو کې یې د مقالو او رسالو تر څنګه ځینې کتابونه هم کښلي دي، چې د ده د اثارو پیژندنې په سر کې موږ د دې څانګې کتابونه در پیژنو:

(۱) – د پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه: دا کتاب ۹۴ مخه په ۱۳۲۷ش کال د پښتو ټولنې له خوا د کابل په عمومي مطبعه کې چاپ شوی دی. د پښتو د ار پوهې او ترکیبو په څیړنو کې یې له موادو ډیر استفاده کیدلای شي.

(۲) – د پښتو لوی ګرامر: د پوهاند رښتین د خپلې لیکنې له مخې د دې ګرامر د اول او دویم ټوک درې برخې یې په دري ژبه لیکلې دي. څلورمه او پنځمه برخه یې پښتو لیکلې دي.

د دې ګرامر لومړی جز اول ځل په ۱۳۲۷ش کال په کابل کې چاپ شو او دویم جز یې په ۱۳۷۰ش کال د افغانستان د ښوونې او روزنې وزارت خپور کړ. د پښتو لوی ګرامر لومړی جز (په دري ژبه) په ۱۹۸۹م کال په پېښور کې د یونیورستي بک ایجنسی له خوا خپور شوی دی. ښاغلی سید محی الدین هاشمي د استاد رښتین د پښتو لوی ګرامر دوارې جزوې له دري نه په پښتو اړولي او د پښتو ګرامر په نامه په پېښور کې د یونیورسیتي بک ایجنسی له خوا په ۱۳۷۲ش کال چاپ شوی دی. مخونه یې ۴۸۹دي. د دې دواړو جزوو ژباړن ښاغلی محی‌الدین هاشمي پردې ترجمه په خپله کښلي مقدمه کې لیکلي دي: "د کتاب نحوي برخه پوهاند صاحب په پښتو لیکلې او له دویم ټوک سره د ضمیمې په توګه چاپ شوې ده".

دا ګرامر له مقدماتي خبرو، ژبه، د پښتو ژبې او پښتو ګرامر[illegible] تاریخچې سربیره د رغپوهنې مباحث پر صرف او نحو، د پښتولهجوُ لیک ښود، لیلدود هم بحثونه [illegible] لري.

(۳)– د پښتو لومړی لارښوونکی: یو تطبیقي در[illegible] ګرامر دی او په ۱۳۲۶س کال په کابل کې د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی. باید ووایو چې په اوسنی لیکوال کې د دې کتاب نوم د پښتو کلي لومړی لیار ښوونکی راغلی دی. (۴۷۸/۱) خو د پښتو نثر هنداره (۳۶۵مخ) او پښتو ګرامر (۱۹ مخ) کې د پښتو لومړی لارښوونکی په نامه معرفي شوی دی.

(۴)– ژبښودنه: یو درسي ګرامر دی چې په هغه کې پر صرفي قواعدو برسیره د املا او رسم الخط اصول او قواعد هم بیان شوي دي. دا کتاب په ۱۳۴۱ش، ۱۳۴۲ش او ۱۳۴۷ش کالونو درې خله په کابل کې د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی.

په پښتو پانګه (۱/۲۱۰) کې د دغه کتاب د ۱۳۴۱ش کال چاپ معرفي شوی دی. مخونه یې ۱۰۴ ښوول شوي دي او دایې ویلي دي چې دا ګرامر درې برخې لري: ژب دود، لیک دود او دریمه برخه یې لیک ښود.

(۵)- د پښتو مصدرونو لارښود: دا کتاب د پښتو مصدرونو لارښوونه کوي او د مصدرونو یو لست وړاندې کوي. دا کتاب په ۱۳۴۴ش کال کې ۲۴مخه د پښتو ټولنې له خوا د پوهنې په مطبعه کې چاپ شوی دی.

(٦)- نوې څېړنه: د دې کتاب د معرفي په باره کې استاد رښتین د همدغه کتاب په مقدمه کې لیکلي دي "...بیا مې د مقالو په شکل د پښتو کلمو د څېړنې لړۍ جاري وساتله او کله کله به مې یوه نیمه مقاله لیکله او خپروله. څومره څېړنې او پلټنې چې د پښتو کلمو د ریښو، ارې او بنسټ په باره کې شوې دي او مقالې پرې لیکل شوې دي هغه ټولې مقالې اوس په دې کتاب کې غونډې شوې دي". دا کتاب ۱٦۱مخه د یونیورسټي بک ایجنسي له خوا په پېښور کې چاپ دی. د چاپ کال نه لري. ټولې ۲۳مقالې پکې راغلې دي او لنډه مقدمه پرې ارواښاد پوهاند رښتین په ۱۳۵۸ش کال کې لیکلې ده.

(۷)- لرغوني پښتو: دا کتاب دوې برخې لري، یوه برخه یې د پښتون او بله برخه یې د پښتو بحث ته وقف شوې دي او ارواښاد مولف په دواړو برخو کې څېنې ژبنې او تاریخي تحلیلونه وړاندې کړي دي. د دې کتاب په اوله برخه کې یو بحث دادی: (په پښتو کې پخوانیو آریایانو خویونه او دودونه) دا کتاب ۱۴۳ مخه به ۱۳۷۳ش کال یونیورسټي بک ایجنسي په پېښور کې چاپ کړی دی.

دادبپوهنې څېنو څانګو ته مربوط اثار: پوهاند رښتین په څېړنزو کارونو کې د ژبنیو څېړنو او یا د ژبپوهنې د څېنو څانګو په برخه کې دکتابونو، مقالو او رسالو د لیکلو تر څنګه د ادبپوهنې په ښایسته ډېرو اصلي او فرعي څانګو کې ډېرې څېړنې کړې دي چې موږ یې د چاپ د کال له مخې دغه اثار دلته ښیو:

۸- پښتانه شعرا دویم ټوک: پښتو ټولنې په ۱۳۲۰هـ ش کال د پښتانه شعراؤ د چاپ لړۍ پیل کړه. د دې لړۍ لومړی ټوک (د علامه حبیبي) په همدې ۱۳۲۰هـ ش کال چاپ او خپور شو. دوهم ټوک یې چې استاد رښتین را ټول کړی، لیکلی او سره ترتیب کړی ۲۸۹مخه په ۱۳۲۱هـ ش کال د پښتو ټولنې له خوا د کابل په عمومي مطبعه کې چاپ شوی دی. په دې ټوک کې دهغه زمان د شتو معلوماتو پر بنیاد د ۱۱۰ تنو شاعرانو شرح حال او د کلام نمونې راوړل شوې دي.

۹- د پښتو د ادب تاریخ : دا کتاب دوه څله چاپ شوی دی. یوځل په ۱۳۲۵هـ ش کال او دویم ځل په ۱۳۳۲هـ ش کال ۱۸۸مخه خپور شوی دی. دغه ادبي تاریخ د هغه زمان له شرایطو او په سیمه کې د ادبي تاریخ لیکنې له مروجو دودونو سره سم د یوې څانګړې دوره بندي په چوکاټ کې لیکل شوی دی. د پښتو د ډېرو لیکوالو له آثار او نومونو سره لوستونکی اشنا کوي او لازم معلومات په لنډ ډول پکې وړاندې شوي دي. دا کتاب یو وخت د افغانستان د معارفو په نصاب کې شامل و.

۱۰ - د عبدالحمید دیوان: د عبدالحمید مومند دیوان په تحقیقي بڼه له مقدمې او حاشیو سره اول ځل د استاد رښتین په همت چاپ ته تیار شوی او چاپ شوی دی . ده دا متن د ورته مسیرو، چاپي او خطي نسخو له مخې برابر کړی‌دی. دا دیوان ۱۵۴مخونه په ۱۳۳۱ش کال د پښتو ټولنې له خوا په کابل کې چاپ او خپور شوی دی.

۱۱ - باز نامه : د خوشحال بابا بازنامه هم لومړی ځل استاد رښتین چاپ ته اماده کړې ده. د ده مقدمه، حاشيې او جوړه کړې لغتنامه هم ورسره مله دي. دا بازنامه په ۱۳۳۲هـ ش کال ٦۸مخه د پښتو ټولنې له خوا په کابل کې چاپ او خپره شوې ده. د خوشحال بابا بازنامه د باز ساتنې، پالنې، روزنې او د باز د ښکار او د باز د روغتيا په باب خبرې لري.

۱۲ - د پښتو عروض: د پښتو دغه زوړ متن هم اول ځل د استاد رښتين په همت چاپ ته اماده او خپور شو. د پښتو عروض د احمد شاهي دوران د ليکوال ميا شرف ننګرهاری الکوزی تاليف دی. دا متن د ده له څېړنو او کتنو سره په ۱۳۴۴هـ ش کال پښتو ټولنې چاپ او خپور کړ. ټول مخونه يې له تعليقانو سره ۷۲ دي.

۱۳ - د اشعارو ډولونه: دا کتاب درې عمده برخې لري : ولسي سندرې، عروضي شعرونه او دريمه برخه کې داوړ مضمونونه راوړل شوي دي؛ د پښتو شعر معنوي ډولونه ، وزم پوهنه ، قافيه پوهنه او شعري غلاوې . د دغه اثر بنسټ د استاد رښتين د (پښتو ادبيات) په نامه مقاله جوړه ده، چې په ۱۳۱۸ش کال په کابل کالنۍ کې خپره شوې ده. بيا په ۱۳۳۴ش کال ده د ا موضوع نوره هم پسې وڅېړله او په پای کې د اشعارو ډولونه په نامه دا کتاب ترې جوړ شو، چې ۱۲۱مخه په پېښور کې د تاج محل کمپنۍ له خوا چاپ شوی دی.

۱۴ - روښان ستوری: دا کتاب دوې برخې لري. لومړۍ برخه يې د بايزيد روښان پر ژوند، طريقت، پيرۍ، خليفه ګانو او مريدانو، روښاني څېنو شاعرانو، کورنۍ، اولادې او تاليفاتو په باب او دوهمه برخه يې د روښان پر مسلک او تحريک لنډې لنډې خبرې لري او يوه لوستونکی ته په ډېر لږ وخت کې د دغه جنبش په باب معلومات ورانډې کولای شي. روښان ستوری ۹٦مخونه په ۱۹۸۷م کال په پېښور کې د يونيورستي بک ايجنسی له خوا خپور شوی دی.

۱۵ - د پښتو تاريخي سيمينار: دا د پښتو د يو تاريخي سيمينار- چې د پېښور پوهنتون له خوا جوړ شوی و - يوعلمي ګزارش دی. دا سيمينار د ۱۳۴۴ش کال د اسد په مياشت د باړه ګلی (بره ګلی) کې جوړ شوی و. پدې سيمينار کې يو پنځه کسيز افغاني هيئت هم ګډون کړی و. استاد رښتين هم پدې هيئت کې شامل و او د دې سيمينار د غونډو ګزارش يې پدې کتاب کې ليکلی دی. که څه هم سړی دا اثر يو سفری علمي ګزارش بللی شي، خو دا چې له څېنو نکاتو څخه يې ادبي څېړونکی ګټه اخيستلای شي، نو ځکه په دې لړۍ کې شامل شو. دا کتاب ۹۲مخه په ۱۹۸۷م کال په پېښور کې د يونيورستي بک ايجنسی له خوا چاپ شوی دی.

۱٦ - د مهتمم ژوند : دا کتاب پوهاند رښتين د خپل پلار مولوي تاج محمد _ چې په مهتمم صاحب مشهور و _ په باب ليکلی دی او په کتاب کې يې د ده پر ژوند، کورنۍ، اولاده، په تعليم او اصلاحي او نورو اجتماعي کارونو، په غزاوو کې شرکت، مرينه، ملګرو او نورو دې ته ورته مسايلو خبرې کړې دي. د ده د پښتو، دري او عربي اثارو يادونه يې کړې ده. د پښتو نظمونو نمونه يې هم راوړې دي. د مهتمم صاحب يو مستقل اثر د پيغمبر (ص) د څلويښتو حديثونو منثوره پښتو ترجمه ده (۹۸-۱۰۹ مخونه) دا اثر هم پدې کتاب کې راغلی دی. د مهتمم ژوند ۱۰۹ مخه په ۱۹۸۸م کال په پېښور کې د يونيورستي بک ايجنسی له خوا چاپ شوی دی.

۱۷ - د پښتو ادبي مکتبونه: دا کتاب په ۱۹۸۹م کال د يونيورستي بک ايجنسی له خوا په پېښور کې چاپ دی، ټول مخونه يې ٥٦ دي. دا رساله د پښتو شعر مکتبونه او د پښتو نثر مکتبونه را ښيي. د شعر په برخه کې يې لرغونی مکتب، روښاني مکتب، د خوشحال مکتب، د رحمان مکتب، د حميد مکتب، ولسی مکتب، د ولسي

جنګي شعرو نموني، نوی مکتب د پښتو اشعارو معنوي پانګه او د پښتو نثر په مکتبونو کې يې د سليمان ماکو مکتب، د ميا روشان، مکتب، د خوشحال مکتب ،د منشي احمد جان مکتب او نوی دوره باندې لنډې لنډې خبرې کړې دي.

۱۸ - نوميالی شاعران: دا کتاب په ۱۳۷۰ش کال په پېښور کې تاج محل کمپنۍ چاپ کړی دی. ټول مخونه يې ۳۲۱دي. پر دې کتاب مقدمه ښاغلی فضل الله رښتين کښلې ده. د دې مقدمې له مخې پدې کتاب کې راغلي شاعران پخوا استاد رښتين په بېلا بېلو مقالو کې معرفي کړي وو او بيا يې په ۱۳۵۹ش،کال دغو مقالو ته کتابي بڼه ورکړه (ښاغلی فضل الله رښتين سريزه ص د). په دې کتاب کې د دېرشو شاعرانو شرح حال او د کلام نمونې د شپږو مکتبونو په ترڅ کې راغلې دي.

لومړی مکتب : امير کروړ، شيخ اسعد سوري، ښکارندوی، شيخ متي او زرغون خان. روښاني مکتب، ارزاني ميرزا خان انصاري، علي محمد مخلص، دولت خان لواڼی، د خوشحال خان مکتب: خوشحال خان خټک، اشرف خان هجري، عبدالقادر خټک، مصري خان ګګياڼی، د رحمان مکتب: رحمان بابا، پيرمحمد کاکړ، عبدالعظيم رانيزی، مطيع الله، دحميد مکتب، عبدالحميد مومند، قلندر... عليخان، کاظم خان شيدا، ميرزا حنان، اوسنی مکتب: امير حمزه شينواری، سمندر، ښيد رسول رسا، عبدالغني خان، ګل پاچا الفت، شمس - الدين مجروح، قيام الدين خادم او عبدالروف بېنوا.

۱۹- ادبي او تاريخي سموني: په دې کتاب کې د استاد رښتين هغه انتقادي مقالې را ټولې شوې او چاپ شوې دي چې وخت په وخت يې پر ځينو کتابونو، ځينو مقالو، ځينو موضوعاتو او ځينو سيمينارو کښلې دي. په دې کتاب کې ۱٦مقالې راغلې دي چې ځينې يې پخوا چاپ شوې وې او ځينې يې پوازې پـه همدې کتاب کې راغلې دي. . د دې کتاب څلور مقالې په ژبنيو موضوعاتو پورې اړه لري، خو څنګه چې پـه انتقادي ډول کښل شوې دي، نو ځکه يې پدې مجموعه کې ځای کړې دي. دا مجموعه په ۱۹۹۲م کال د يونيورسټي بک ايجنسۍ له خوا چاپ شوې ده. ټول مخونه يې ۱۹۸ دي.

۲۰ - د پښتو نثر هنداره : د پښتو نثر مطالعه او په دې باب ځيړنې اروانباد استاد رښتين لـه ۱۳۲۰ش کال نـه پيل کړې وې او په بېلا بېلو وختونو کې يې په دې موضوع خپلې نوې ځيړنې خپرې کړې او بـالاخره د پښتو نثر هنداره په نامه پنډ کتاب کې سره راوډلې. ټول مخونه يې ٦۱۱ دي. دا کتاب په ۱۹۹۳م کال د يونيورسټي بک ايجنسۍ له خوا چاپ شوی دی. په دې کتاب کې پښتو نثر له پخوا نه تر اوسه په پنځو دورو کې سره اوډل شوی دی او څه چې ورته ميسر وو پر هغو منثورو آثار و يې په دې کتاب کې بحثونه کړي دي.

۲۱ - پياوړی شاعران: پدې کتاب کې د ۳۹ تنو پخوانو او اوسنو وينا والـو پـر ژونـد پېښو، نظمونـو او شعرونو خبرې او تبصرې شوې دي. دا کتاب ۲٦۲مخه په ۱۹۹۳م کال د يونيورسټي بک ايجنسی پېښور له خـوا چـاپ شوی دی.

۲۲ - د علي خان پيژندنه: دا رساله استاد رښتين د ديرشمو کلونو په وروستيو کې کښلې ده ، د ځانته رسالې پـه شکل او مسلسله د زيری په جريده کې هم خپره شوي ده، ما خپله دا رساله نـه ده ليدلې. د استاد رښتين د آثارو د فهرستونو له مخې مې يې يادونه وکړه.

<u>ملي سياسي او تاريخي اثار</u>

۲۳ - نوی ژوند : دا کتاب په ۱۳۳۰ش کال د کابل په عمومي مطبعه کې د پښتو ټولنې له خوا چاپ او خپور شوی دی. مخونه یې ۱۰۸دي، د پښتونخوا د ځینو سیمو لنډه پیژندنه، د مشرانو ویناوې، او د پښتنو د مسالې په باب ځینې معلومات، مقالې او شعرونه پکې راغلي دي (پښتو پانګه ۱/۲۹۲).

۲۴ - د پښتونستان واقعات: په ۱۳۲۹ش کال چې په دې سیمه کې څه واقعات پیښ شوي دي، د هغو پیښو، پیښ لیک په دې رساله کې راغلی دی. دا رساله ۱۹ مخه په ۱۳۳۰هـ ش کال د مطبوعاتو ریاست د داخلي خپرونو د څانګې له خوا په عمومي مطبعه کې چاپ شوې ده. (پښتو پانګه ۲/۴۸۳).

۲۵ - پښتونیار:

په پښتو پانګه ۲/۳۷٦ کې راغلي دي چې دا کتاب د پښتونستان یو لنډکی تاریخ دی او په همدې موضوع کې مقالې، شعرونه پکې راغلي دي. دا کتاب ۱۳۵ مخه په ۱۳۳۱ش کال د پښتو ټولنې له خوا د کابل په عمومي مطبعه کې چاپ او خپور شوی دی.

۲٦ - د پښتو مجاهدې: د استاد رښتین د دې لړۍ بل چاپ شوی کتاب دی مایې چاپې نسخې په پېښور کې نه کړې پیدا او نه په پښتو پانګه کې معرفي شوی دی.

۲۷ - نومیالی پوهان او غازیان: دا کتاب د ځینو مهمو سیاسي، علمي، ملي او روحاني شخصیتونو پیژندنې ته وقف شوی دی، په دې کتاب کې د ابن سینا، ابن خلدون، ابوریحان البیروني، میا محمد عمر، حافظ رحمت خان، سید جمال الدین افغان، مولوي عبیدالله سندهي، مهاتما ګاندي، جمال عبدالناصر، جواهر لال نهرو، عبدالغفور اخونزاده، ملانجم الدین اخونزاده، د ترنګز و حاجي صاحب، د چکنور ملاصاحب، فضل محمود مخفي، محمد ګل مومند، میرزا علي خان، عبدالغفار خان، عبدالصمد خان اڅکزی، فضل اکبر بینوم او ګل صاحب په باب معلومات او خبرې راغلې دي. د دې کتاب شخصیتونه هم مرحوم استاد رښتین د مقالو په ترڅ کې ښځوا معرفي کړي دي او بیایې په دې مجموعه کې یې سره یوځای کړي. دا مجموعه په ۱۹۸۸م کال ۱۴۷مخه د یونیورسټي بک ایجنسی له خوا په پېښور کې چاپ شوې ده.

ولسي فرهنګ ته مربوط اثار: د استاد رښتین په ګنو اثارو کې ځینې داسي کتابونه هم شته، چې که یې سرې ډلبندي کوي نو یې د ولسي فرهنګ جز بللی شي، لکه دا لاندې اثار:

۲۸ - پښتو قصې: دا کتاب استاد رښتین د اروابناد جرار په ملتیا ترتیب کړی دی او په ۱۳۳۱ش کال د پښتو ټولنې له په دولتي مطبعه کې چاپ شوی دی. په دې کتاب کې پښتو فوکلوري وړې کیسې، کیسې او ځینې ترجمه شوې وړې کیسې راغلې دي. ښاغلی رفیع کښلی دی چې له دې کتابه د فولکلور په څېړنه کې ښه استفاده کیدا شي. (پښتو پانګه ۱/۵۲).

۲۹ - د ژوند سندره : په پښتو پانګه ۱/۱۴۵ مخ کې راغلی دی چې دا کتاب د ساز او د پښتو د ساز د الاتو پیژندنه وړاندې کوي او د پښتني تنګ ټکور په باب تبصرې او بحثونه لري.

۳۰ - پښتني لاربنود: دا کتاب یوه سریزه او درې برخې لري: ۱ - پښتنې خویونه ۲- پښتنې دودونه ۳- پښتنې لارې چارې. په دغو دریو برخو کې د پښتنو د کلیوالي ژوند ځینې مهم توکي په لنډ ډول معرفي شوي دي. دا کتاب دوهم ځل په ۱۹۸٦م کال د پېښور یونیورسټي بک ایجنسی له خوا ۷۹ مخه چاپ شوی دی.

درسي كتابونه: استاد رښتين د خپل فرهنگي فعاليت په اوږدو کې د پوهنتون استادي هم کړې ده او له دې سربېره د افغانستان د پوهنې وزارت سره همکار او کلونه د پښتو ټولنې رئيس و. دوی په دې دوران کې ځينې درسي كتابونه هم ليکلي دي چې دوه درسي گرامرونه يې د مخه معرفي شول او دادی د دې لړۍ نور اثار يې دا دي:

۳۱ - پښتو کلي شپږم ټوک: دا کتاب د پښتو کورسونو په نصاب کې شامل و او پښتو ټولنې چاپ کړی دی.

۳۲ - د دوهم ټولگی پښتو قرائت ۳۳- د دريم ټولگی پښتو قرائت ۳۴- د دولسم ټولگی پښتو قرائت ۳۵- د دريم ټولگی دينيات ۳۶- د شپږم ټولگی دينيات . دا کتابونه په خپل وخت کې دافغانستان د معارفو په نصاب کې شامل وو، په زرگونو نسخې په وارو وارو د افغانستان د پوهنې او بيا د ښوونې او روزنې د وزارت له خوا چاپ شوي او د افغانستان د گوټ گوټ په ښوونځيو کې شاگردانو لوستي دي.

۳۷- د پښتو اُدبياتو تاريخ: د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځی د پښتو څانگې د څلورم ټنف لپاره دا درسي مواد اول ځل په ۱۳۴۳ش کال او دويم ځل په ۱۳۴۶ش کال گستنرشوي دي. دا درسي مواد په او ځل تکثير کې لږ وو او په دويم ځل تکثير کې ډېر شول او د کتاب حجم غټ شو. د ادبياتو په دې تاريخ کې له راغليو موادو څخه د نومياليو شاعرانو نومې کتاب په ليکلو کې هم استفاده شوې ده.

ترجمې: استاد رښتين په عربي، اردو او دري ژبو پوهيده او پښتو يې مورنۍ ژبه وه. ده کله نا کله د عربي، اردو او دري ژبې آثارو ترجمې هم کړې دي ، چې ځينې يې دمقالو په بڼه چاپ شوې دي، ځينې يې په ځانگړې ډول چاپ شوي او ځيني يې ناچاپه دي.

۳۸- د مينې هنداره : دا کتاب په عربي ژبه ابراهيم زکي الساعي ليکلی‌دی او اروانباد پوهاند رښتين په پښتو اړولی دی. دا کتاب ۴۶مخه په ۱۳۳۴ش کال د پښتو ټولنې له خوا د کابل په عمومي مطبعه کې چاپ شوی دی. د پاچا، پلار، مور، ورور، ښځې، زوی، وطن او دين د مينې په باب مطالب پکې راغلي دي.

د استاد د اثارو په فهرست کې (د زلمو وظيفې) په نامه د يوې ترجمې يادونه شوې ده. خو تر اوسه چاپ نه ده. ښايي دا هم مستقله ترجمه وي.که نه استاد ډېرې مقالې له نورو ژبو ترجمه کړې دي. کابل مجلې او نورو افغاني مطبوعاتو کې چاپ دي.

سفرنامې: د استاد رښتين تر تحقيقي آثارو وروسته د ده په فرهنگي کارونو کې سفر نامې خپل ځانگړی مقام لري. ده ډېرې لنډې او اوږدې سفرنامې په خوږه ژبه او رسا انداز ليکلي دي. د ده په سفرنامو کې د بدخشان ننداره، د الينگار او اليشنگ ننداره، د خوست ليدنه او عشق آباد سفر نومې سفرنامې په کابل مجله کې خپرې شوې دي. د ده د آثارو په فهرست کې د کتغن سفر د مصر سفر او د شوروی اتحاد سفرپه نومونو د دريو نورو سفرنامو يادونه شوې ده، ما پخپله دغه سفر نامې نه دي ليدلي. غالباً به پخوا د افغانستان په مطبوعاتو کې چاپ وې او يا به د دوی د ناچاپو آثارو په جمله کې پاتې وي. د پېښور سفر په نامه د يوې سفر نامې يادونه هم د ده په آثارو کې شوې ده. که دا سفر نامه ـ د پښتو تاريخي سيمينار ـ په نامه چاپ شوی علمي سفري گزارش نه وي، نو دا سفرنامه هم مانه ده ليدلې. د استاد په سفرنامو کې دوې په کتابي چاپ دي. لکه:

۳۹- د هند سفر: دا سفرنامه په ۱۳۳۴ه ش کال ۱۸۲مخه د کابل په دولتي مطبعه کې چاپ شوې ده. دا سفرنامه په عام ډول هند ته د دوی د سفر گزارشونه را نغاړي خو د تگ راتگ په لیارو کې نورو هيوادونو، لکه ايران، پاکستان او عربستان کې خپل ليدلي کتلي هم پکې را نغښتي دي.

۴۰- د ننګرهار ننداره: دا سفر نامه استاد رښتین د ۱۳۲۸ هـ ش کال په پای کې لیکلې ده او په ۱۳۷۴ش کال په پېښور کې د یونیورسټي بک ایجنسۍ له خوا چاپ شوې ده. مخونه یې ۱۰۰ دي.

ډرامې: ورځې مجلې یو وخت د ډرامې په باب د استاد رښتین یوه مقاله چاپ کړې وه، رانه هیر دي چې ترجمه کړې یې وه او که یې خپله لیکلې وه. خو له ډرامو او له ډرامه لیکنې سره د ده مینه ښیي. د دوی د آثارو په فهرست کې راغلی دي چې استاد د (پښتنې میرمنې) په نامه یوه نمایش نامه هم لیکلې ده.

تخلیقي اثار: د ژبپوهنې ، ادبپوهنې په اړه له تحقیقي کارونو، سفرنامو او ډرامو سربیره استاد ځینې منظوم او منثور اثار هم لري چې د یادې شوې نمایشنامې په څیر یې باید موږ د دوی په تخلیقي آثارو کې وشمیرو.

۴۱- د ژوند پلوشې: دا کتاب د وړو مضامینو مجموعه ده چې په روانه ژبه او خوږو الفاظو لیکل شوې دي. د کلمو انتخاب یې په زړه پورې دی. دا کتاب دوې برخې لري . ۱- د تاریخ وړمې ۲- د ژوند وړمې. په مجوعه کې ۵۷ مضامین راغلي دي. کتاب ۱۸٦ مخه په ۱۳۷۴ش/ ۱۹۹۰م کال په پېښور کې د یونیورسټي بک ایجنسۍ له خوا چاپ شوی دی. خپله استاد رښتین دغه اثر د نثرونو مجموعه بللی دی، نو ځکه یې ما د تخلیقي آثارو په لړ کې یادونه وکړه. که نه مضامین یې په تاریخي، اجتماعي موضوعونو او یونیم ادبیاتو سره هم اړه لري.

۴۲- د ښکلا وړمه: دا کتاب داستاد رښتین د نثرونو مجموعه ده او دا مجموعه دوی خپله ادبي نثر بللی ده. په دې مجموعه کې ۴٦ ټوټې راغلې دي. د ځینو ټوټو عناوین مقالو ته پاتې کیږي. لکه : د ادب معنی او مقصد، سپېڅلی ادب، تصوفي ادب، باګرام په پښتو ادب کې ، کشمیر او پښتو ادب، د پښتو ادب رنګارنګ اړخونه، خوشحال او پسرلی، د ادب معنی او بې مطلبه ادب. که دا مضامین مقاله ډول لیکنې هم وي، خو استاد په داسې نثر لیکلې دي چې د نثر خوږ لت یې له نورو ادبي ټوټو لږ نه دی نو یې ځکه پدې کتاب کې له نورو ټوټو سره یوځای کړې دي.

د ښکلا وړمه په ۱۹۹۷م کال ۲۰۲ مخه په لاهور کې د پېښور پښتو اکاډمی له خوا چاپ شوې ده.

۴۳- ادبي لیکونه: پدې کتاب کې د ځینو داخلي او خارجي پوهانو لیکونه را غونډ شوي دي، چې ځینې د پښتو ټولنې له مشرۍ پخوا یا وروسته دوی ته لیږل شوي او ځینې یې د پښتو ټولنې د مشرۍ په دوران کې او په پای کې د ارواښاد استاد بینوا په نامه د دوی خپل اوږد لیک هم ورسره راغلی دی. په دې مجموعه کې ٦۳ شخصي او رسمي لیکونه خوندي دي. د لیکونو دا مجموعه استاد رشتین په ۱۳٦۱ش کال ترتیب کړې وه او په ۱۳۷۳ هـ ش کال په پېښور د دانش کتاب پلورنځی له خوا چاپ شوه. ټول مخونه یې ۷۵ دي.

۴۴- خوږې وړمې: دا د ارواښاد استاد رښتین د منظومو ویناوو مجموعه ده چې ۱۱۱ مخه په ۱۳۷۷ش کال په پېښور کې د تاج محل کمپنۍ له خوا چاپ شوېده . دا مجموعه ارواښاد پوهاند رښتین په ۱۳٦۱ش کال په کابل کې ترتیب کړې ده. په دې مجموعه کې ۸۱ پارچې نظمونه، غزلې او د ده پنځه جوړې کړې لنډۍ پکې چاپ شوې دي. پر دې مجموعه سریزه ښاغلی فضل الله رښتین لیکلې ده.

داستاد مستقل چاپ شوی کتابونه په دې لیکنه کې در وپیژندل شول. ښکاره ده چې استاد به نور مستقل ناچاپ اثار هم نري او د دوی ځینې مقاله ډوله رسالې په کابل کالنیو او د افغانستان کالنیو کې چاپ شوې دي، د مقالو شمیرې د مخه در وښوول شو.

اروا دې یې ښادوي

پروفیسور عبدالرسول امین

حکومت وسیع النظر یا وسیع البنیاد؟

پروفیسور عبدالرسول امین رئیس مرکز مطالعات افغانستان دراین اواخر نظریهٔ حکومت وسیع-النظر را به جای حکومت وسیع البنیاد به پیش کشید. ما در ارتباط به همین موضوع گفت و شنودی با وی داشتیم که در این شماره تقدیم خواننده گان میگردد.

پرسش: جنبه های مثبت و منفی حکومت وسیع البنیاد را توضیح نمایید؟

پاسخ: از زمان پیدایی مفکورهٔ حکومت وسیع البنیاد تا امروز جز از ناکامیها و تجارب تلخ این گونه حکومتها، جنبهٔ سودمند و یا مثبت حکومت وسیع البنیاد در ذهنم خطور نمیکند.

ما میتوانیم بر جنبه های منفی و مضر حکومت وسیع البنیاد با ارائه اسناد ساعتها و حتی روزها بحث و گفتگو نماییم، اما من دراین گفت و شنود به ارائه چند مثال بسنده میشوم.

(۱) همه ی افغانها گواه این حقیقت تلخ استند که حزب دموکراتیک خلق پس از کودتای ثور۱۳۵۷ خورشیدی زیر نام دکتاتوری زحمتکشان رژیم تك حزبی را بر افغانها تحمیل کرد. جزء از همین حزب، تمام فعالیتهای سیاسی، اجتماعی و فرهنگی سایر احزاب و تنظیمها، سازمانها، شخص و اشخاص غیر قانونی اعلام شدند و پس از آن همگون به خواسته های رژیم فعالیتهای سیاسی همه اقشار مردم افغانستان عمل جرمی پنداشته میشد و مرتکبین آن کیفر میدیدند.

افغانها میدانند که دکتاتوری و انحصار . حزب دموکراتیك خلق افغانستان عملیه های قتل، کشتار، گرفتن، بستن، به زنجیر کشیدن، تبعید و فرارهای جبری مردم افغانستان تشدید گردید. و در نتیجهٔ آن زمینه برای یورش نیروهای نظامی اتحاد شوروی و مداخله های کشورهای شرق و غرب آماده شد و این گونه مداخله ها تا هنوز هم ادامه دارند.

زمانی رژیم تك حزبی (حزب دموكراتیك خلق) با مقاومت شدید مردم افغانستان مواجه شد و پیهم زیر ضربه آمد، اتحاد شوروی سابق مجبور شد تا معاهدهء ژنیو را امضا نماید و بر اساس آن نیروهای نظامی خود را از خاك افغانستان خارج سازد.

نخستین مرحلهء سقوط اتحاد شوروی و فرو پاشی رژیم کابل از همان وقت آغاز گردید. همدرین زمان اتحاد شوروی و رژیم دکتور نجیب الله آواز حکومت وسیع البنیاد را بلند کردند. از نظر آنها در حکومت وسیع البنیاد گروههای مجاهدین، اعضای حزب دموکراتیك خلق و شماری از شخصیتهای دگر شامل خواهند بود.

بر اساس همین مفکوره، دوکتور نجیب الله برای بار اول در حکومت تك حزبی حزب دموکراتیك خلق به گروهها و اشخاص دگر جا داد و حکومتش را وسیع البنیاد خواند. رژیم دوکتور نجیب الله و اتحاد شوروی میخواستند از این ابتکار به سود حزب دموکراتیك خلق و نیزوهای چپی دگر استفاده کنند. شماری از اعضای حزب دموکراتیك خلق و گروههای چپی دگر را در این حکومت وسیع البنیاد جا زنند.

معارف دروازې د نجونـو او د کـار دروازې د ښځینـه وو پـه مـخ بنـدې شـوې چـې پـدې تـوګه د ښځو قشر د راز راز پلمو پـه وجـه د ټولنیزو فعـالیتونو لـه صحنې څخـه پـه کلـي ډول ورټل شـو او لـرې شـو او ټولـې پـه ورې نـس او مایوسـه زړه پـه یـوه سـاړه مـاحول کـې د کورونـو پـه کنجونـو کـې سـر پـه زنګانـه چرتونـه وهي او د خپل موجودیت او خلقت سـوال لـه ځانـه څخـه کـوي چـې کـه داسـې و نـو د ښځې پـه نامـه موجود خـدای تعالی ولي هسـت کـړی او کـه خـدای تعالی د خپل پـاک کتـاب پـه اسـتناد ښځه د نارینـه وو سـره برابـره ګڼلی او پوهـه یې پـه دواړو یـو ډول فـرض ګرځولې نـو دا د خـدای تعالی بنـده ګان پـه کـوم دلیـل د ښځینـه وو پـه برخـه کـې ولي دومـره بیرحمـه شـوي دي؟ هوکې همـدا وجـه وه چـې اکـثره کورنۍ د خپلـو لـونو د زده کـړې پـه منظـور مثلاً پیښور تـه را کـډه شـوې. اوس دا دی دلتـه هـم یوازنـۍ د هیلـو او امیـد ور چـې د نجونـو پوهنتـون و او پـه هغـه کـې ټول اسـلامي قوانـین د اسـتادانو او محصلانو له خوا رعایت کیـدل د هغـوی پـه مـخ وتـړل شـو چـې پـه نتیجـه کـې پـه سـلګونو خوانـې او پـه پوهه مینې نجونې د کـور پـه ګور کـې د خپـل نـا معلومـه سرنوشـت پـه وجـه سـلګی وهـي. دا معصومې او ارمـانجنې پیغلـې او پیغلـوټې د یـو ه لـوړ او انسـاني هـدف او ارمـان پـه نیمګـړې پـاتې کیـدو د ځانـه سـره ماتم لري. د دوی پـه نـزد خـو هسـې هـم چـې د ځګـړې پـه تـور دور کـې زیـږیدلي او سـترې شـوي کـوم روڼ لګی نشته، د دوی د ژوندانـه اسـمان همیشـه د بـاروتو لـه ترخـو لوخـړو څخـه ډک و او هیڅکلـه یې لمر او سپوږمۍ او سـتوري پـه اصلـي عظمـت او شـکل نـدی لیـدلی، دوی د تـورو وریـځو پـه موجونـو کـې ګله نـا ګلـه د دغـو سـتورو ننداره کـړې. پخپـل وطـن کـې د ډول ډول وسـلو ویروونکـو اوازونـو زړه ورتـه بیځایه کړي او پـه مـهاجرت کـې د پـلار بیکـاري، د مـور محرومیتونـو، د بـې کـوري او فقـر عظیمـو دردونـو یې روح او روان ورتـه خپلـی او پـه نـازک مـخ یې د اوارګۍ او ذلت ګردونـه لـه ورایـه ښکـاري. بلـې د دې خوشالۍ یوازې د تحصیلاتو بشپړ تیا وه چـې ګواکـې پـه راتلونکـې کـې بـه ورتـه پـه نصیـب شـي، خـو و نـه شـو. مـور او پـلار هـم کـوم بـل زیـری او سـوغات د خپلـو پیغلـو او حساسـو نجونـو لپـاره نـه درلـود هغوی به یې خپل سـبق او تحصیـل تـه هڅولې او ویـل بـه یې :

ګورئ، بـدې ورځې بـه تیرېښي، پـه مـوږ خـو هـر ډول چـې و عمـر تیر شـو خـو تاسې لا ټول عمر پـه مخ کـې لرئ کـه مـوږ د مشرانو پـه حیث ونشو کـولای چـې ستاسې د خوانـۍ غوښتنې او ارمانونـه در پوره کـړو نـو کلـه چـې تاسې خپلې عـالي زده کـړې بشپړې کـړې پخپلـه بـه خپلې ټولـې هیلـې سر تـه ورسوئ. او خوشاله اوسـی چـې ستاسې لپاره دلتـه د زده کـړې زمینـه مسـاعده ده.

خـو اوس چـې دا زمینـه هـم وربـاندې بنـده شـوه، نـور نـو مـور او پـلار کـوم زیـری د نجونـو لپـاره نـه لري او نجونې هـم چـې عـالي زده کـړې یې د آینـده ژوندانـه د خوښـو ضمـانت کـاوه او هغـه چـانس یې لـه لاسـه وووت نـور کـوم هـدف او خوشـالي د خپلې راتلونکـې لپـاره نـه مومـي. اوس اوس سر بـیره پـه نـورو نـاخوالو او بیوسیو د زده کـړې د مراکـزو بندیـدل نپوهیـږم چـې د چـا لـه خـوا او یـا د چـا پـه دستور به وي را زیات شو. بدمرغـه بـه هغـه ټولنـه وي چـې نیمـایي بـدن یې. لکـه زمـوږ د ټولنـې د بـدن پـه شان فلج شـي، د ټولنـې بـدن د نـر او ښځو څخـه تشـکیل شـوی خـو لـه بـده مرغـه زمـوږ د ټولنـې نیمـایي برخه چې د ښځو ټولنـه ده، پـه غیر مسـوولانه تـوګه لـه صحنې څخـه ایسـتل کیـږي چـې پـه حقیقـت کـې زموږ ټولنه لګیا ده پـه ظلمتونـو کـې ډوبیـږي.

۱۹۹۸\۱۱\۲۱

شفيق احمد ختک

شين ټاغی

د ناول معنی ده عجيبه څيز_ هر ليکوال غواړي چې لوستونکي ته ښه ليک وړاندې کړي. هغه دا هڅه کوي چې څه داسې نوی څيز مينځ ته راوړي، چې د لوستونکې د علاقې وړ وګرځي- يعنی د نورو نه ښه وي- کوم ناول نګار که يو ناول دوه ليکلي وي، هغه چې کله بل ناول ليکي نو پکار دی چې د هغو وړومبنو ناولونو په نسبت څه نوښت ولري او د هغونه ښه وي.

پدې نزدو ورځو کې يو نوے ناول بازار ته راغے چې نوم يې دی " شين ټاغی"- د ناول نوم د مخپاڼې ښکلے انځور او د کتاب ښايسته ډول د سړي توجه راکاږي- دا ناول سعدالدين شپون ليکلی دی- د پاکستان د پښتنو لپاره د ناول په ډګر کې دا نوم نوی دی- سعدالدين شپون چې " د امريکا غږ " راډيو سره کار کوي د افغانستان يو پياوړی او منلی شوی ليکوال دی- پښتو سره سره په دري او انګليسي ژبو هم ډير ښه پوهيږي.

ښاغلی شپون دا ناول پر افغانستان د شوروي عسکرو د تيري پس منظرکې ليکلی دی- پښتو ادب کې زما د نظره بل کوم داسې انقلابي يا تحريکي ناول نه دی تير شوی- ښاغلی شپون په دې موضوع د ناول په ډګر کې يو نوې لاره پرانيسته.

شوروي قواوو نه دا چې په افغانستان خيټه اچولې وه. بلکې د افغانستان د خلقو په دود، دستور او مذهب يې هم چپاو کړی و، د اسلام په ځای يې د کميونزم نظريه خوروله-او د خلقو نه يې د پښتونولی تروږلو لپاره پېمخو جونو او ښکلو هلکانو نه کار اخيسته.

ژوند ن بدليږي او ورسره د ژوند قدرونه هم بدليږي _ رسمونو رواجونو کې تغير راځي، تهذيبونه نوی رنګ اخلي، او اخلاقيات نوې معنې خپلوي، د دنيا دا بدلونونه روان وي خو ټولنه ځينې بدلون خوښ کړي او ومني او ځينې شاته واچوي، خو هر کله چې يو جابر نظام په زور او ظلم داسې بدلون په خلقو ور تپل غواړي نو خلق د هغې په مقابله کې ودريږي، ښکاره خبره ده چې د يو منظم قوي نظام په مقابله تيت و پرک، تش لاس او بې وسه ولس ته د مال او سر زيات تاوان رسي، خو ځينې باضميره پوه کسان داسې لارې چارې لټوي چې په دښمن ګوزار کوي او خپل ولس د تاوانه ساتي. داسې قسم نهضت ته په سياسي علومو کې انډر ګراونډ موومنت يعنې د زمکې لاندې خوځښت وايي. داسې کار لپاره يو عام سړی نه، بلکې د ډاکټر ژوږور غونډې پوه، قابل، تعليميافته، او هوښيار سړی پکار دی، چې جرآت هم لري او حوصله هم. شپون صاحب لوستونکو ته دا خبره په ګوته کوي چې چاپيريال خړ وي او ټولنه پرګتې، نو د خلقو خويونو سره مو شادي هم بدليږي. د کميونستو د قبضې په دوران کې د افغانستان په خلقو کې چې کومه خانخاني مينځ

ته راغلي وه، هغې دله ييز فكر شند كړی و، په داسې حالاتو كې شپون صاحب د ډاكټر محب الله او ډاكټر زړور د كردارونو په ذريعه د خپل دردېدلی زړه قصه بيان كړې او تر خپله وسه يې د خپل مذهب او تهذيب د ساتنې هڅه كړې ده.

" شين ټاغی " د ښاغلي شپون د روښانه ذهن، وسيع مطالعې او ژورې مشاهدې ښكارندوی دی. په ناول كې د ژوند او د حالاتو ښه عكاسي شوې ده. د ښاغلي شپون دا ناول پښتو كې د انقلابي ناولونو د ردې وړومبنی تيره ده، او ښه پخه تيره چې د انقلابي ناولونو ماڼۍ پرې په پوره ډاډ ودرولی شي، د ليكوال دا كوشش د ستاينې وړ دی چې پښتو ادب كې يې يوه نوې لاره پرانيستله، او دا خبره يې په ډاګه كړه چې پښتو ژبه كې دومره شتمني او توان شته چې د هر قسمه موضوع د ناول په شكل كې په خپله لمنه كې ځای كړی شي.

پدې ناول كې درې بنيادي كردارونه دي، ډاكټر محب الله، ډاكټر زړور او شاترينه، د اهمو كردارونو ژوند، او هغه واقعات چې دې قبصې سره تړون لري، په ډېر ښه انداز كې بيان شوي دي، چې لوستونكې تر اخره ځان سره بوتلی شي.

ناول نګار د ناول قيصه په چل هنر وړاندې كوي، څنګه چې ناول ارخونه بدلوي هغه شانې كردارونه وړاندې كيږي، د دې ناول د كردارونو نه دا اندازه لګيدلی شي چې شپون صيب د كردارونو په نفسياتي مطالعه كې ژوره مشاهده او تجربه لري.

پدې ناول " شين ټاغی " كې ځای په ځای ډېره ښكلې منظركشي شوې ده، يوازې د افغانستان نه، بلكې د پاكستان د څينو علاقو هم، داسې ښكارې چې ناول نګار منظركشي كې ماهر دی. د مختلفو سيمو، سيندونو، غرونو، دشتو او ګليشيرز وغيره ښكلې منظرونه يې راښكلي دي، داسې چې د انسان او د ده جذبات را پاروي او د هغو ځايونو كتلو ته يې ليواله كوي. دې نه دا خبره ثابتيږي چې ناول نګار د څينو ناول نګارانو په شان د نغري غاړې ته ناست ناول نه دی ليكلی، بلكې دغه ټول ځايونه كوم چې په ناول كې ذكر كړی شوي دي هغه پخپله په ژور نظر كتلي دي او بيا يې ډېر په چل، هنر او خوند خوند په ناول كې ځای كړي دي.

ناول د تاريخ په حواله د اهميت وړ څكه دی چې په دې كې د افغانستان پر خلكو د شوو ظلمونو او د هغوی په مذهب او دود دستور كې د بدلون راوستلو د پاره چې كوم جبر كيدلو، د هغو تاريخ پروت دی. د جنګ په دوران كې ناول نګار د خلكو په هكله وايي چې ټول په يو بل شكمن وو او وشتې ټوكې يې نه كولې. دا يو روڼ حقيقت دی چې هيڅوک ترې نه انكار نه شي كولی.

په داسې بوړنوونكې چاپيريال كې روماني خوند د لوستونكو ستوماني كموي. ناول كې د مينې محبت د جذباتو خبرې په ډېره خوږه او ساده ژبه كې شوې دي.

په دې ناول كې څينې خبرې داسې شته چې ګوته ورته نيولی شي. د ټولو نه غټ د ډاكټر محب الله په خپل وجود او په هغه ګاډي كيدلی شي چې نوم يې "شين ټاغی" دی او داسې رنګ او دول لري چې د اولې ورځې نه چې ډاكټر محب الله راوستی دی د خلكو پام خان ته را كاږي. د زمكې لاندې خوځښت كې د دومره ښكاره وسايلو استعمال نه دی پكار. ديوې نا اشنا ښځې په موجوده ګی كې مخابره كول هم د داسې پټ كارله رواج سره سمون نه خوري. ښاغلی ناول نګار

په مذهبي مسالو کې هم سهوه شوی دی لکه په مخ۴۷ باندې لیکلي " دا اول ځل وو چې پس له څلورو ورځو د مسحې په ځای اودس کوم." دلته د ناول نگار مطلب غالباً تیمم دی، چې د اوبو د نشتوالي یا د اوبو د استعمال نه د پرهیز په صورت کې کیږي. مسح په هغه حالت کې کیږي چې اوبه وي خو ګوم ځای ژوبل یا رنځور وي چې اوبه ورله ښې نه وي نو په هغه ځای لوند لاس تیرولی شي.

دلته دا خبره به بې ځایه نه وي چې د افغانستان لیکوال ځینې داسې محاورې په استعمال کې راولي چې هغه د پاکستان په عامه روزمره ژبه کې بل څه مطلب ورکوي. ځینې محاورې خو داسې دي چې هلته محاوره ده او دلته کنځل. زما دا مشوره ده چې د افغانستان او پاکستان لیکوال د داسې کلمو او محاورو په استعمال کې له ډیر احتیاط نه کار واخلي چې په بل طرف یې معنا بدله وي.

د ناول د ښو او بدو جاج اخیستلو نه پس دا ویلے شو چې په مجموعي طور د دې ناول " شین تاغی" له مقصد او افادیت نه انکار نه شي کیدلی.

ازشکارلحظه هاتاروایت قلم

نویسنده : حسین فخـــری ، صفحـــات : ۱۳۹؛ ســـال چـــاپ : ۱۳۷۷ خورشیدی ؛ جای چاپ : پشاور ، مرکزنشراتی میوندسباکتابخانه .

مجموعهٔ چهارسفرنامه ، نویسندهء خوب کشورماشاغلی حسین فخـــری است که دراین تازه گیها چاپ شدوبه دسترس دوســـتداران کتا ب قرار گرفت .

پرتو نادری

بلبل خجند

گر بجویند به صد قرن نیابند، کمال
بلبل چون تو خوش الحان به چمنهای خجند

خجند چه طنینی دارد این نام. چه دشوار است و غم انگیز که شکوه و عظمت در هاله‌ء از اندوه جلوه گر شود. این شهر چه نامهایی را تداعی میکند و چه سرگذشتی بر آن رفته است.

پرورشگاه دهها دانشمند بزرگ، فیلسوف، سخنور، و هنرمند کم بدیل، اما در برهه های از تاریخ اسیر زنجیر تسلط بیگانه‌ء فرهنگ ستیز و زداینده‌ء هر چه معنویت و اصالت و هرچه رنگ و بوی سنتی و بومی دارد.

دلها غرقه در شادمانی میشود که دگر خجند از بندها رسته است و طلسمها را شکسته و امید فراوانست که باز بتواند فرزندانی بپرورد که صلابت نام شان در گنبد تاریخ هیاهو بر انگیزد. کمال از آن پرورده گان دامان پاکیزه‌ء خجند است که تا زبان فارسی زنده است و تا شعر فارسی بر لبها جاری و بر روانها ساری، آرامشگاهش گلباران است و روحش نورباران.

شعر او یك جریان ملایم و یك جویبار زلال است که اگر چه گاهی سرچشمه هـای در نظیره گویی دارد، دلنشین است و خواندنی و درلحظه های ناب زندگی میتوان از آن چتر سبزی بر سر افراشت.

شاید امروز جز خبره گان اهل تاریخ کمتر کسی آگاه باشد که سلچوق نیای بزرگ سلجوقیان در همین خجند به خاك سپرده شده است، ولی کیست که نداند خجند گهواره‌ء کمال است و کمال در همین مهد زرین پرورده شده است تا بدانیم که سطوت زورمندان روزی و بیش نیست، اما آواز شاعران را نمیشود در گلوگاه آنان خاموش ساخت.

در کلیت میتوان گفت که شعر کمال آمیزه‌ء یست از لطافت کلام، رقت معانی و دقت در مضمون آفرینی، ولی با این حال شعر نزد او پیوسته چنان وسیله یی برای بیان اندیشه های بلند عرفانی و احساس و عواطف عارفانه مطمح نظر بوده است.

با این پیش زمینهء ذهنی گلگشتی داریم در باغستان شعر و اندیشهء این سخن پرداز عارف و نام آور.

کمال عمدتاً شاعریست غزلسرا و غزلهای او چنان طیفی از نور موجهای گوناگون و رنگینی را بـــاهم دارد که با کمك منشور ذهن میتوان آن موجها را از هم سوا و مطالعه کرد.

چنان که گاهی این غزلها زبان برندهء انتقادیو طنزآلود پیدا میکنند و کمال با این وسیله همهء زاهـــدان سالوس و صوفیان دروغین و مصلحتی روزگار را به آوردگاه فرا میخواندو آن همه سالوس و دروغ را آمـــاج انتقاد های خویش قرار میدهد:

به نمونه های زیرین توجه کنیم:

صوفیان گویند چون ما خیز و در رقص آ کمال

حالت و وجد ریایی خوش نمی آید مرا

از نظر او هر کسی لیاقت قرب دوست را ندارد و تنها آنهایی که از هالهء سودای هر دو جهان فارغ انـد و سینه را از حب جاه و مال خالی ساخته اند، سزاوار این مرتبت اند:

دست بوس دوست میخواهی بشو دست از دو کون　　دست آلوده نشاید مرحبای دوست را

دوستی های همه عالم بروب از دل کمال　　پاك باید داشتن خلوت سرای دوست را

سماع و حالت کمال از گونهء دگر است و غبار ریا بر آن راهی نمیتواند یابد و از اینرو ریا پیشـــه گان روزگار را قابل درك نیست:

سماع ما به زاهد در نگیرد　　درین صحبت مر بیگانهء است

و اما بیگانه گی در میان کمال و زاهد از کجا سرچشمه میگیرد؟ درست از اینجا که اندیشه های عرفـــانی کمال تا آنسوی دنیا و عقبی سیر میکند، در حالی‌که زاهد به بهشت می‌اندیشد و به بهشت عشق میـــورزد و کمال به صاحب بهشت.

زاهدان کمتر شناسند آنچه ما را رهبر است　　فکر زاهد دیگر و سودای عاشق دیگر است

ناصحا . دعوت مکن مارا به فردوس برین　　کاستان همت صاحبدلان زان بر تر است

مابه رندی در بساط قرب رفتیم و هنوز　　همچنان پیر ملامتگر به پای منبر است

چنین است که کمال چنان سیمرغی بابالهای عشق و عرفان اوجهای آزاده گی را تسخیر میکند و هیچـــگاه بربام عنایت سلطانی فرو نمی آید:

عالم آزاده گی خوش عالمیست　　ای دل آنجا رو که آنجا خوشتر است

اندرین پستی دلت نگرفت هیچ　　عزم بالا کن که بالا خوشتر است

عاشقان را دل به وحدت میکشد　　مرغ آبی را به دریا خوشتر است

کمال پادشاهی را در آزاده گی میداند:

کمال از پادشاه دارد فراغت به وقت خویش او هم پادشاه بود

این تاثیر اکسیر عشق است این قاف نشین فقر و عرفان را به اورنگپادشاهی معنویت میرساند و حلهء عشق در کارگاه شعر او اینگونه تنیده میشود:

عشق حرفیست که دال است بر آیات کمال آن که در قال فرو ماند نشد واقف حال
زاهد خشك در انکار محبان جان داد گو بخو ر خاك که محروم شدی ز آب زلال
ورق علم بگردان قلم زهد شکن ساکن راه یقین شو گذر از کوه خیال
تن چه کار آید اگر جان سوی جانان برود. سیل چون ریخت به دریا چه کشتی رنج سفال
دل گمگشته ز نقصان فراق آید باز اگرش داعیهء وصل رساند به وصال

اما آنکه بت غرور در بر دارد و اژدهای نفس خویش را پرورش میدهد و خویش را آمادهء شهادت نمیسازد، هیچگاه جاده های با مداد عشق پیش چشمهایش گشوده نخواهد شد.

از عشق دم مزن چو نگشتی شهید عشق دعوی این مقام درست از شهادت است
بشکن بت غرور که در دین عاشقان یك بت که بشکند به از صد عبادت است

شیخ کمال به خاطر طی مراحل و عبور از شهر هفت گانهء عشق به داشتن مرشد و سالکی باورمند است. این جاست که میتوان گفت که او از شمار اویسیان نیست:

سفر عشق تو بی واسطهء راهبری حد ما نیست که این ره رهء نا محمود است

او زمانی که عقل را در برابر آئینه عشق قرار میدهد و یا زمانی که در راه رسیدن به آن حقیقت بر تر عشق را با عقل مقایسه میکند به باورداشتهای زیرین میرسد:

به آب علم بشوید روی دفتر عقل به نور عشق رخ عقل را سیاه کند

ویا:

به نور عقل نتوان رفت راه عشق ای عاقل ز مجنون پرس گر داری طریق حی لیلی را

به همینگونه:

خلعت عشق نیست لایق عقل کاین قبا بر قد دل آمد راست

در نزد کمال مراد از علم، عمل است و آنانی را که علم آموخته اند ولی توسن عمل در بر هوت جهالت و ظلمت میرانند نکوهش میکند:

هدایه خواندی و هیچت هدایتی نرسید عنا کشیدی و زانسو عنایتی نرسید

ویا:

در علم محققان جدل نیست از علم مراد جز عمل نیست

هر چند گلهای شگوفه های باغستان شعر شیخ کمال رنگ و بوی عشق دارد، ولی گاه گاهی سایه اندیشه های حکیم عمر خیام را دراین باغستان میتوان دید. مثلاً در بیت های زیر:

رو غنیمت شمر امروز کمال این دم را زانکه اندر دو جهان خوشتر از این یکدم نیست

و یا:

دست ندید عاشق مسکین به گردنی تا روزگار خاک وجودش سبو کند

و یا:

بسی به وصف دهانت کمال موی شکافت نیافت یک سر مو رمز این معما را

و به همینگونه:

کنون گر فرصتی داری منه یك لحظه جام از کف که خواهد کوزه گر روزی ز خاك ما سبو کردن

غزلهای کمال از نظر وزن، قواف و ردیف گسترده گی قابل تاملی دارند. حتی کمال در وزن شاهنامه نیز غزلی دارد با این مطلع:

بباید بر ان دیده بگریست زار که محروم ماند ز دیدار یار

مگر غزلهای او عمدتاً دارای هفت بیت اند. آنگونه که خود گفته است:

به بوستان سخن مرغ طبع من اکثر به هفت بیت شود نغمه ساز و قافیه سنج

گاهی هم که غزلی از هفت بیت کوتاه تر میشود، این گونه مساله را مطرح میکند:

کمال این یک غزل گو باش کوتاه ز کوتاهی چه نقصان زبور است

کمال در میان شاعران همروزگار خویش از همه بیشتر به خواجهء رندان حافظ شیرازی نظر داشته است هر چند در غزلی که به اقتفای او سروده است، خواجه حافظ را به طرز غزل هم عنان خویش نمیداند، ولی تا جایی که از بررسی دیوان او بر می آید، فراوان غزلهای خویش را به اقتفای او سروده است:

به قول شاعر و دانشمند ارجمند استاد واصف باختری تعداد چنین غزلها در حدود پنجاه الی چهل غزل میرسد. جهت روشن شدن موضوع در ذیل نمونه هایی می آوریم:

حافظ:

شراب تلخ میخواهم که مرد افگن بود زورش که تا یکدم بیاسایم ز دنیا و شر و شورش

کمال:

دل مسکین که میبینی از این سان بی زرو زور به خاك میکده کردند خوبان مفلس و عورش

حافظ:

فاش میگویم و از گفتهء خود دلشادم بندهء عشقم و از هر دو جهان آزادم

کمال:

باز در عشق یکی دل به غلامی دادم — خواجه را گو که بیاید به مبار کبادم

حافظ:

بیا تا گل برافشانیم و می در ساغر اندازیم — فلك را سقف بشگافیم و طرح نو دراندازیم

کمال:

بیا ساقی که بیخ غم به دور گل بر اندازیم — بت گلرخ طلب داریم و مل در ساغر اندازیم

حافظ:

به مژگان سیه کردی هزاران رخنه در دینم — بیا کز چشم بیمارت هزاران درد بر چینم

کمال:

چه خوشتر دولتی زینم که یکدم با تو بنشینم — که سیری نیست از رویت مرا چندان که میبینم

حافظ:

گرچه افتاد ز زلفش گرهی در کارم — همچنان چشم گشاد از کرمش میدارم

کمال:

من ازاین خرقهء آلوده که در بر دارم — عار باشد اگر از خویش نباشد عارم

حافظ:

مژدهء وصل تو کو کز سر جان برخیزم — طایر قدسم و از هر دو جهان برخیزم

کمال:

نقد جان چیست که در دامن جانان ریزم — گر بخواهد ز سر جان و جهان بر خیزم

حافظ:

منم که شهرهء شهرم به عشق ورزیدن — منم که دیده نیالوده ام به بد دیدن

کمال:

چو زلف یار ز خود لازم است ببریدن — گر اختیار کنی خاك پاش بوسیدن

حافظ:

آن سیه چرده که شیرینی عالم با اوست — چشم میگون لب خندان دل خرم با اوست

کمال:

آن چه روییست که حسن همه عالم بااوست — دل در آن کوی نه تنهاست که جان هم با اوست

حافظ:

زان یار دلنوازم شکریست با شکایت — گر نکته دان عشقی بشنو تو این حکایت

کمال:

ای ابتدای دردت هم درد را نهایت　　عشق ترا نه آخر شوق ترا نه غایت

حافظ:

زلف آشفته و خوی کرده و خندان لب و مست　　پیراهن چاك و غزلخوان و صراحی در دست

کمال:

ما درین دیر فتادیم هم از روز الست　　رند دیوانه و قلاش و خراباتی و مست

حافظ:

کی شعر تر انگیزد خاطر که حزین باشد　　یك نکته ازین معنی گفتیم و همین باشد

کمال:

گر مه به زمین باشد آن زهر جبین باشد　　دوری طلبد از ما مه نیز چنین باشد

حافظ:

زگریه مردم چشمم نشسته در خون است　　ببین که در طلبت حال مردمان چون است

کمال:

مرا که ساغر چشم از غم تو پر خون است　　چه جای ساقی و جام شراب گلگون است

حافظ:

شاه شمشاد قدان خسرو شیرین دهنا　　که به مژگان شکند قلب همه صف شکنان

کمال:

نقش کن خواجه علی رغم صراحی شکنان　　باده‌ء تلخ به یاد لب شیرین دهنان

دومین شاعر که بیشتر مورد توجه کمال قرار گرفته، شیخ اجل سعدی شیرازیست. شیخ کمال پـــاره یی از غزلهای او را اقتفا کرده ، جواب گفته است. مثلاً نمونه های زیرین:

سعدی:

ای به خلق از جهانیان ممتاز　　چشم خلقی به روی خوب تو باز

کمال:

آرزو برده ام که چشم تو باز　　کشدم گه به عشوه گه به ناز

سعدی:

زمن مپرس که از حال او دلت چون است　　از او بپرس که انگشتهاش در خون است

کمال:

خوشست اگر به حدیث کمال داری گوش		لطافت سخنانش چو در مکنون است

سعدی:

معلمت همه شوخی و دلبری آموخت		جفاو ناز و عتاب و ستمگری آموخت

کمال:

ترا دو رخ به دو خط فن دلبری آموخت		تو از دو جشم و دو چشم از تو ساحری آموخت

سعدی:

عیبی نباشد از تو که بر ما جفا رود		مجنون [illegible] لیلی کجا رود

کمال:

گیرم که از تو برمن مسکین جفا رود		سلطان توی و کس به تظلم کجا رود

سعدی:

زانگه که بر آن صورت خوبم نظر افتاد		از صورت بی طاقتم پرده بر افتاد

کمال:

باز این دل غم دیده به دام تو در افتاد		بس مرغ همایون که به تیر نظر افتاد

سعدی:

تو آن نه ای که دل از صحبت تو برگیرند		وگر ملول شوی صاحب دگر گیرند

کمال:

به مجلس که ز روی تو پرده بر گیرند		چراغ و شمع بر افروختن ز سر گیرند

از مضمون پاره یی از غزلهای شیخ کمال چنین بر می آید که جداً با خواجهء شیراز حافظ و شیخ اجل سعدی داعیهء همچشمی داشته ، شعر آن دو را بر تر از شعر خویش نمیدانسته است که جای تامل است.

چنان که زمانی این غزل معروف خواجه :

ستارهء بدرخشید و ماه مجلس شد		دل رمیدهء ما را انیس و مونس شد

استقبال میکند، در مقطع غزل خویش میگوید که :

نشد به طرز غزل هم عنان ما حافظ		اگرچه در صف سلطان ابوالفوارس شد

به همینگونه فکر میشود که بیت زیرین کمال:

(اگر مرغی بردبر پر به هندوستان		بیاید طوطی و از تو سخن آموختن گیرد)

به تعریض اشاره دارد به این بیت معروف خواجهء شیراز:

شکر شکن شوند همه طوطیان هند		زین قند پارسی که به بنگاله میرود

همچنین* در غزلی که در اقتفای سعدی سروده است، این سان خود را با سعدی مقایسه میکند:

گفتم جوابی نه کم از گفتهء سعدی — بل این دو غزل خوبتر از یکدگر افتاد

این لاف نه در خورد کمال است و لیکن — «با رستم دستان بزند هر که در افتاد»

مصراع آخرین از سعدی است که کمال آنرا تضمین نموده است.

کمال نه تنها در شاعری خویش را از حافظ و سعدی کم نمی انگارد، بل زادگاه خویش خجند را نیز با شیراز به گونهء زیرین مقایسه میکند:

گر بنگرد روان آب سخن کمال — از چشمه سار خویش رود خضر شرمسار

خاك خجنند را که زشیراز کم نهند — آرد به روزگار تو آبی به روی کار

یکی از ویژه گی های غزلهای کمال اینست که در آینهء این غزلها گاه گاهی جلوه های رنگین فوکلور چون ضرب المثل ها، کنایه ها، و اصطلاحات عامیانه، عادات و باورداشتهای مردم تجلی میابند و این تجلی بر رنگینی شعر او می افزاید. در ذیل به نمونه های چند اشاره میکنیم:

انگشت نما: کنایه از شهرت همه گیر در میان مردم است.

آن چنان زارو نزار است ز سودات کمال — که چو ماه نو از ابروی تو انگشت نماست

لب گزیدن: کنایه از حسرت خوردن و گاهی کنایه از تعجب است.

گفتمش از دهانت ای بت چین — کام من غیر لب گزیدن نیست

دیوارها موش دارند و موشها گوش دارند. (ضرب المثل)

دیوار گوش دارد و اغیار نیز چشم — ماچون کنیم با تو ز برون در سخن

بی آب شدن: کنایه از رسوایی و بی آبرو شدن است.

بر درت بی آب شد اشکم ز بسیار آمدن — بعد از این میخواهد از چشمم گهر بار آمدن

فلك زده: کنایه از انسان بدبخت است.

بر فلك میزنم ناوك آه — تا بدانی که ما فلك زده ایم

سودای خام یا سودای پختن: کنایه از آرزوی محال است.

دل که سودای تو میپخت کبابش کردی — بود غمخانه و دیرینه خرابش کردی

ویا:

دل خواهدم که گیرد سیم برش در آغوش — بیچاره در سر خود سودای خام دارد

* تا باد نباشد درخت نمیجنبد. (ضرب المثل)

راست گویند که هوائیست ز تو بر سر سرو — که بجنبد به یقین هیچ درختی بی باد

کج بنشین و راست بگو. (ضرب المثل)

ابرویش گفت که فتنه کار منست کج نشستست و راست میگوید

از خود رفتن، کنایه از بیهوش شدن است:

عکس رویت چوفتد در آب، آب از خود رود گر فشانی زلف مشکین، مشك ناب از خود رود

دندان طمع برکندن، کنایه از نا امید شدن است:

گر به سنگ ستمم عشق تو دندان شکند دل ز لبهای تو دندان طمع بر نکند

گوشمالی دادن، کنایه از توبیخ کردن است:

چشم مستت گوشمال نرگس پرتاب داد طاق ابرویت شکست گوشهء محراب داد

چیزی که عیان است چه حاجت به بیان است.

گفته ای صورت او مظهر معنی است کمال خود عیان است چه حاجت به بیان است

مامور معذور است:

برغمزه منه گناه خونم مامور بود همیشه معذور

خدا عقلش بدهد یا مرگ:

ناصحم گفتا به خوبان دل منه ای خد، عقلش بده یا آن دگر

آب که از سر گذشت چه یك نیزه و چه صد نیزه: (ضرب المثل)

من گریان چکنم زان مژه و غمزه حذر چه یکی نیزه چه صد چون بگذشت آب از سر

کجدار و مریز:

گفته ای زلف کجم دار به دست دگری ماند این نکته همان نکته که کجدار مریز

ویا:

کرد خون همه بر گردن زلف گفت کجدار طره را و مریز

گندم نمای جو فروش، کنایه از انسان دو روی.

روی گندم گون نمودو جان من جو جو فروخت از چه رو شد این چنین گندم نمای جو فروش

آتش که در گرفت، خشك و تر میسوزد. (ضرب المثل)

تا خشك و تر نسوزد منشین به دل فروزان پروانه سوخت آنگه با شمع شد مجالس

سیب بخور، ترا به باغ چه کار: (ضرب المثل)

به بوسه سیب ذقن گفتمش ز گلشن کیست کمال گفت تو انگور خور مپرس از باغ

کارد به استخوان رسیدن، کنایه از نهایت تحمل و حوصله است و به همینگونه کنایه از نهایت بیداد.

لیکن نبرم ز تیغ تو مهر گر کارد رسد به استخوانم

دست شستن: کنایه از صرفنظر کردن است.

کمال از خضر پرسش کرد وصف چشمه اش گفتا چون آن لب دیده ام زان آب اکنون دست میشویم

دهان باز: کنایه از حیرت و تعجب

آن لب لعل کزو مانده دهان همه باز باز بپرسید که دوشینه به دندان کی بود

زخم زبان : کنایه از طعنه زدن است.

دلم به زخم زبانها نگردد آزرده که عاشق تو بودم کندهء تیر خورده.

افزون بر ضرب المثلها و کنایه های عامیانه در غزلهای کمال پاره یی از باورداشتها، عادات و اصطلاحات مردم نیز راه یافته است که به یاد کرد چند نمونه بسنده میکنیم:

چراغ روی تو بر آفتاب میچربد لبت ز قند چو حلوای ناب میچربد

ویا:

به حسن از ماه میچربی و پروین اگر منکر شوی اینک ترازو

چربیدن به اصطلاح مردم به مفهوم برتر بودن و فایق آمدن است. در میان مردم باوری وجود دارد که زمرد چشم مار و اژدها را کور میسازد. هر چند این مساله قبل از کمال نیز در ادبیات فارسی‌دری باز تاب یافته است. ولی این مساله را با یك موضوع اجتماعی پیوند میزند و اینگونه بیان میکند:

شراب لعل مینوشم من از جام زمرد گون که زاهد افعی وقتست که میسازم بدین کورش

به همینگونه رسم نان و نمك به پیشواز مهمان آوردن را در یك تصویر عاشقانه خیلی زیبا و دلنشین بیان میکند:

گر کشی خوان وصل، لب بگشا که نخست از نمك کنند آغاز

در دیوان کمال افزون بر سعدی و حافظ نام شاعران دگری نیز آمده است که کمال مرتبهء شاعری خویش را در مقایسه با آنها در ترازوی شعر میزان نموده است.

مثلا از مولانا و عطار بدینگونه یاد میکند:

یار چو بشنید گفتار کمال گفت مولانایی و عطار ما

و باز هم عطار:

صوفیان مست شدند از سخنان تو کمال که در انفاس تو بوی سخن عطار است

از عصار تبریزی اینگونه یاد میکند:

عاقبت عصار مسکین مرد و رفت خون دیوانها به گردن برد و رفت

و بازهم در جای دگری:

معایبی که در اشعار خواجه عصار است نوشته آن همگی در درون دیوانهاست

جداولی که بسرخی کشید در دیوان | نه جدولست به معنی که خون دیوانهاست

سخنان سلمان ساوجی را هیچ میداند:

یکی شعر سلمان از این بنده خواست | که در دفترم از آن سخن هیچ نیست
بدو گفتم این نکته هارا جواب | کزان سان دری در عدن هیچ نیست
من از بهر تو مینویسم ولی | سخنهای او پیش من هیچ نیست

کمال اسماعیل:

بود وقتی کمال اسمعیل | شرف روزگار اهل سخن
به کمال تو در سخن امروز | آن کمال این شرف نداشت که من

از شعر سوزنی چنین تصویری بدست میدهد:

آواز حزین سوزنی را | مشنو که کنند عیب بسیار
خشك است همین و تیز و باریك | چون سوزن خارهای دیوار

از حکیم نظامی گنجه یی بدینگونه یی یاد میکند که با تضمین مصراع دوم نخستین بیت مثنوی "مخزن الاسرار" در حقیقت بر پایهء شاعری خویش تاکید میکند:

کرد حکیمی ز نظامی سوال | کای به سر گنج معانی مقیم
هست در انگشت کمال آن قلم | یانه عصا یست به دست کلیم
گفت قلم نیست عصا نیز نیست | "هست کلید در گنج حکیم"

به همین سان از ظهیر و انوری نیز یاد میکند و آن دو را نیز در آوردگاه سخن هم آورد خود نمیداند:

دیوان تو گر کسی بخواند | درپیش سخنوران عالم
زین گفته رود ظهیر از جای | چه جای ظهیر انوري هم
چون کوه خجند آمد این شعر | با آب بلند و نام محکم

کمال از این همه مقابله و مقایسه سر انجام به این نتیجه میرسد که:

ختم شد بر کمال لطف سخن | هر چه بعد از کمال نقصان است

کمال نه تنها لطف سخن را بر خویش ختم شده میداند، بل میگوید که بنیاد سخن از فکرت او استوار است و طرب آباد سخن از او آباد.

تا فکرت من نهاد بنیاد سخن | آباد شد ازمن طرب آباد سخن
میخواست سخن داد ز دست بی طبعان | دادم به بشارت خرد داد سخن

اسدالله غضنفر

له تصویر سره د کیسې د راوي او څیرې رابطه

جولیس پخپله یوه لنډه کیسه کې د یوه کوچني راوي له خولې لیکلي دي چې:

" دنګې، سرې، تشې، غمجنوونکې خونې" ا، کانر د دې کلمو په تفسیر کې وايي چې هلک کوچنی دی نو اول د کوټو جګوالی احساسوي او بیا سرښت او د سرښت له احساسولو وروسته د هغه په علت یعني تشوالي پوهیږي او په اخر کې د "غمجنوونکې" کلمه راوړي چې د کوټو د لوړوالي، سوړوالي او تش والي له احساسولو وروسته د هلک عاطفي غبرګون راوښيي.

د ا، کانر مطلب دا دی چې د کوچني راوي له خولې د کوټو لپاره له راغلیو ستاینومونو وروسته وراندې والی د یو روښانه انځور د جوړولو په منظور، د یو منطق په اساس شوی دی.

په پاسني انځور کې موږ په انځورونې باندې د راوي د روحي موقعیت اثر وینو. اوس به یو بل کامیاب مثال کې د راوي د فزیکي موقعیت او تصویر رابطه وڅیرو چې د پښتو کیسې د روښانو انځورونو انځورګر، سعدالدین شپون، له یوې کیسې مو درته غوره کړې‌دی. دلته راوي په اسمایي غره ولاړ دی، لاندې کابل سین ته ګوري او داسې یې انځوروي: " د کابل سین خړ، مرژواندی او کوږ ووږ، تر هغې تر سترګو کیده چې تنګ غارو ته نږدې ذ لوخو او درګو او د سین د غاړې په را لینډی شولو کې پټ شو." (۱)

د غره له پاسه چې کابل سین ته وګورو نو اول به مو د اوبو رنګ ته پام شي او بیا د هغو سست حرکت ته چې د فاصلې ډیروالی یې حرکت تر اصلي اندازې هم مرژواندی را ښيي او بیا چې له خپل لوړ موقعیت د اوبو له بهیر سره سترګې وغړوو د سین کوږ ووږوالي او تر تنګ غارو پورې یې امتداد ته متوجه کیږو.

که چیرته په یوه کیسه کې د راوي او تصویر رابطه منطقي نه وي د کیسې تصویر یا تیرې او یا دومره ګډوډیږي چې لوستونکي ته بیخي ور لیدل کیږي او احساسیږي نه.

د پښتو یوه لنډه کیسه چې د" لمر په لور " نومیږي(۲) داسې پیل کیږي: " کوچنی هلک د اوچتو غرونو په بیخ کې د کوچنیو کوډلو ورهاخواته د ډبرو پر باره ناست وو. " په دې جمله کې د " کوچنیو کوډلو ور ها خوا ته " کلمې را ښیي چې څوک دا خبرې را ته کوي هغه د غره سر یا منځ کې ناست دی. دغه جمله راته وايي چې له کوم ځایه هلک لیدل کیږي د هغه ځای او هلک تر منځ فاصله موجوده ده. یعنی راوي نه د هلک په څنګ کې ناست دی او نه د هغه په زړه کې

ناست دی. خو وروسته بیا کیسه تول د هلک د ذهن له منځه راته بیانیږي او په دې ډول د کیسې په لومړۍ تصویري جمله کې د راوي د موقعیت ناسمي انځورونې د کیسې مجموعي انځور ګډوډ کړی دی.

د راوي او تصویر رابطې ته دغسې ناپامی زموږ د کیسو ګڼ تصویرونه تت کړي او بې معنی کړي دي او د دغو کیسو د کامیابۍ مخه یې نیولې ده.

لکه څنګه چې د راوي او تصویر رابطه باید منطقي وي دغسې د څیرې او انځور تړاو هم د یو منطق په اساس پکار دی. کله چې یو کرکټر یو څه ویني، اوري او احساسوي، دغه لیدا، اوریدا او احساستیا باید د هغه له روحي او فزیکي موقعیت سره سمون ولري.

د "لمر په لور" نومې کیسه کې چې کرکټر (کوچنی هلک) د ډېرو پر باره ناست دی او د راوي موقعیت له ده څخه پاس په غره کې دی، یو ځای داسې لولو: "د لیرې کلي په مخ کې چې ایله د ماشومانو د لوبو د کوټنیو په اندازه سترګې ته راځي، سپې یې په بې نظمه او بې خونده غپا کله هم د دې فضا خوند او رنګ بدرنګ کړي." یو کلی چې دومره لرې وي چې د ماشومانو د لوبو د کوټنیو هومره کوچنی معلومیږي، له هغه ځایه به د سپو د غپا اواز څنګه را رسي؟ بله دا چې د ډېرو له بارې نه لاندې یو مست سین چې څپې یې له ډېرو سره لګیږي او یودوه نیزې پورته جګیږي، هم بهیږي. د دغسې سین وجود هم په خپل وار د غپا د اوریدا امکان له منځه وړي.

د څیرې او انځور د تړاو په بحث کې یوه بله مهمه خبره په څیرې باندې د انځور د اغیز موضوع ده. کوم اغیز چې یو تصویر او تصویري حالت یې د کیسې په کرکټر غورځوي هغه باید له یوې خوا د تصویر منطقي زیږنده وي او له بلې خوا د کرکټر له شخصي خصوصیاتو سره سمون وخوري.

دا موضوع به د بنار د منظرو په وړاندې د پښتو د دوو بیلابیلو کیسو د دوو کلیوالو کرکټرونو په عکس العمل کې وڅیړو.

د انګورو فصل(۳) په نامه یوه لنډه کیسه کې د کیسې متکلمه څیره وایي: "ښار د لومړي ځل لپاره ماته یو داروونکی موجود ښکاریده او همدا چې ځان مې د ښار په لوبو واټونو کې سرګردانه ولید نو نژدې وو چې لیونی شم، لوی لوی واټونه، هسک کورونه او ماڼۍ، ګڼ شمیر خلک او موټرونه او له دې سره سره د خلکو د شورماشور زوره وره څپه."

دلته د ښار د منظرې په وړاندې د کرکټر غبرګون غیر طبیعي معلومیږي. دغه کرکټر د یوه کم زمینه غریبکار پنځلس کلن زوی دی چې د ځان د ظلم له لاسه د کلي پرېښودلو ته اړ کیږي. دی په روحي لحاظ داړن نه دی. ښار ته تر کده کولو د مخه یو ځل د پلار د بې انصافۍ په مقابل کې داسې غبرګون ښیي: "زه ور نژدې شوم او ورته مې وویل: بس دی پلاره. او ما لا دا خبره نه وه کړې چې په ماڼۍ هم پیل وکړ خو ما مجال ورنه کړ او له متو نه مې ونیوه او دالان ته مې وایست."

دغه زلمی د پلار د مړینې او په ښار کې د ژوند موډې له تیرولو وروسته هم د پیاوړې روحیې څښتن دی. د کیسې وروستۍ جملې داسې دي: "یو ځل بیا د خپل پلار څیره را یادیږي چې راته ویل به یې ته د کور مشر یې. او داسې ګومان کوم چې په رښتیا سره اوس مشر یم... او خامخا به دا مشري را په غاړه وي..." دا وروستۍ جملې او څینې نورې جملې د دې زلمي د پیاوړې روحیې او حتی

په خان باندې تر لازمې اندازې زيات باور لرلو څرګندونه کوي. نو، هر عادي کليوال او په تيره بيا دغسې کس ولې بايد د ښار په ليدو دومره ډير وارخطا شي؟

د" ښګ مسافري" د ناول اصلي څيره (ښګ) هم چې کله په لومړي ځل ښار ته لاړ نو: " داخلې دومره لوی ښار ګوري چې خلک يکې تر له اوري، بکی دورې دورې ترله جاروخې، کوڅه له خلکو ډکه وي خو هيڅوک په هيڅا پورې اړه نه لري. ښګ دې خبرې تر هر څه ډير حيران کړی وو چې دغه خلک ولې روغبړ نه سره کوي او ولې يو بل ته سلام نه سره اچوي او ياخرنګه په کوم شي نه سره خوري؟"(۴)

ښګ يو داسې کرکتر دی چې په خپل تېر کليوالي- قبايلي ژوند کې د مختلفو کسانو له خوا له ډيرو ستونزو سره مخامخ شوی دی. همداراز د کليوالي- قبايلي ژوند د کلتور په اساس ده په خپل تير ژوند کې د يو بل په کار، کار لرل او له يو بل سره غير ضروري تعلقات پالل، ليدلي دي. نو، په ښار کې چې کليوال فرهنګ کمزوری‌او قانون د کليو په نسبت زوره ور دی، له عکس العمل څخه يو صحنه وروسته او په همدې ورځ، داسې هم کيږي:

" ښګ بې له دې چې وپوهيږي چيرته درومې بلا ارادي روان دی، يو دکاندار ور باندې غږ کړ: او ښي!

ده مخ ور واړاوه او هغه ورته وويل چې : په ښي کې دې څه شي را بار کړي دي، خرڅوې يې او که نه ؟

ده په ډير معصومانه‌لهجه ورته وويل: زاړه کالي پکې دي، ستا د ښې نه را معلوميږي خو که يې را نيسې زه هم لاس نه پرنيسم."

_ " په پاسينه، زاړه کالي څه کوم. ما چې ويل شني دې له کومه خايه راوري دي. تيرشه! تير شه! زاړه کالي دې دورې در ګزوه. د مور د.... !"

ښګ پدې خبره چې د مور د .... يې ورته وويل ډير خپه شو او بيرته ورته راوګرځيده او ورته يې وويل چې : دا ښکنځل دې ولې را ته وکړل. زه خو سپين پښتون يم. ډير لوی تيری دې را باندې وکړ. ګوره! سپې خوله خو څوک چاته نه پرې کوي.

_ " تير شه، تير شه! پرېږده دا منطق او فلسفه دې. د مور... پرته کړه مخ دې! که نه وي والله دا ګرده کوزه اوبه خو يه در باندې وشيندم.

_ وښې! بيا دې سپې خوله پرې کړه. ولې ! خو آخر تا هم کړه لونګی ترلې ده او سپين کالي دې اغوستي دي. خپله خوله دې په واک نه ده."

په دغه وخت کې درې خلور نور کسان پر را تول شول . يو سړی ښګ سوکه پورې واهه او دکاندار ته يې وويل چې: نه يې ګورې چې صحرايي دی او نوی له غرو څخه را شيوه شوی دی؟ په توکو او زموږ وتاسې په اصطلاحګانو څه پوهيږي؟ څه، تير شه پاسنی کاکا! خير دی. څه خير يوسئ. جنجال مه جوړوئ. غريب سړی يې، که پوليس خبر شو بيايي دې او خوشې په تشې به دې سرګردانه کړي. څه پخپلې خوارۍ پسې دې څه! هله! خير يوسې. ګام پر مخ واخله"

دغه وضعيت د ښګ له مخکينې غبرګون سره مغايرت لري او د دې پر ځای چې پيښې او تصويرونه د يو بل بشپړولګی رول ولوبوي له يو بل سره بې ارتباطه پاته ګيږي.

يو نيم ځل په ډرامو او کيسو کې د واقعيت او د کرکټر د اخيستون (برداشت) تر منځ تضاد ليدل کيږي. دغه تضاد د طنز د يو عالي ډول څرګندوی دی خو دلته د ذکرشويو صحنو تر منځ داسې تړاو او تناسب هم نه وينو چې طنز يې وبولو طنز خامخا يو سنتيز لري چې دلته نه شته.

د کونډې زوی په کاميابه ډرامه کې شادګل فکر کوي چې په کابل کې به مزې وکړي خو واقعيت داسې نه وي. دغه تضاد او له هغه څخه زيږيدلی سنتيز (چې د شادګل د غم لړلی انجام په بڼه يې وينو) د ډرامې اصلي او عالي طنز جوړوي.

د تصوير او کرکټر د رابطې په بحث کې يوه بله مهمه خبره دا ده چې د کرکټر له کړو سره اخښلي انځورونه معمولا له هغو انځورونو اغيز من وي چې د کرکټر له کړو بيل وي. دا وروستي ډول تصويرونه د کيسې د حرکت په لاره کې خنډ اچولي او د کيسې د اجزاوو تر منځ تړون کمزوری کولای شي. د کرکټر له کړو بيل تصويرونه احتمالاً د سفرنامې او راپورتاژ د بيان لپاره د کيسې تر هغې مناسب ښکاري.

د کرکټر له کړو بيل تصويرونه که هر څومره هم رو ښانه او ښکلي وي خو په زياته اندازه چې سر په سر راشي د کيسې په حرکت کې خنډون راولي. دا څکه چې د کيسې د حرکت روح د کرکټر کړه دي.

په دا لاندې دوو منظرو کې چې لومړی يې د کرکټرونو له کړو (دلته له کړو څخه منظور هغه عملونه دي چې استمراري نه وي ، بلکه په خاص مکان او زمان کې يو ځل واقع شي او بله يې دا خصوصيت نه لري، د اغيزې اندازه يې ډير توپير لري.

لومړی منظره : " مشينکا زړه نا زړه وه چې لاړه شي که نه شي خو بيا يې وينته ږمنځ کړل مخ يې په رومال وچ کړ، د دودۍ خونې ته لاړه.

نورو دودۍ شروع کړې وه. د ميز يوه سرته فيدوسيا واسيليونا، ديوه شتمن کور ميرمن چې خاوند يې ورڅخه ويريږي، ناسته وه، په هماغه جدي، احمقانه او خانته په ډير حيثيت قايله څيره. په بل سر کې نيکولای سرګييچ و. ميلمانه او ماشومان د ميز ښې او چپ اړخ په څوکيو ناست وو. دوه کسه نوکرانو چې لاسپټوني يې په لاس کړي او ګيراوې ورسره وې د ناستو کسانو مخې ته خواړه ږدول. ټول پوهيدل چې په کور کې جنجال پيښ شوی او ميرمن واسيليونا ته تکليف رسيدلی دی.

ټول غلي وو د ژدوولو او له ښقابونو سره د کاچوغو د لګيدلو له غږه پرته نوره چوپه چوپتيا وه. د کور ميرمن چوپتيا ماته کړه، پياده ته يې په نيولي غږ وويل: په دې پسې به څه خورو؟

پياده ځواب ورکړ: Esturgeon aLa Yusse.

نيکولای سرګيچ [د کور د ميرمن خاوند دی] په عرض ادب کې عجله وکړه، ويې ويل: "فنينا دا فرمايش ما ورکړی و، خو که دې نه خوښيږي، ورته ووايه چې نه يې ويشي، مناصرف فرمايش ورکړی و..."

د فيدوسيا واسيليونا هغه خواړه نه خوښيدل چې په خپله به يې فرمايش نه وه ورکړی، څکه خو يې سترګې له اوښکو ډکې شوې. د هغوی کورنې ډاکټر د کور د ميرمن په مروند لاس کيښود، په

نرمي يې خواهش ترې وکړ: " نور به خان نه خوابدی کوو. هسې مو هم فکرونه ستړي دي. د سيني ګل به هير کړو! روغتيا تر دوه زره روبلو ډيره مهمه ده !"

د کور ميرمن په داسې حال کې چې په يوه غټه اوښکه يې په بارخو را غړيده ، وويل: " زه په دوه زره روبلو نه يم خوا بدې، پخپله دا پيسه ما خوروي. زه په خپل کور کې غله نه شم زغملی. زه د سيني په ګل نه يم خوا بدې. هيڅ پروا نه کوي خو دا ډيره لويه نمک حرامي ده چې له ما څخه غلا کيږي. زما د دومره ښو بدل بايد دا وي... "

هر څه خپلو ښقابونو ته کوز کتل خو مشينکا ګومان کاوه چې ټول د ميرمن په خبرو پسې، ټول دې ته ګوري. ستونی يې ډک شو، ژړا ورغله، دستمال يې شونډو ته ونيوه، ويې ويل: " وبخښئ خان. نه شم کنټرولولی، په سر مې درد دی، درنه ځم. " (۵)

دوهمه منظره: " د ميلمنو د ناستې کوټه خورا ښکلې او په زړه پورې ترتيب شوې وه، برسيره په دې چې کوټه ډيره ښه تعمير شوې وه د هغې غولی ټول د موار په غاليو پوښلی دی او هم ځای په ځای پر ديوالو خورا ښکلې قالينچې چې طبيعي او د عياشی ښکلې منظرې هم پکې دي او د ارټ او صنعت له لحاظه خورا قيمتي او د ستايلو وړ دي، را ځوړندې دي. د دې لويې او ښکلې کوټې د سر خوا ته د شنه بخمل کوچونه اېښودل شوي دي. په منځ کې يې يوه نسبتاً جګه غونډې ارام چوکۍ چې سور بخمل يې پوښ دی اېښودل ښوې ده. د وره خوا ته دوې عادي چوکۍ چې هغه هم په بخمل پوښلې شوې دي، شته. د دې ټولې کوټې فرنيچر د انګلستانه راغلی دی. خورا ښکلې ښکلې پردې هم ځای په ورو په خورا زړه وړونکې ډول را ځړيږي.

د کوټې باغچه هم په خورا ښه ډول تزئينه شوې ده. په هره ونه د بريښنا راز راز څراغان را ځړيږي. د هر ډول ګلانو بوټی ته هم څراغونه وروستل شوي دي چې د دوی ښکلا په دې شپه کې عجيبه ځوندوره منظره لري. د ناستې د پاره هم په باغچه کې خورا ښکلی او مجلل ځای جوړ شوی دی، په تيره بيا د غټ مامور ځای د سپوږمۍ سره مخامخ ټاکل شوی دی.

ښک چې دا ډول ترتيبات او دا راز ژوند وليد سد يې له سره و ووت او نږدې وو چې خپل ټول حواس بايلي. ده به تل دا نورو پيشخدمتانو ته ويل: "زه چې خدای نه وژلم دغه شيان يې را باندې ليدل غوښتل."

بيا يې يوه بل ملګري ته په صميمي غږ وويل: " زه يې چې زو کړی يم ما ماشين ليدلی نه و. توبه، توبه خدايه لاری موټر خو مې ليدلی و. دوی وايي چې هغه هم ماشين دی. په دې کې شک نه شته چې هغه ته هم حيران شوی خو وم او بيا د فابريکې ماشينانو ته هم ډير حيران شوم چې څه ډول وړی وريشي او بيا په څه ډول ښکلې ټوټې پکې جوړيږي. خو سره له دې هم هيڅ شي زما سد دومره له سره نه وو بيولی، لکه د دې کوټې ښکلا او د دې باغچې زړه وړونکې منظرې!" (٦)

په لومړۍ منظره کې موږ د عمل په مقابل کې عکس العمل او د کرکترونو فعال والی وينو خو په دوهمه کې په داستاني لحاظ ډير لږ څه را ښکاري. دوهمه منظره غير فعاله ده. پر دې سر بيره لومړۍ منظره دومره روښانه ده، لکه د باران له وريدا وروسته چې سحر لمر را وخيژي خو دوهمه دومره تته ده، لکه د غروب په وخت چې په قصه خوانۍ کې روان يې او هغه هم په داسې ورځو کې چې په اونيو اونيو باران نه وي وريدلی.

په دوهمه منظره کې د " خورا ښکلې او په زړه پورې ترتیب شوې وه " او " کوټه ډېره ښه تعمیر شوې وه په خیر جملو مبهم صفتونه او قیدونه د انځورونو د فضا په تتولو کې داسې منفي اثر لري. لکه د پېښور د ښار په فضا کې یې چې دورې لري. مبهمو قیدونو او ستاینومونه د هیوادنی کیسې تصویرونو نه لوی تاوان رسولی دی چې باید بیل بحث ور باندې وشي.

پایلیکونــه:

۱ - سعدالدین شــپون. د ښکلی غـاړه، ډیـوه (مجلـه)، لومړی کـال. دوهمـه ګڼه. ۳۶م

۲ - اکبر کرکر. شـبې (د لنډو کیسـو ټولـګه)، د لمر پـه لـور، ۳۱م.

۳ - امین افغـانپور. ایلبنـد (د لنډو کیسـو ټولـګه)، د انـکورو فصـل. ۱۳۰م.

۴ - نورمحمد تـره کـي، د بنګ مسـافري، کـابل. لومړی چـاپ. ۳۲. ۳۳م

۵ - انتـون چیخـوف، لانجـه (لنډه کیسـه)، داسـتانونه (مجلـه)، لومـړی ګڼه. ۱۹. ۲۰م

۶ - نـور محمـد تـره کـي، د بنګ مسـافري. ۱۴۲، ۱۴۳، ۱۴۴م.

اجمل پسرلی

د سوالګر خيرې

سوالګر د ښاغلي اکبر برې د لنډو کيسو لومړۍ ټولګه ده چې د دانش کتاب پلورنځي له لوري په پېښور کـې د روان لمريز کال د وري په مياشت کې خپره شوه. په دې کتاب کې يوولس کيسو ته ځای ورکړل شوی دی.
ښاغلی برې په خپله سريزه کې ليکي چې: "سوالګر، کم اصل، يو غشی او دوه نښې، لوګرې" يې د خپل ژوند د لومړنيو کيسو ځخه، او (فراري، يادونه، لانجه او بايد ليکوال شي) کيسې يـې لـه لـږ را وروسـته کلونـو ، او د (کمپيوټر، لويه سيکه، بوين) يې له خپلو نويو کيسو ځخه ګڼلې دي.
د کتاب مهتمم د رنګينيو شاعر ښاغلی کاروان کيسې د زمان په حساب پرله پسې نه دي را اخيستي، نپوهيږم چې ښاغلی برې کيسې همداسې ور سپارلي وې او که څرنګه! خو ښه خبره دا ده چې په سريزه کې دا جوته شـوې ده چې لومړۍ کيسې کومې دي او را وروسته کومې. دغه راز د يوې کيسې پرته پـه نـورو درسـتو کيسـو کـې د ليکنې نيټه هم کښل شوې ده چې دا کار د کره کتونکو سره دا مرسته کولای شي چې ليکوال د کيسو وده پـه زماني لحاظ وځيږي.
ښاغلی برې خپلې کيسې هغو اتلانو ته اهدا کړې چې په ده يې کيسې ليکلې دي. ده په خپلو کيسـو کـې هـم اتلانو ته خاصه پاملرنه کړې ده، او دا د ښوه‌کيسو يوه ارزښتناکه ځانګړتيا ده ځکه چې د کيسو د کره کتونکيـو په اند کيسه تر خيرې را څرخي او بې خيرې کيسه، کيسه کيدای نه شي.
يو شمير څېړونکي په دې باور دي چې د ښښتو ځنې کيسه ليکوال خيرې ته اهميت نه ورکوي او تر خيرې ښښه او اسلوب ورته مهم ښکاري. که څه هم دا ټول توکي هر يو خپل ځای لري خـو کرکـتر تـه پـه کيسـو کـې لـږ پاملرنه او د هغه کمزورې انځورونه کيسه له ښنو غورځوي. د سوالګر ليکوال د خپلو کيسو خيرې تـر خپلـه وسـه روښانه انځور کړي دي، لکه د بوين په کيسه کې خيره (بوين) داسې کښل شوې ده:
" خوان زاړه نصواري کالي اغوستي و. سپينه کندهارۍ خولۍ يې پـر سـر وه چـې لـه ډيـرې خيرنتيـا خـړه او غوړ بحه بريښيده. له خولۍ را وتلي پيکی يې پريشانه په تندي پروت و. اوږد ډنګر مخ يې اوږدې رنګرې ږيـرې نورهم اوږد او بې ډوله کړی و. يوه يو څه ور باندې غټه خـړه کرتـۍ يـې هـم پـه تـن وه چـې د ده پـه نـري هډوکين ځان کې نه سمې کرتۍ ته ورته وه، نه بالاپوش ته ... توره رېږې موزه يې په ګينه پـښه وه او ښۍ پـښه يې يوازې په رنګارنګ زړوکو کې پيچلې وه، هغه هم دومره پريړه چې د پړتاګه د ښۍ پايڅې خيرلو ته اړوتی و. تر څو يې ښښه په پايڅه ښوتلای شي. د تلو په وخت کې يې دا پايڅه، لکه يوه بدرنګه زړوکی خوشـې پـه پـښه پورې خريده او وخت نا وخته به يې له ځمکې دوړې پورته کولې."

د سوالګر په پانو کې دې ته ورته څېرې را پېژندل شوې دي او ښاغلی برې د هغو په انځورونه کې د نويو کيسو له تخنيکه کار اخلي په زاړه دود خپلې څېرې وچ په وچه په اوږدو تقريري عباراتو نه را پېژني، بلکه ډېر خايه برياله شوی چې کرکټرونه له خپله منځه يعنې له خپلو سوچونو، د چاپېريال له تجربو، عملونو، خبرو، حرکاتو (لکه د لاسو خوځول، خندا، موسکا) او داسې نورو په واسطه انځور کړي، او دا انځورونه خای خای په کيسه کې په ډېر هنرور اندې کيږي چې په هغې سره د کرکټر د معرفي کولو دري واړه ارزښتمنې خواوې (ټولنيز، نفسياتي او ظاهري خوا) لوستونکي ته ور پېژندل کيږي، لکه په همدې کيسه (بوين) کې د بوين کرکټر دري ګونې خواوې د نورو کرکټرو له خبرو اترو، د راوي Narrator له لورې، او خپله د بوين د خبرو له لارې داسې وړاندې کيږي:

۱ - د راوي Narrator له لارې په پورتنيو کرښو کې يادونه وشوه.

۲ - د نورو له ډيالوګه:

" موږ لا همداسې تلوده پښتلوې ته په خپل مجلس اخته وو چې سيدال کين اړخ ته بد وکتل... او وې ويل:

ـ بيا دا بوين راغی

... ور ومې پوښتل:

ـ څوک دی؟

سيدال ... وويل:

ـ نه يې پېژنې؟

ـ نه.

او په داسې حال کې چې قارجنې سترګې يې لا جګ نري خوانکې ته نيولې وې پسې زياته کړه:

ـ شکر چې نه يې پېژنې. ګني اوس به ته هم زموږ غوندې د هغه له راتلو ډاريدې".

۳ - د بوين له خبرو:

بوين: " ډير مه را نژدې کيږه په ازاب نه شې.

ـ ... داډ مې ورکړ ـ

نرې مې وپوښتل:

ـ د همدې خای يې ؟

بوين: نه ... له ارزګانه راغلی يم.

ـ دلته دې څوک شته ؟

بوين: ـ نه ... هيڅوک مې نشته يوازې يم.

ـ په پښې دې څه شوي دي؟

بوين: ـ د خدای په قار ککره ده! ... خدازده د چا ښيرې را پسې وې چې دا ټکه را باندې ولويده... دا ړپې پنځمه مياشت ده.

مخامخ د نانوايي دوکان ته يې اشاره وکړه او پسې زياته يې کړه:

ـ تازه دلته مزدور شوی وم ... خوشاله وم چې مور او پلار ته به روپۍ وليږم..."

له دې ډيالوګه وروسته بوين خپله ټوله کيسه کوي چې څه وخت له ارزګانه راغی، څرنګه يې ګولۍ وخوړه او څه ډول يې پښه خرابه شوې ده.

نور په دې ډول د خيرې په دريو خواوو داسې پوه شوو چې

۱ - ظاهري خوا حوال سړی دی، ناروغ دی. په وه دنګ دی. له رنګه ډير خوږجن نه دی، خوار دی

۲ - تولنيز اړخ يې خواري کښ و. له ناڼاى سره يې مزدوري کوله. د سيمې د اکثره خلکو ترې کرکه کيده.

۳ - نفسياتي اړخ: غمجن. مايوس

همداوړ د (لويه سيکه) په کيسه کې د مرجانې ابی کرکتر ښه برياليٰ انځور شوی دی.

" مرجانه ابی له تنې وړه او ډنګره خو د خپل عمر په نسبت تکړه کونده وه. غټې خړې سترګې. سپين رنګري ويښته. چې د ککرۍ له منځه يې د سر دواړو خواوو ته ږمنځ کړي وو او نسبتاً غټه ډونګه پړه او نرۍ اوږده زنه يې وه بې غاښو وړه خوله يې په مخ کې يو څه سره ښوتلې وه. داسې چې که پزه او زنه لږ نور هم اوږده شوي وای. ضرور به يې د پزې څوکه په زنه لګيدلې وای د خدا په وخت کې به يې هميشه د خپل نور تکري پيڅکه خولې ته نيولې چې څوک يې کنداسه خوله ونه ويني. غنم رنګه وچ زيښلي مخ او پراخ تندی يې غونډ ګونځې ګونځې و يوازې د را وتليو باڼوکانو او زنې د مخ پوټکی يې ښوی پاتې شوی و. او مدام به روڼ خليده. لکه په خپل ټول مخ کې چې يې يوازې همدا درې تکي غوږ کړي وي ... که و وړ وکه زوړکه نروکه ښخه . ټولو په درنه سترګه ورته کتل...

دا هم د کلي د لوی او واړه خدمت ته ولاړه وه او پر ټول کلي يې ګرانه کړې وه... که به د چا کره څوک ناروغه شو. نو بس د مرجانې ابی په جوشاندو او درملو به جوړيده که به د چا لور او خور واده کيده هم به يې د واده ترتيبات د مرجانې ابی په مشوره کيدل... او د ښځينه مړو مينځل او په کفن کيدل خونو بيا بيخي د مرجانې ابی په غاړه وو ... هر څل چې به سره مخامخ شوو . نو ضرور به يې يوه يا بله ډيره په زړه پورې کيسه رانه وکړه."

د کيسې تر پايه پورې د مرجانې ابی څيره لوستونکي ته ښه روښانه انځوريږي. د ښاغلي بری حتی په خينو لږ ستروزو ... سره کې هم ... کرکتر کيسه پيدا کولای شو. د يوه غشي او دوه نسني په کيسه کې د جانان کرکتر داسې کش شوی دی

" ور خلاص شو تاته يې يو ځنګ چارشانه سړی له پريرو بريتو او غټو سترګو سره را ښکاره شو، چې د مخ غوړيچن پوټکی او لوی قوي بدن يې د ليدونکو په زړه کې ځای په ځای ويره او کرکه زيږوله".

د سوالګر ډيرې څيرې په خپلو کړو او خبرو کې د کيسې له پيښو سره سمې پر مخ بيول شوې دي که څيره په ظاهري ښه خواره کښل شوې. لکه په سوالګر کې سوالګر. په فراري کې مسلم.عثمان او شيرجان، په لوګري کې ميرا جان په بوين کې بوين او په يادونه کې سپين زيری. نو په خپلو خبرو او اعمالو کې تر اخره همداسې خوار پاتې شوي دي او کومې څيرې چې په ظاهري او ټولنيزې ښې ودانې انځور شوې. لکه په يوه غشي او دوه نسني کې اکرم خان او په لوګري کې شهباز خان. نو هغوی تر پايه په منطقي ډول ودان پاتې شوي دي. او کم اصل په کيسه کې (اودولا جان) او د بايد ليکوال شي په کيسه کې هلاړ او زوی په نفسياتي لحاظ برياليٰ څيرې ښکاري.

خو لدې کامیابی سره سره ځای ځای د ښاغلي ليکوال څيرې سره ورته دي او لوستونکیٰ د دې ګومان کوي چې يوه څيره په څو کيسو کې سره اوړي را اوړي او په هم هغې بوې څيرې وروړتو دې سرې راځي. لکه دا لاندينی څيرې چې يو مخ يو شی دی

سوالګر د سوالګر په کيسه کې

خوار دی. دنکر دی، ړیره لري، سترګې يې وړې دي، خلق تنګه دی. خوړند سر يې نيولی وي. پـوزه سـغوي.
کله په غټو ګامونه ټک کوي، انديښمن وي، خادر لري.
عثمان د فراري په کيسه کې:
خوار دی، ډنګر دی، ړيره لري، خلق تنګه دی. خوړند سر يې نيولی وي. په غټو ګامونو ټک کـوي. انديښمـن دی. خادر لري، سر د تاييد په علامه ښوروي، پوزه سغوي
اسلم د فراري په کيسه کې:
خوار دی، ډنګر دی، ړيره لري، خلق تنګه دی، خوړند سر يې نيولی وي.په غټو ګامونو ټک کـوي، انديښمـن دی، خادر لري، سر د تاييد په علامه ښوروي.
په همدې کيسه کې شيرجان:
خوار دی، ړيره لري، خلق تنګه دی، خوړند سر يې نيولی وي، په غټوګامونـو ټـک کـوي، سـر د تـائيد پـه علامـه سوروي، پوزه پاکوي.
همدارنګه ملک جميل چې په همدې کيسه کې يو فرعي کرکتر دی، د پوزې سغولو عادت لري.
ولسوال د همدې کيسې يو بل فرعي کرکتر دی:
حلق تنګه دی، د کېچه مار په شان له قاره پنبيږي، انديښمن شي، سر ښکته اچوي.
د لوګري په کيسه کې ميراجان:
خوار دی، خلق تنګه دی، سر يې خوړند نيولی وي. د مخ اوتندي خولې په لستوڼي پاکوي (شيرجان په فراري کې د' کار کوي.)
په همدې کيسه کې شهبازخان:
ودان دی. خلق تنګه دی، سر د تاييد په علامه ښوروي، ړيره لري. په غټو ګامونو ټک کوي، د فراري ډ ولسوال په خير له قاره د کېچه مار په خير پنبيږي او لکه څه وړ چې ولسوال شيرجان ته وايي خنزيره، دی بزګر ته وايـي خنزيره
د کم اصل په کيسه کې:
اودولا جان خوار دی. خلق تنګه دی.
د يوه غشي او دوه نښې په کيسه کې:
اکرم خان: پوزه سغوي. خان دی. سترګې يې (لکه ميوند د کمپيوتر په کيسه کې) غټې دي.
د لانجه په کيسه کې ولسوال:
خلق تنګه دی. سر د تاييد په علامه خوځوي. سر يې خوړند نيولی وي
عسکر په همدې کيسه کې دنکر دی
قوماندان: خلق تنګه وي. سر د تاييد په علامه ښوروي.
په همدې کيسه کې نورې فرعي څيرې، لکه خان مير سر د تاييد په علامه ښوروي. په غټو ګامونو ټک کوي.
بوډا بندي: ړيره لري. خلق تنګه دی. پوزه سغوي. خوار دی. لکه سوالګر په سوالګر کې توخيـږي.يـو بـل پـه همدې کيسه کې په يوه پښه ګوډ دی (لکه بوين د بوين په کيسه کې .)
د بوين په کيسه کې
سيدال: خلق تنګه دی. سر يې خوړند نيولی وي

بوین خوار دی، ړیره لري، ډنګر دی. سترګې یې وړې دي.
راوي په همدې کیسه کې خلق تنکه دی. سر یې خوړند نیولی وي، په غتو ګامونو تګ کوي،سر د تایید په علامه شوروي
په لویه سیکه کې راوي خلق تنکه دی. خوړند سر ځي. په غتو ګامونو تګ کوي.
په همدې کیسه کې د مرجانه ابی: خواره ده، ډنګره ده، غټې سترګې لري، خلق تنکه ده، په غتوګامونو تګ کوي. سر یې خوړند نیولی وي، پوزه سغوي.
دیادونو په کیسه کې سپین ږیری:
خوار دی. حلق تنکه دی، څادر لري. خوړند سر په لاره ځي، په غتو ګامونو تګ کوي، سر تایید په علامه خوخوي. پوزه سغوي. اندیښمن دی، ږیره لري.
پورتني کرکترونه په یوه نه یوه ډول په خپل کړو او خواصو کې سره ورته دي، او ځني خو یې یو مخ یو شی دي. د ځینو څیرونکیو په وینا کیدای شي چې ځنې کیسه لیکوال په نژدې زماني واټن کې لږ سره ورته څیرې په دوو بیلو کیسو کې انځور کړي، سره لرې زمان کې د توارد له امله سره ورته کرکترونو سره په جلا کیسو کې وړاندې کړي خو په سوالګر کې په اوږده او لنډ واټن کې لیکل شویو کیسو کې ورته څیرې وینو. د دې څیرو له ورته والي سره سره د سوالګر د لنډو کیسو ټولګه په پښتو کیسه لوستونکی ښه زیری دی.

عبدالغفور ليوال

بينوا درمانګر او " د کلورنځور "

د ختکو له کورنۍ څخه را وروسته، له يو څو شاعرانو پرته، دلته په افغانستان کې د يو څه مودې لپاره پښتو شعر يو څه مانيجن ښکاري. دا څکه د هنر ښاپيرۍ لږ څه ترې مروره وه او دغه ښکلې ښاپيرۍ له نازه د هغه جونګړې ته نه راتله. پښتو شعرو، ژوندی و خو د نوي او زاړه د بيلتون شپې ورځې يې تيرولې، پښتو شعر له (سترګې دې بادام دی) څخه (د نظر د لمبو سيوري) ته اوښت او له خپلې جونګړې څخه يې مانۍ جوړوله. څکه نو تر هغوچې مانۍ جوړيده د هنر ښاپيرۍ يې خبر نه اخيسته. د دغه ښاپيرۍ د پخلا کولو هڅې د همدې پيرۍ په لومړيو لسيزو کې پيل شوې اروابناد بينوا پيل کړې، مجروح (پلار او زوی دواړو) پيل کړې، لايق پيل کړې او ايله د دغې پيړۍ د دوهمې نيمايي په پيل کې دا هڅې کاميابې شوې او ښاپيرۍ ورو ورو او په ناز ناز د پښتو شعر مانۍ ته را روانه شوه تر هغو چې اوس اوس يې ځان د دې مانۍ ملکه کړ.

زموږ د شعر د نوښت يو معمار اروابناد استاد بينوا دی. هغه له " پريشانه افکار" و څخه پيل وکړ او " د هسک بيغله " ته ورسيد (چې د هغه اروابناد له مړينې څو کاله وروسته خپور شو). استاد بينوا د دغه کتاب په خينو شعرونو کې د پښتو شعر، نوي، تمثيلي او ښکلاييز پير ته رسيدلی دی، نورو ته يې لاره پرانيستې او زوړ يې نوی کړی دی. په رښتيا سره چې خومره ستونزمن خو ويارمن کار دی د زړو نوي کول، ښکلي کول او آغلي کول.

استاد بينوا " د کلورنځور " په شعر کې د نوي هنري تمثيلي شعر، بيلګه وړاندې کړه. که څه هم چې دا ډول هڅې د استاد پژواک او نورو له خوا هم شوې وې او بيلګه يې " کليمڼه داره روپۍ " ده خو دا هڅې دومره هنري خواک نه لري او په هغه ډول چې بينوا په خپل دې شعر کې هنر ته پام کوي دوی يې نه کوي. " کليمه داره روپۍ " يوازې د روايت او کيسې ارائه او تمثيل دی هلته کلمات يوازې يوه مانا لري برسيرنه او منطقي مانا خو " د کلورنځور" کې بيا هر څه بدل دی دلته سمبول شته، شعري پيچلي انځورنه اوړي را اوړي. اساطير په کې ځان ځرګندوي او کلمات هريو له خپلې بر سيرنې مانا پرته د يوه کلي مفهوم يا د کومې ذهني تولنې استاز يتوب کوي. هره کلمه کولای شي څو پيښې، شيونه، زماني او مکاني موقعيتونه تداعي کړي. او په دې ډول ويلای شم چې د پښتو شعر په اوس مهالي بهير کې شاعرانه کلماتو خپل حق موندل له همدې شعر څخه پيل

کړل په دغه شعر کې که څه‌هم د طنز شتون د شعر د سخیانګې له حدیث څخه تر یوه حده خواک احلي خو بیا هم منځپانګه د ښیو ښکلو شاعرانه تصویرونو په مرسته جلنه افقي دهني لاره وهي.

په شعر کې د برجندي او مخامخ طنزي ارائې لپاره ځای شته. شعر جدیت غواړي او هره کلمه چې د شاعر له خوا کارول کیږي ډیر دروند مسوولیت لري شاعرانه کلمات خورا ګرانبیه او ارزښتمن دي او استاد بینوا دې آرته هومره پام نه دی ساتلی. د شعر روایتي جوړښت که څه هم تر یوه حده استاد داسې طنزیه ژبې کارولو ته مجبوروي خو همدا طنزي ارائه یو څه پوښلې هم کیدای شوه.

د دغه شعر د هنریت معراج د هغه په پیل کې دی تر هغو چې شاعر اصلي روایت ته ننوزي خورا صمیمي دی. هغه د یوه خواکمن انځورګر په توګه د طبیعت یو برخه په دومره کوڅ ګره ژبه انځوروي

ها خوا، دې خوا

غځید لې هسک دنګ غرونه، ښکلوي د آسمان شوندې

پر سرویې تکې سپینې د سپینو واورو، او:

پټ په زړو کې یې لعلونه

شنې تالې، شنې لمنې وې د سرو غاټولو ډکې

بې یې رونو چینو ورو ورو ور مینځلې خلیدلې...

- تر -

... هود دې غرو په لمنو د دښتونو په بستر کې...

- پوري -

وګوری دا انځورونه د هغوی د توکیو په شان مینځلي او خلنده دي. توله منظره ښکلې ده په تیره بیا دا ځای چې شاعر چینې داسې را ښیي چې د غرونوشنې لمنې او د هغوی له غاټولو ډکې پیڼې ورو ورو مینځي، د پښتو شعر د اوس مهالي بهیر لومړنی ښکلاییز او هنري پرک او تجربه که کټ مټ همدا نه وي نو په لومړي کتار کې خوبې شمیرلی شو. تردې انځور هستونې وروسته شاعر د خپل شعر روایتي برخې ته ننوزي، رنځور د شعر اسطوره ده چې په یوه تراژیک چاپیریال کې تولنه کمیدي بشپړوي. خان، ملک، دمګر او خیرات خور دا هر یو داسې سمبولونه دي چې د تولنې د سیاسي ژوند د یوې یوې کتلې استازیتوب کوي. " د کلو رنځور " د شعري "زه"په توګه سمبولیک تولنیز " مور " حوروي او په دې توګه د یوه خوار او لویدلي ملت ښکارندوی دی، چې خان و ملک و دمکرو خیرات خور یې پر اورو سپاره دي. شاعر که څه هم له یوه بر سیرن او مخامخ تولنیز او ملي تعهد څخه سترګې نشي پټولی خو کمال یې دلته دی چې خپل همدا تعهد وچ په وچه نه ارائه کوي بلکې له سینګار. شاعرانه انځورونو. سمبولونو او سو څخه کار اخلي. ژبه یې لمده او ښکلې ده او کلماتو بافت یې نوی او ظریف دی.

شاعر ورو ورو خپل روایتي شعر زمینه تمثیلوي او لومړی داستاني ټونه هغه وخت ورغورخوي چې د زلمیو ترانه د رنځور په غوږو کې انګازې کوي.

... د رنځور خوله ترل کیږي خو دې وخت کې

د دروله لرې سخه د زلمو پیغلو سندره

د رنځور غوږ ته غوږ ته رسيږي
" غلی شانته انقلاب دی بدلوی د زماني رنګ "

يوه او ورپسې بله غوټه بيا وروسته د غوټو پرانيستل او په دې توګه پايله. او داسې پايله چې تراژيدي په کوميدي بدلوي. (دلته له تراژيدي او کوميدي څخه د دغو ويپونو لغوي او ادبي مانا مراد ده)

هوکې د شعر اتل کولای شي خپل برخليک بدل کړي هغه له کانو سره سر جنګوي او له ديوانو سره جګړه کوي او بريالی کيږي همدا برياليتوب د هغه اسطوره يې برخليک کوميدي کوي.

شاعر د خپل شعر اتموسفير ډير ښه کنترولوي انځورونه په يوه لوبه کړی،کې سره را تاويږي او په مجموع کې يو انځور جوړوي.

د شعر ژبه خورا روانه او خوږه ده که څه هم په خينو برخو کې له تاکل شوي وزن څخه وزي او سکته پيښيږي. بيره له دې هم د لوستونکي ذهن نه خوروي. البته خيني برخې د شاعر په خانګړې (کندهاری)لهجې پورې اړه لري چې بيا يې په هغه حساب وزن جوړيږي.

" د کلو رنځور " د شعر جوليز(شکلي) جوړښت هم په هغه پير کې دې شعر ته خانګړتيا ښني څکه دا ښکاره ده چې هغه وخت په افغانستان کې د آزاد شعر او بې قافيې نظمونو تجربه لا د خاپوړو په عمر کې وه، خو د استاد بينوا د شعر د دغې تجربې د بلوغ زيری له خانه سره لري " د هسک پيغله " په مجموعه کې د بې قافيې شعر همدا بوه بيلګه شنه. چې کيدای شي شاعر په مجموعه کې د خپلې شاعری په اوږدو کې خينې نورې نمرنې هم ولري د استاد بينوا قافيه وال شعر او په تيره بيا غزل او قصيده هم خپل نوښتونه لري خو د هغه فکري فوکس په خينو لنډو څلوريزو او قطعو کې له و رايه خان څرګندوي:

" احساسات چې طوفاني شي
د زړه کور کې اور پيدا شي
احساس عقل اور اوبه شي
څاڅکی اوښکه ترې جلا شي"

يا:

ژوند نشه د طبيعت ده
چې سرشار شي له مستيه
يو جام ډک کا له هوسه
بل نسکوز کا له مستيه

شاعر پوهيږي چې څنګه کولای شي خپله فکري منځپانګه په خوږه او آهنګينه ژبه د تخيل، عاطفې او نورو شعري تلازماتو په مرسته د لوستونکي مخې ته کښيږدي، هغه باید د " جام " له سمبول نه کار واخلي د " احساس " او " عقل " تلاقي د " اوبو" او " اور " له ګډيدلو او يو خای کيدلو سره تشبيه کړي له دې سره سره دغه تشبيه او دغه سمبول کارونه بايد نوې وي، هنري وي او ښکلې وي.

که څه هم د شاعر په دواړو مجموعو (پریشانه افکار او د هسک پیغله) کې ګڼ شمیر داسې نظمونه شته چې د منځپانګې جوړښت يې د شعار تر پوړه را کوزيږي. په دوهم ياد شوي کتاب کې د هنري بيلګو تر څنګ د داسې نظمونو شتون شپږمه ګوته بنکاري:

د ميړه غازي سوغاته ستړی مه شې
د پښتو ن زمري خلاته ستړی مه شې
چې وطن دې که رڼا ته ستړی مه شې
ورک کوونکی د آفاته ستړی مه شې

تر آخره
(د ملي نجات ستره سيا)

يا:

چې ورو کې سره مور که
يا له وروره سره ورور که
داسې کړه له غريبانو
هر غريب په اوږو سور که
تر آخره

(د غريب پالنه)

وګورئ، سره له دې چې استاد بينوا په نثر کې د خواکمن قلم خاوند ليکوال و او کولای يې شول خپلې دغه ټولنيزې نظرې او نصيحتونه په ډيره آسانۍ سره خواږه نثر کې ارائه کړي او خان ته يې د منظومولو زحمت ورنه کړي او د دې پر ځای د " کلو رنځور " يا ځينو نورو هنري نمونو په شان شعري بيلګو ته را منخ ته کولو کې خان وآزمايي.

استاد بينوا هر کله چې غواړي نوره هنري شعر ته مخه کړي د پوره خواکمن لاس خاوند دی، هغه ډير ښه کولای شي د طبيعت ښکلا را وژباړي:

ښه روڼ پسرلی دی، غوټۍ شوه سپينه
د مينې رغ خي له هره بنه
پر خانګو خانګي ژيړه خاچنه
پر مشوک مروري د وزرو بنه
تر آخره

استاد ښايي د اوس مهالي پښتو شاعرۍ له لومړنيو شاعرانو څخه وي چې اشياً (څيزونو) سره خبرې کوي:

د ول ول پيکي زنځيرور لره بويه
د رامبيل چامبيل ګلونه ليوني شول

له همدې امله ده چې د ښکلا او هنر په جامه پسوللی شعر هم د هغه له پير څخه پيل کيږي. بينوا د هغه پول يوه برخه ده چې زوړ له نوي سره وصلوي. له هنره تر هنره لار وهي او د نوي هنري شعر کځ ته مو رسوي. هغه نوی هنري نسل روزي او د لومړيو تجربو ګلورينه بيلګه يې مخې ته ږدي او همدا تجربې دي چې تر نن پورې يې لړۍ را اوږديږي، د همدغو تجربو پوړۍ دي چې د پښتو شعر نور ستوري پکې روزل کيږي او بالاخره زموږ شعر د سيالانو سيال ګرځوي.

د استاد اروا دې ښاد وي.

در زاد روز باران

بانوی شرقی من که بر نگشتی
آن نیمروز که در خواب آهوانه های تو
هماوردان شکست خوردهء سیاوش
در کوچه های عمودی آفتاب
دامان سوگیانهء اندوه تنهایی خویش را
با اوج های حقیر سایه گیاهان اندازه میگرفتند
و در هذیان سقوط برگهای آتش گرفتهء بلوط
از ارتفاع سبز جنگلها سخن میگفتند
و نمی‌دانستیم که فردا
نخستین روز جراح بکارت گلهای سرخ است
از بامهای سوختهء واژه های قرمز پوش
و با سر انگشت ستاره گان دنباله دار
فانوس بشارت رویش را از سقف کهکشان مخملین هجا های عتیق
آویختیم و گفتیم:
مرداب و رودخانه — این دو کودک ابر —
یکی در فصل هجوم ملخهای لحظه های آماسیدهء زخم آلود
چراغ هستی خود را از رواق باد آویخت
و دگری چو نان رهاترین فریاد عریانی زمین
به دیار بهارانه های شاد شتافت
و به شستشوی زخم یاغیان بیابان های داد خواه آستین برتافت
... و اما در زاد روز باران
خرگاهیان استوایی کاروان حله را به تاراج بردند
و دریا بارهای قرن

این روسپیان " همواره آبستن اما تا جاودان نازا "
تخمه های سرخ مرجانها را از زهدانهای خویشتن ستردند
و از تنور خورشید
نانهای سوختهء یلداها بر دامان پر وسیلهء خاك فرو افتاد
بانوی شرقی من
که از انگشتان سپید آوازهای شبانه ات خورشید ها را می آویختی
گرفتم که تو هم برگشتی!
دیگر به جای کاجهای بلند باغستان خلوتهای بِ تصویر آئینه
چتر های شعور سرخ هجرت
تنها بلوغ چو بین نخلها را خواهی دید
که در وزش ثانیه های خونین
ازناتمامی هماغوشی آب با پوستهای تشنهء خویش میگریند
و به جای مرغابیان شاد خواری که راویان غرور خود زیستی قبیله
آنها بودند
انبوه ماهیان مردهء لحظه های حقارت را
که بر " آبگندهای راکد عفونت می رانند"

بانوی شرقی من
که با دیبای سپید دست هایت پلك سرودها را از هم میگشادی!
لبخندت گیسوان شگفتن را بر دوش کودکانهء نارونها میبافت
قامتت معراج گیاهی جنگل
و چشمانت بیداری ستاره ها را تصویر میکرد
گرفتم که تو هم باز گشتی!

واصف باختری
کابل - ۱۳۵۷

ناري

رمې به مې پوولې
د غره اوبه مې څښلې
سپېڅلی کليوال وم
خو تا راته په زړه کې
څه غلې وسوسې را پارولې
که ښکلې نجلۍ ښکلې
له کله ته چې کلي ته راتللې
شپېلۍ وې سندرمارې
په زړه مې لګېدلې ستا بدلې
باران غوندې وې ولې
هم هسې چې په خوب کې مې ليدلې
په زړه کې مې قرآن و
هغه راته له سترګونه ساتلې
په خوب کې مې ليدلې
نظر مې لور په لورې لټولې
لاسونو کې مې نه را ګیرېدلې
يا سيورې وې د ولې يا وږمه وې د سنځلې
سهار به مې غنمو سره مځکه کې کرلې
غرمه د خوب څپه وې په ليمو مې زنګېدلې
زيړې مازيګرې به مې خيالو سره ريبدلې
ماښام به مې نمانځلې
د شپې به له سپوږمۍ نه په زړګي را اورېدلې
اوچته الوتلې
په لوړه درته ناست وم په کتار کې مې څارلې
ناڅاپه په هوا شوم
د زانو له کتار مې پنجو کې ونيولې

احمد تکل

۹۸-۱۱-۱۳

و غربت...

ز معبر های تنگاتنگ تردیدها که میگذشتیم
زمین،
گرمای تب اندود حرمان را،
ز پابوس قدمهایم که می فهمید
دلش چون برگ میلرزید!

به غربت راه میبردم و بر دوشم،
سبک باری عزیزی بود:
خیال تلخ و شرین وطن داشتن

ز دورا دور ،
به گوشم حلقه های سرد و سنگین وزن زنجیرها به نجوا بود
تو میگفتی که میآیند به استقبال
و من خاموش .

ز معبر ها که میگذشتیم
به روزن خار میکاشتند
و کس هرگز نمیداست خوش آمد راهجا گفتن
تحمل چون ننک های دم آخر گلو گیر بود

که ناگه راه پایان یافت.
نفس چون آخرین جرعه گلویم را نوازش داد
- رسیدن ،
همصدا با وارهیدن شد ،
ولی دردا ،
ولی دردا که تا آن دورِ دورِ دور بی پهنا
افق در گیر یلدا بود
و روزن ها به خار آزین
که ،
غربت فصل آغاز گریستن بود !
که غربت فصل آغاز گریستن بود !

طیبه سهیلا

د ربنتين صاحب په ياد

بيا يوه ربنتينې ډيوه مړه شوله
بيا مو د ماتم په کلي شپه شوله
فضل يې چې عام پر تولو يو زنگ و
هغه خم نسکور پياله چپه شوله
غلي‌پکې شوې د يکه زار تېې
ړنګه مو د عشق جوړه ديره شوله
کله به مړه شي سپيره وړې ده
دا زموږ دنيا سړي خوره شوله
ګرځي که ژوندي هم پکې مړي دي
تول وطن زموږه هد يره شوله
ولويده بې وخته پرې غدۍ دمرګ
بيا تالا د پوهې قافله شوله
بيا د غماز زړه راٌ باندې يخ شولو
بيا شوه ماته بده ده ته بنه شوله
بيا زموږ د مينې د رباب په تار
ورانه شوه سلګۍ سلګۍ نغمه شوله
بيا مو يو بلبل له نوا ولويده
خوله کې يې د سوز نغمه سړه شوله
لاړه خوشالي له زړونو لاړله
ناوې شوه د غم په آس سپره شوله
پيغله د پښتومو ارماني ناسته
پاتې د دادا په کور زړه شوله
ماته مې په سر شوه د غرور کاسه
ما لويه ګنلې وه وړه شوله
جوړه به شي هله د پښتو دنيا
کله مو چې مينه پښتنه شوله

ما چې ورنه خان په بسم الله ساته
اوس راته په کور کې میلمنه شوله
څوک يې سر د تار پیدا کوی نه شي
ژوند زموږه جړه مشوره شوله
زه يم چې له میني نه لاس نه اخلم
یاره ستا له خواته راپوره شوله
تلی سپین سحر ورنه به کده دی
دغه د غم شپه څومره اوږده شوله
ډیر غمونه واخیستل په سر موږه
ستا د مرګ خبر ډیره درنه شوله
زه چې دا څو کربنې څکر خون لیکم
سترګو ته مې ستا ښکلي بشره شوله
يو ربنتين راپاتې و په مینه کې
تل به پرې د سترو زړو دمه شوله
بې له تا د چا په در کې وژاړو
خدایه ستا کرم ته مو اسره شوله
لاړه چې يو يو ورنه د مینې یار
دا دنیا حافظ ته غم کده شوله

نصرالله حافظ

دبشري حقوق د نړیوالې اعلامیې د پنځوسمې کالیزې نمانځل

گزارش: محمد ظاهر بابری

د ږاوون کال د دسمبر د میاشتې لسمه نېټه د ملګرو ملتونو د بشري حقوقو د نړیوالې اعلامیې د صدور د پنځوسمې کالیزې د نمانځنې لپاره په پېښور کې د افغانستان د بشر د حقوقو ملي کمېسون له



خوا بوه غونډه ږا بلل شوې وه. غونډې ته کې شمېر افغاني پوهان، لیکوالان، سیاسي او ملي شخصیتونه ږا غوښتل شوي وو. غونډه د ماښام په دوو بجو د عظیم الشان قرآن د مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه

وروسته د کمېسون رئیس ښاغلي عبدالجبار ثابت ږاغلو میلمنو ته ښه ږاغلاست وواېه او ویانه یې کړه

نور نسې غونډه دې لپاره ږابللي چې د کډونکو نظر وښوارو او په دې بوه شو چې آیا نور په افغانستان کې د بشر د حقوقو د رعایت د پاره څه کولی شو؟ ملګري ملتونه په دې هکله څه کولی شي. نور عربسي هیوادونه څه کولی شي؟ آزاد شخصیتونه په دې هکله څه کولی شي؟

ښاغلي ثابت د بشر د حقوقو پر نړیوالې اعلامیې او د فرانسې اتباعو په اعلامیه رڼا واچوله او وې ویل. د بشر د حقوقو د نړیوالې اعلامیې ټول مواد د اسلام سره تناقض نه لري مثلاً د ژوند حق چې اسلام هم تضمینوي او اعلامیه هم، د برابرۍ او مساوات حق، د مالکیت حق، د پت او عزت د خوندیتوب حق، د فکر او بیان د آزادۍ حق او نور. ده وویل صرف په دریو موادو کې اسلام د بشر د حقوقو اعلامیې سره تناقض لري

۱ - په پنځمه ماده کې غیر انساني او ظالمانه مجازات د بشر د حقوقو مخالف کښي. او په اسلام کې حدود ورته تاکل شوي چې دا اسلام لازمه بللې ده او د ځینو خاصو جرایمو لپاره یې تاکلي دي

۲ - د ازدواج مطلقه آزادي ده، چې په اعلامیه کې یې له هر ډول قید او شرط نه آزادي ورکړشوې. او اسلام دا آزادي منع کړې او د کتاب له اهل نه پرته بل چا سره ازدواج نشي کولی

۴ - د دین د بدلون د آزادی حق دی، چې اعلامیه کې انسان ته حـق ورکـړ شـوی چـې پـه هـر دیـن وغواړي اوسي کولی شي. او په اسلام کې دا عمل جرم دی او دې ته ارتداد وایي او په مرګمجـازات کیږي او مسلمان نشي کولی خپل دین پریږدي.

ښاغلی ثابت وویل: پنځوس کاله مخکې چې کله دغه اعلامیه تصویبیده د ملګرو ملتو، غړي هیوادونـه ۸۵ هیوادونه وو او کمونستي او خینو نورو هیوادونـو د دغـې اعلامیـې خـلاف رایـه ورکـړې وه او اوس د دغـو پنځوسو کلونو په تیریدو سره د ملګرو ملتونو غړي ۱۹۱ ته رسیږي، همدارنګه په نړۍ کې ډیر نـوي تحـولات را منځته شوي، نو د دې لپاره چې دغه اعلامیه جهان شموله شي مـوږ پیشنهاد کـوو چـې پـدې هکلـه لازم تصامیم ونیول شي.

د افغان ملت د ګوند مشر دوکتور انورالحق احدي وویل: هغه مواد چې د اسلام او د اعلامیې پـه هکلـه شته ډیر حاد نه دی. موږ سره اساسي مشکل سیاسی مسایل دي، لکه د فکر او بیان آزادي چې په افغانسـتان کې د دموکراسي له دورې نه وروسته بیا دغه آزادي چاته نه ده ورکړ شـوې، او بـاید چـې د کـار حـق او د مسکن حق او د ښځو په مساوي حقوقو باندې فکر وشي.

د بشر دحقوقو کمیسیون باید غیر سیاسی او غیر ډله ییز شکل ولري او که د کوم خاص رژیم پـروا وسـاتي او یا کومې ډلې پورې وتړل شي بیا کار نه شي کولی. باید په زوانو حالاتو کې د بشري حقوقو پـه سـرغراویو قضاوت وکړي، په متنازعه فیه موضوعاتو مشخص ګزارشونه جوړ کړي او بین المللي محاکمو ته یـې وسـپاري نو په هغه صورت کې کولی شي کار وکړي.

د افغانستان د مطالعاتو مرکز مشر پروفیسور عبدالرسول امین وویل: د بشر د حقوقو نه په اکثرو جوامعو کـې تخلفات شوي، خو ترکومه چې په افغانستان پورې مربوط دي. په افغانستان کې دا تخلفات د هغـې مشخص ایډیولوژي له منځ ته راتلو سره شروع شوی چې د استثمار شـویو او استثمار کوونکـو نومونـه یـې را منځتـه کړل، خلکـ یې په فیودال، سرمایه دار، غریزده او نورو نومونو ونومول، د خلکو ژوندي ښخول، جـبر او نـور یې رایج کړ، او همدارنګه د دوی ګوندي غړي ولوکه یې استعداد درلود او که نه، ټول حق همدغه ګوند ته ورکړل شو او امتیازات یې د ګوند غړو ته.

دوهمه برخه د مجاهدینو له خوا وه، چې د افغانستان عنعنوي ټولنه یې د مختلفو ګوندونو تر منځ وویشـله او یو ګوند د بل ګوند په خلاف او یو قوماندان د بل قوماندان پـه خـلاف پـه افغانسـتان او افغانـانو داسـې ظلمونه وکړل چې د ویلو نه دي.

همدارنګه په دغه دوران کې ژبني، قومي او نورو تعصبونو ته لمن ووهل شوه، خلقیانو پښتانه، پـرچمیـانو تاجکان او شعله ییانو نور اقلیتونه را ټینګ کړل، همدارنګه دلته چې د کوم ګوند مشر پښتون و، زیاتره پښتانـه یې ځان سره ملګری کړل، چې مشر تاجک و نو زیاتره تاجکان یې ځان سره کـړل او کـه هـزاره و، هـزاره او نور... چې دا ټولې خبرې او معضلې د کمونستانو له راتګ سره را پیدا شوې.

پروفیسور امین وویل: هر هغه سیستم چې په هغه کې دکتاتوري موجوده وي، که هغه دقوم یا مذهـب پـه نوم وي، یا د ګوند په نوم، هغه کې د بشر حقوق پایمالیږي.

ده زیاته کړه: دغه کمیسیون باید افغانستان کې د ننه خپل رول ولوبوي، او باید دا په ډاګه شي چې مـوږ انسانان یو او بیا د انسانانو نه علاوه مسلمانان یو او افغانان یو. او تر هغه چـې پـه افغانسـتان کـې یـو داسـې

سیاسي سیستم نه وي راغلی چې افغانانو ته د افغان په توګه حقوق ورکړي، او د ژبې او قومي تعصباتو نه ډېره نه وي شوې تر هغې پورې د بشر د حقوقو رعايت مشکل دی

ښاغلی قريب الرحمن سعيد وويل: دا چې په افغانستان کې بشر شته او د حقوقو يې هيڅ پته نه لګيږي. د ډېر پخوا نه د دغسې يو تنظيم جوړېدو ته ضرورت و څو د دغو حقوقو غوښتنه شوې وای. دا د خوښی ځای دی چې اوس د دغو حقوقو د رعايت لپاره کار کيږي.

ټول پدې پوهيږو چې د کمونستانو، روسانو او مجاهدينو په وختونو کې څه شوي او اوس څه کيږي، پخوا چې څه تير شوي دي هغه د تاريخ يوه پاڼه ده، او راتلونکي کې چې څه تيريږي په هغو باندې د افغان ولس پوهول پکار دی. ښاغلی سعيد زياته کړه: په افغانستان کې ګوندي، قومي، مذهبي او ژبينو تعصبونو ته ډېر لمن وهل شوې بايد چې افغانان د بشر د حقوقو او د دين نه خبر شي، همدارنګه د بشر د حقوقو کميسيون بايد دننه په افغانستان کې خپلې نمايده ګۍ پرانيځي او افغانانو ته د ژوند د حقوقو، د تعليم او تعلم د حقوقو، اقتصادي او نورو حقوقو د ورکولو په لاره کې پرته له کوم ډارنه کلکه دفاع وکړي.

د نيوز (The News) د ورځپاڼې خبريال وويل: شل کاله کيږي چې افغانستان کې جنګ روان دی، ډېر افغانان مهاجر شوي دي او اوس هم دا لړۍ روانه ده، دغه کميسيون بايد دلته په پاکستان کې د افغانانو له حقوقو نه دفاع وکړي، ځکه چې ډېر افغانان دلته کار کوي، ټکسونه ورکوي او پوليس له دوی نه په زوره پيسې اخلي.

ښاغلی افراسياب خټک: په افغانستان غونډې يو هيواد کې چې هلته جګړه روانه ده د خلکو له بشري حقوقونه د تخلفاتو را برسيره کول ګران کار دی، خو که کميسيون په اخلاص کار وکړي، نو ان شاالله چې بر کارونه به يې څه جوړ شي.

موږ حاضر يو تاسې سره هر ډول همکاري وکړو او د همکارۍ له لارې مسايل حل کړو. دلته په پاکستان کې تر اوسه د مهاجرينو د حقوقو لپاره کومه لايحه نشته. موږ د پاکستان له حکومت نه غواړو چې دا ډول لايحه تصويب کړي

ښاغلی دوکتور قمرالدين صديقي، سيد ميرزا عابدي، نصيرحميدي، حامد، محمد زبير شفيقي او خينو نورو افغانانو کميسيون ته لازمي مشورې ورکړې او همدارنګه راغلو خويندو هم په افغانستان کې د ښځو د حقوقو غوښتنه وکړه . غونډه د مازيګر په څلورنيمو بجو پای ته ورسيده او د غونډې ګډون کوونکيو په هغه مازيګرنی کې برخه واخيسته چې د کميسيون له خوا برابره شوې وه.

زيتون بانو:

زه په ادب کې د وعظ او نصيحت قايله نه يم

مرکه: حنيف خليل

زيتون بانو د پښتنو په ښځينه ليکوالو کې د نامه تښتنه ليکواله ده او پښتو لنډه کيسه د دې ميرمنې په ليکوالۍ کې يوه پرمختيايي پړاو ته ور داخله شوې ده. زموږ همکار ښاغلی حنيف خليل ورسره يو مرکه کړې ده چه موږ يې په دې ګڼه کې تاسو ته وړاندې کوو.

پوښتنه:- خپله ادبي او شخصي پيژندګلو په لنډه توګه بيان کړئ؟

ځواب:- په سپينه وړۍ کې د پير سلطان محمود په کور کې پيدا شوې يم. څلورمه پوړې مې سبق په کالجيټ سکول کې ويلی دی. بيا په الزبته ګرلزهاى سکول کې داخله شوم. دغه سکول نه مې لسم پاس کړ. په فرانټير کالج کې مې پرې ميډيکل (د طب شعبه) کې داخله واخيسته. ايف ايس مې وکړه بيا ناجوړه شوم. سبق را نه پاتې شو. څه موده پس مې بي اے او ايم اے پرايېويټ وکړل. بي اے او ايم اے مې واده نه پس وکړل. دې نه پس ريډيو کې پروډيوسره شوم. انټرويو مې ټاپ کړې وه _ بيا مې په خپله مرضی د ريډيو نوکري پريښوده.. په کال ۱۹۸۹ کې مې پښتو نه پس اردو کې هم ايم اے وکړه. اوس هم ښوونکې يم او ادب کې مې افسانې ډيرې ليکلې دی_ اوس يې هم ليکم-

پوښتنه :- ادب کې د افسانې د صنف انتخاب مو څنګه وکړ؟

ځواب:- ما شروع د شاعرۍ نه کړې وه. خو وروستو مې افسانه ليکل شروع کړل. څه خاص وجه خو يې را ته نه ده معلومه چې ولې مې افسانه ليکل شروع کړل. خو شايد دا ځکه چې په افسانه کې زه اظهار په آسانه کولی شم يا به د افسانې ليکل ما لپاره آسان وي.

پوښتنه :- تاسو په خپلو افسانو کې دښځو د نفسياتو او مسألو ترجماني ډيره کړې ده. دا په شعوري توګه ده او که په غير شعوري؟

ځواب :- خبره دا ده چې زه پخپله ښځه یم او د ښځو د مسألو مشاهده هم لرم نو په غیر شعوري توګه هم د ښځو د مسألو ترجماني زما په لیک کې راځي، خو زه به د دې خبرې وضاحت وکړم چې زه څه لیکم نو صرف د ښځو لپاره یې نه لیکم، بلکې زموږ د معاشرې ښځې خو د دې هر څه د لوستو جوګه هم نه دي، نو هغوی لپاره به یې څه ولیکم. ما سره اباسین آرټس کونسل کې یوه ادبي دستوره کیدله په هغې کې همایون هما ویلی وو چې بانو افسانې لیکي خو د ښځو د مسألو ترجماني کوي، ما وې زما لیک ښځې نه شي لوستی. نو ځکه زه وایم چې زه ښځو له نه، بلکې سړو له لیکم. ښځې خو زما په خیال یو محدو ماحول کې راګیرې دي، ما یو ناول "On the Eve" لوستو چې پکې د جولا په جال کې د راګیریدو یوه خبره زما ډیره خوښه شوې وه او هغې نه ما دا اندازه کړې وه چې ښځې هم د جولا په شان په جال کې ګیرې دي.

پوښتنه :- ستاسو د افسانو په هکله ویل کیږي چې د ډیر جرآت او آزاد خیالی مظاهره مو کړې ده، ستاسو څه خیال دی ؟

ځواب :- ما چې د افسانې لیکلو جرآت کړی دی، د چاپ کولو جرآت مې کړی دی. نو قلم مې هم آزاد پریښی دی. دا جرآت پکار دی، ځکه چې مانه دې څوک خامخا دا توقع ولې کوی چې زه دې ښځو ته د اندی کټوی چل وښایم، په غټه پیمانه د ښځو په مسألو خو هم څه ویل پکار دي کنه. .

پوښتنه :- تاسو نه وړاندې چې پښتو کې کومې افسانې لیکلې شوې دي. هغې نه تاسو څومره تاثر اخیستی دی؟

ځواب :- زه په پښتو، اردو او انګریزی کې مطالعه کولی شم، په هره ژبه کې چې را ته څه خوند راکړی دی نو لوستی مې دی. د مهدي شاه باچا او ګل افضل خان افسانې مې ډیرې خوښې دي، خو د مهدي شاه باچا افسانې صرف په یوه موضوع دی چې تاریخي اهمیت یې ډیر دی خو رنګا رنګي پکې نشته، ما که صرف د خوند او تسکین لپاره د دغو افسانو نه څه

تاثر اخیستی وي نو ممکنه ده خو دا به هم غیر شعوري وي. ما نه وړاندې سیاسي قسم افسانې وې او سیاست پ ادب کې زما نه دی خوښ.

پوښتنه :- زنانه لیکوالو کې چانه متاثره یې؟

ځواب :- شاعري مې د حسینه گل ډیره خوښه ده. هغې ته ما ویلی وو چې شاعري مه چاپ کوه. هغې راته په ځواب کې و وې چې زموږ د لارې مشکلات یا کوم کانې او ازغي چې زموږ ښځینه لیکوالو په لارو کې وو هغه خو تاسو لرې کړي دي. موږ ته خو هیڅ مشکلات نشته. په دې وخت کې سلمی شاهین هم موجوده وه. خو زما خیال دی چې حسینه گل کوم جرآت کړی دی هغه زموږ د توقع نه ډیر وچت دی. افسانه نگارو کې مې سیده رفعت نذیر خوښه ده خو هغې اوس لیک پریښی دی. ډرامې د سیده حلیم قریشي ډیرې ښې دي، دې ته ما مشوره ورکړې چې ډرامه لیکه. دې نه علاوه د صفیه حلیم ادب مې هم ډیر خوښ دی. صفیه حلیم چې اوس صفیه عدیلي ده ځکه چې د اردو یو اوسیدونکی سره یې واده شوی دی. دې ته هم ما مشوره ورکړې وه او اصلاح مې هم ورله کړې ده. ایم اے یې انگریزی کې کړې ده خو لیک په پښتو کې کوي. دغه شان نورې ښځینه لیکوالې هم شته چې ښه لیک کوي، زه په دې ډیره خوشحالیږم چې زنانه لیکوالې مخ په وړاندې ځي، فوزیه انجم چې واده شوه، نو بیا یې ادبي سرگرمی خاموشې شوې. موږ به ورته رسالې وغیره لیږلې چې ادب نه یې رشته بیله نشي.

پوښتنه :- تاسو نه وړاندې په ښځینه لیکونو کې د س ب ب خدمات موجود وو، هغې نه تاسو څومره متاثره یئ؟

ځواب :- د س ب ب (سیده بشری بیگم) د لیکونو نه زه ډیره واقفه نه یم خو داسې ښکاري چې د هغې په لیک کې قومیت یا افغانیت ډیر څرگند دی او زه د دغه قید نه آزاده یم د س ب ب په هکله به دا خبره هم کیدله چې دې له دا لیکونه ورور کوي. خدای به ترې خبر وي خو زه ذاتي طور دا نه منم.

پوښتنه :- تاسو د پښتو شاعری او افسانې نه علاوه څه ادبي خدمات تر سره کړي دي؟

ځواب :- اردو کې مې افسانې لیکلې دي چې د " برگد کا سایه " په نـوم چـاپ شـوېدي. یـو ناول مې لیکلی دی. دا هم اردو کې دی. " برگ آرزو" نوُیې دی. د " کچکـول " پـه نامـه مې خپلې هغه ډرامې هم را جمع کړې دي چې مې ریډیو او تي وي له مختلفو وختو کې لیکلـې وې، او د پښتو افسانو کتابونه مې: مات بنگړی. ژوندی غمونـه. خوبونـه او هنـداره دي. مـات ـ بنگړی د ایم اے پښتو په نصاب کې شامل و، کله چې ما د پښتو ایم اے امتحان ورکولو نو دغه وخت کې زما دا کتاب په نصاب کې شامل و. بیا ترې دا کتاب ووتو او اوس پکې ژوندی غمونه شامل دي.

پوښتنه :- ستاسو څه خیال دی چې پښتنه معاشره د زنانه لیکوالو حوصل افزایي کوي که زنانه برداشت کوي هم نه؟

ځواب :- پښتو ادب کې چې څومره وچت نارینه لیکوال دی تقریباً ټول د زنانه لیکوالو مخنیوی کوي. موقع ورته نه ورکوي. برداشت کوي یې نه. بلکې د ښځو د لیک هم د سره مخالف دي. حوصله افزایي خو لرې خبره ده. ما پښتو کې ګڼ شمیر کتابونه لیکلي دي صرف په یـو کتـاب راته انعام راکړی شوی دی. خو په اردو کې مې چې څه هم لیکلی دی نو په انعام یې پذیرایـي شوې ده. د پښتنو په مقابله کې اردو دانو زما ډیره حوصله افزایي کړې ده. پښتنو کې یو ایوب صابر و چې دایې ویل چې " زیتونٌ بانو په یوازې خان څومره خدمت د پښتو افسانې وکـړو ټولـو نرانو پښتنو هم دومره نه دی کړی". د پښتنو په مقابله کې په اردو دانو کې د احمد ندیم قاسمي. جیلاني کامران. مرزا ادیب. رحیم ګل او خاطر غزنوي غوندې لیکوالو زما په لیکونو خپلې رایې ورکړې دي. نو ځکه زه وایم چې ادبي حوصله افزایي زما څومره د اردو لیکوالو کړې ده. دومره پښتنو لیکوالو نه ده کړې. بلکې پښتنو مې مخه نیولې ده.

پوښتنه :- تاسو ته په اردوکې لیکل آسان دی که پښتو کې. یا دا چې په کومه ژبه کې اظهار در ته تسکین درکوي؟

ځواب :- ما ته دواړه ژبې یو شی دي. دواړو کې په آسانی اظهـار کولی شم او دواړو کـې راتـه تسکین حاصل شي.

پوښتنه :- د تخليقي ادب نه علاوه په تنقيد يا تحقيق کې څه لاس لرئ او که نه ؟

ځواب :- تحقيق او تنقيد سره مې ډيره علاقه نشته. البته ريډيو لپاره چې څه تحقيق غونډې ليک وکړم نو هغوی ښې ډير خوښوي، دې نه علاوه چې ما څومره تقريرونه هم ليکلی دی نو په مقابله کې يې عموماً ورومبی انعام ګټلی دی.

پوښتنه :- تاسو د ليک نه علاوه د ادا کارۍ سره هم وابسته پاتې شوي يئ، دې لړ کې مو څه کارکرده- ګی ښودلې ده؟

ځواب :- ادب ته راتلل خو زما يو قسم له ميراثي خبره ده ځکه چې زما نيکه پير عبدالقدوس تندر نه علاوه زموږ په خاندان کې نور اديبان پير قطب شاه، ظفر زهير، سيد ممتاز علي شاه وغيره هم دي نو زه هم ادب ته راغلم او څه زما فطرت ادب ته مايل و، دغه شان اداکارۍ ته راتلل زما ذاتي شوق او دلچسپي وه، دغه شان مې په تي وي او ريډيو کې په ګڼو ډرامو کې ادا کارۍ وکړه، په ريډيو په مختلفو فيچرو کې مې ادا کاري وکړه. اردو او پښتو دواړو کې مې کار کړی دی.

پوښتنه :- اوس ولې ادا کاري نه کوئ؟

ځواب :- اوس مې بچي خفه کيږي، او زما هم هغه دلچسپي نه ده پاتې.

پوښتنه :- تاسو او ستاسو خاوند تاج سعيد صاحب دواړه اديبان يئ. ستاسو بچي تاسو نه څومره متاثر دي؟ او دوی ادبي مسألو کې څومره دلچسپي اخلي؟

ځواب :- بچي مې ښه تعليم يافته دي خو نه د تاج سعيد نه متاثر دي او نه مانه، زموږ ادبي هلو ځلو باندې فخر کوي خو خپله دې ميدان سره يې دلچسپي نشته او دا ضروري هم نه ده، ځکه چې بانو قدسيه او د هغې خاوند دواړه ډير وچت اديبان دي خو بچي يې ادب ته نه دي راغلي. زما خيال دی چې د ګورې وې لاندې واړه بوټي يا ورې ونې وده نشي کولی.

پوښتنه :- ستاسو خاوند تاج سعيد ستاسو د ادبي رجحان حوصله افزايي کوي او که مخالفت؟

ځواب :- زما پلار به زما د ادبي سرګرميو مخالفت کاوه، کله چې ما له خليق صاحب زما د کتاب "هنداره" پيسې راکړې نو ما پلار ته ووې، هغه وې ته دې ادب نه ولې نه منع کيږي،

هغه به دا هم وي چې تر اوسه دومره ډيرو اديبانو د ګل او بلبل نه زياته خبره ونه کړه نو ته به څه ووايې، خو د دې برعکس تاج سعيد زما ډيره حوصله افزايي کوي. زه چې نوی پلاټ پيدا کړم نو اول دوی سره پرې خبرې وکړم او، دغسې دوی زما ډيره حوصله افزايي او پذيرايي کوي.

پوښتنه :- تاسو د تاج سعيد څومره پذيرايي کړيده؟

ځواب :- زه د دوی په ادب. صحافت او نورو کاوشونو فخر کوم او په مينه يې لولم. دوی سره پرې بحث او تبصره هم کوم.

پوښتنه :- ستاسو په خيال په مجموعي لحاظ په معاشره کې ښځې ته کوم مقام ورکولی شئ؟

جواب:- زما په خيال ښځه په معاشره کې آزاد ژوند نه شي تيرولی. زه چين ته تللې يم. هلته هم ښځه آزاده نه ده دغسې په نوره دنيا کې هم د ښځې حيثيت د سړي په نسبت کم دی او بيا په قرآن پاک کې هم چې چرته د سړي او ښځې ذکر راغلی دی نو د ښځې حيثيت ثانوي ښودلی شوی دی او سړی ته اول مخاطبه شوې ده، نو زه وايم چې معاشره کې د ښځې مقام د سړي نه پس دی او دا د سړي پابنده وي.

پوښتنه :- ادب يا افسانه کې د تبليغ او وعظ څومره ګنجايش شته؟

ځواب :- زه به ادب کې د وعظ او نصيحت قايله نه يم او نه پخپله وعظ کوم. دا صحيح ده چې ادب کې د معاشرتي مسألو اصلاح پکار ده خو زه په خپلو ليکونو کې اصلاح طرف ته صرف اشاره کوم او بيا لوستونکی آزاد پريږدم چې خپله اصلاح کوي او که نه؟ زه يې خامخا يوې لارې په راوستلو نه مجبوروم، زما د ادب دغه تصور دی، البته په ډرامه کې دغه اصلاح. تبليغ او وعظ کيدای شي.

پوښتنه :- ستاسو د ليکونو د مُلک نه بهر پذيرايي شوې ده او که نه؟

ځواب :- مُلک نه بهر هم زما د افسانو پذيرايي شوې ده، په انشأ مجله کې افسانه نمبر کې زما افسانه چاپه ده، دې نه علاوه په بهرنو مُلکونو کې زما افسانې لوستې شوې دي، برمنګهم ته هم زما افسانې رسيدلې دي، او ورسره ځينې افسانې مې په انګريزي او نورو ژبو کې ترجمه شوې هم دي.

پوښتنه :- د تخليقي ادب نه علاوه په تنقيد يا تحقيق کې څه لاس لرئ او که نه ؟

ځواب :- تحقيق او تنقيد سره مې ډېره علاقه نشته. البته ريډيو لپاره چې څه تحقيق غونډې ليک وکړم نو هغوی ښې ډېر خوښوي، دې نه علاوه چې ما څومره تقريرونه هم ليکلی دی نو په مقابله کې يې عموماً ورومبی انعام ګټلی دی.

پوښتنه :- تاسو د ليک نه علاوه د ادا کارۍ سره هم وابسته پاتې شوي يئ، دې لړ کې مو څه کارکرده- ګی ښودلې ده؟

ځواب :- ادب ته راتلل خو زما يو قسم له ميراثي خبره ده ځکه چې زما نيکه پير عبدالقدوس تندر نه علاوه زموږ په خاندان کې نور اديبان پير قطب شاه، ظفر زهير، سيد ممتاز علي شاه وغيره هم دي نو زه هم ادب ته راغلم او څه زما فطرت ادب ته مايل و، دغه شان اداکارۍ ته راتلل زما ذاتي شوق او دلچسپي وه، دغه شان مې په ټي وي او ريډيو کې په ګڼو ډرامو کې ادا کارۍ وکړه، په ريډيو په مختلفو فيچرو کې مې ادا کاري وکړه. اردو او پښتو دواړو کې مې کار کړی دی.

پوښتنه :- اوس ولې ادا کاري نه کوئ؟

ځواب :- اوس مې بچي خفه کيږي، او زما هم هغه دلچسپي نه ده پاتې.

پوښتنه :- تاسو او ستاسو خاوند تاج سعيد صاحب دواړه اديبان يئ. ستاسو بچي تاسو نه څومره متاثر دي؟ او دوی ادبي مسألو کې څومره دلچسپي اخلي؟

ځواب :- بچي مې ښه تعليم يافته دي خو نه د تاج سعيد نه متاثر دي او نه مانه، زموږ ادبي هلو ځلو باندې فخر کوي خو خپله دې ميدان سره يې دلچسپي نشته او دا ضروري هم نه ده، ځکه چې بانو قدسيه او د هغې خاوند دواړه ډېر وچت اديبان دي خو بچي يې ادب ته نه دي راغلي. زما خيال دی چې د ګورې وې لاندې واړه بوټي يا وړې ونې وده نشي کولی.

پوښتنه :- ستاسو خاوند تاج سعيد ستاسو د ادبي رجحان حوصله افزايي کوي او که مخالفت؟

ځواب :- زما پلار به زما د ادبي سرګرميو مخالفت کاوه، کله چې ما له خليق صاحب زما د کتاب "هنداره" پيسې راکړې نو ما پلار ته ووې، هغه وې ته دې ادب نه ولې نه منع کيږي،

شوې. دغو مقالو کې د افغانستان د تجارت د ترقي سپارښتنه کېده او پدې اړه يې ځينې ځانګړې نظريات هم درلودل.

د ده په احوالوکې راغلي دي چې کله دی ماسکو ته ورغی، د افغانستان سفارت ته يې تګ را تګ کاوه. دا وخت هلته افغان سفير ارواښاد سردار محمد هاشم خان و. له نوموړي سردار سره يې هلته آشنايي پيدا کړه. کله چې اعليحضرت امان الله خان د اروپا له سفر نه ماسکو ته ورسيد، دا وخت عبدالمجيد زابلي په ماسکو کې و، له افغان باچا سره يې هم پېژندګلوی وشوه. له ماسکو نه د ګرجستان تفليس ته د اعليحضرت امان الله خان ملګری و، خو چې باچا ترکيې ته لاړ، دی بيرته ماسکو ته ستون شو.

د اعليحضرت محمد نادر شاه شهيد په پاچهی کې کابل ته راغی او د افغانستان د اقتصاد او تجارت د پياورتيا لپاره يې خپلې نظريې صدراعظم سردار محمد هاشم خان ته وړاندې کړې.

«کابل تر د راتګ د مخه ده په آلمان کې د بانکداری په اهميت او په تجارت کې د بانکونو د ارزښت په باب ډير څه لوستی وو. کله چې افغانستان ته راغی، نو يې خپله دغه نظريه حکومت ته وړاندې کړه او د نورو افغاني تاجرانو په مرسته يې ملي بانک او سهامي شرکت جوړ کړل. پرې پسې دولت هم د افغانستان بانک جوړ کړ.

همدا ډول ده د تجارت د اتاقونو په جوړولو کې هم زيار وايست او قانون يې ورته تدوين کړ. همدا راز تعاوني ډيپو يې جوړ کړه او د کابل د پوهنتون د جوړولو لپاره يې هم خپلې نظريې وړاندې کړې.

ارواښاد عبدالمجيد زابلي د سهامي شرکت او ملي بانک د رياست ترڅنګه د افغانستان حکومت ته په مهمو اقتصادي او تجارتي چارو کې مشورې هم ورکولې. په افغانستان کې د صنايعو د ودې او ايجاد غوښتونکی و. د دوهم نړيوال جنګ په دوران کې عبدالمجيد زابلي د سردار محمد هاشم خان په کابينه کې د اقتصاد د وزير په توګه مقررشو. دا مهال ده د افغاني قره قل پوستکو د پراختيا او پرمختيا لپاره ډير کارونه

وکړل، د لندن او نیویارک بازارونو ته یې د افغاني قره قل پوستکو د صدور زمینې برابرې کړې او د افغانستان د زراعتي او صنعتي ودې په منظور یې ځینې پروژې طرح کړې.

د هلمند د ناوې د پروژې د طرح اوله امریکایانو نه د پور اخیستلو په مذاکراتو کې یې برخه واخیسته. د قطغن او بدخشان په پرمختیایي بهیرونو کې هم د ده د نظریو له پدله سترګې نښې پټیدلی. د بغلان د قند او د پلخمري د نساجي فابریکو په جوړیدو سره دا مهال د کندز، بغلان او پلخمري ښارونه په یو نوی اقتصادي پړاو کې داخل شول.

د ارواښاد سردار شاه محمود خان غازي د صدارت په دوران کې چې د افغانستان په سیاسي فضا کې کوم نوي تحولات راغلل، دی په دغو نویو سیاسي اجتماعي تحولاتو کې مطرح سړی و.

دوکتور فرهادي وایي (ترجمه): " ملي کلوپ د افغانستان سیاسي رجالو ته هم څه نوی سیاسي امکانات په لاس ورکړل او عبدالمجید خان چې دا وخت یې د زابلي تخلص انتخاب کړی و، په دغو سیاسي فعالیتونو کې یې خپل اهداف درلودل. له خپلو دوستانو سره یې اړیکې ساتل او لیکوالان یې جلبول او د تحصیل لپاره خارج ته د ځوانانو د لیږلو په اړه هم کار کاوه".

ارواښاد زابلي د سردار شاه محمود خان په کابینه کې هم څه موده غړیتوب درلود او بیا لیرې کړای شو او امریکا ته ولاړ، ډیره موده هلته پاتې شو. د ارواښاد دکتور محمد یوسف د صدارت په وخت کې بیرته کابل ته راغی او د ۱۳۴۳ش کال په لویه جرګه کې یې ـ چې د اساسي قانون د تصویب لپاره جوړه شوې وه ـ ګډون وکړ.

ارواښاد زابلي دا وخت هم د افغانستان د اقتصادي پرمختیا په اړه حکومت ته خپل نظر وړاندې کاوه او د ملي بانک او نورو هغو صنعتي ـ اقتصادي موسسو سرپرستي یې کوله چې غټ سهم د ده پکې و. د ده په اراده دملي بانک د خیریه صندوق په

لګښت د قبايلي زلميانو د روزنې لپاره د لوګر په پل علم کې يو ليليه ښوونځی جوړ شو.

د ۱۳۵۲هـ ش کال د سرطان له کودتا نه وروسته اواښاد زابلي بيا امريکې ته ولاړ او تر مرګه هلته پاتې شو. د خپل ژوند په هغو کلونو کې _ چې په امريکا کې اوسيده _ د افغانستان له مسايلو سره يې علاقه درلوده او د هيواد حوادث يې تعقيبول خو د خپل ژوند په وروستيو څلورو کلونو کې د حافظې د نشتوالي د ناروغی په امله له مسايلو څه کناره و او د امريکې په ماسا چوست کې په خپل کور کې اوسيده.

لنډه دا چې ارواښاد زابلي په شلمه ميلادي پيړۍ کې د افغانستان له ډيرو مهمو رجالو څخه و، د افغانستان د تجارت، بانکداري او اقتصادي پرمختياوو کې يې له ونډې سترګې نشي پټيدای. ده په هيواد کې د صنعتي موسسو په جوړولو، د افغانستان د ځينو سيمو په زياته د افغانستان د شمال په وده يې لوی لاس درلود.

يادونه: د دې ليکنې معلومات زياتره د دوکتور روان فرهادي له هغې مقالې را ژباړل شوي چې د اميد په ۳۴۴ ګڼه کې چاپ ده.



مرگ محمد عثمان صدقی، مرد فرهنگ و سیاست

در فرجامین روزهای ماه عقرب سال روان خورشیدی از مرگ اسفبار شخصیت گرانمایه، فرهنگی و سیاسی کشور محمد عثمان صدقی آگهی یافتیم. چون در آن روزها شماره اول مجلهء آزاد افغانستان زیر چاپ بود نتوانستیم خبر مرگ ، نکاتی چند در بارهء شخصیت و کارکردهای سیاسی و فرهنگی‌او به خواننده گان این مجله تقدیم کنیم. اینک در این شماره یادی داریم از این فرهنگی ارجمند و رجال سیاسی کشور در دههء دموکراسی.

محمد عثمان صدقی فرزند حبیب الله در ۱۹ میزان سال ۱۲۹۳ خورشیدی در کابل بزاد و در آغوش خانواده پرورش یافت. در هفت و یا هشت ساله گی به مکتب رفت. در لیسهء حبیبیه آموزش دید و در سال ۱۳۱٤ خورشیدی از این لیسه فارغ گردید و در ماه عقرب همان سال در دارالتالیف وزارت معارف به حیث سر کاتب پذیرفته شد. مدتی در آن جا ماند و در ماه سنبله سال ۱۳۱۷ خورشیدی عضویت انجمن ادبی کابل را حاصل نمود. محمد عثمان صدقی شیفته کسب دانش و بالا بردن سویهء تحصیلی خود بود، بنابرهمین ذوق او در پهلوی عضویت انجمن ادبی به پوهنځی حقوق شامل شد. در سال ۱۳۲۰ خورشیدی از آن فارغ گشت. پس از فراغت به رادیو رفت و به حیث مدیر نشرات رادیو شامل کار شد.

در ماه حمل سال ۱۳۲۳ خورشیدی گردانندہ گی و مسوولیت روزنامهء انیس به او سپرده شد و تا ماه سرطان سال ۱۳۲٦ خورشیدی در این وظیفه ماند. روان شاد مولوی خال محمد خسته در معاصرین سخنور (ص۲۵۵) نیشته اند: " در ۱۹ سرطان

۱۳۲۶ش به غرض تحصیل علوم اقتصادی و سیاسی و ژورنالیزم به امریکا رفت " اما جناب دوکتور روان فرهادی در مقالهء خوب شان زیر عنوان (محمد عثمان صدقی خدمتگار فرهنگ وطن) در پیرامون رفتن روان شاد صدقی به امریکا مینویسند : ' ناگهان چنان شد که مرحوم عثمان صدقی به خارج سفر کرد و آن در ۱۳۲۷ (یعنی ۱۹۴۸) بود، زیرا ملل متحد آرزو داشت در جملهء کارکنان خود از هر کشور اشخاص داشته باشد و همان بود که محمد عثمان صدقی کابل و دوستان را ترک کرده مقیم نیویارك شد و به زودی به طرز کار شعبهء اطلاعات سازمان ملل متحد آشنا گردید" (امید، شمارهٔ، ۳۴۴):

به هر صورت او در سالهای بیست سدهء روان خورشیدی به امریکا رفته بود وشاید هم در پهلوی کار با سازمان ملل به کسب دانش نیز میپرداخته است.

میگویند او در سفرش به امریکا مدت زیادی در آن جا ماند و در سلسلهء همین ماموریت یکی دوسالی در گینه جدید به حیث نمایندهء اطلاعات ملل متحد کار کرد.

روان شاد صدقی در سالهای سی همین سده دوباره به کابل آمد و در سال ۱۳۳۹ خورشیدی به حیث مدیر اطلاعات ملل متحد در کابل کار میکرد. در سالهای اول دههء چهل باز هم در امریکا بود. براساس نیشتهء دوکتور فرهادی : " ... مرحوم محمد هاشم میوند وال از کابل به او به نیویارك پیام فرستاد تاعهدهء وزارت اطلاعات کلتور را قبول کند " او دو سال وزیر اطلاعات کلتور افغانستان بود. در دوران صدارت روان شاد نوراحمد اعتمادی سکرتر جنرال وزارت خارجه مقرر شد. اما در این پست دیر نماند. به حیث سفیر در ترکیه انتخاب شد و پس از دو سال به حیث سفیر افغانستان در چین خدمت کرد.

پس از کودتای سرطان ۱۳۵۲ خورشیدی به تقاعد سوق گردید، به کابل برگشت و به کار فرهنگی خود ادامه داد. پس از کودتای ۷ ثور ۱۳۵۷ خورشیدی وضع کشور روز تا روز بحرانیتر میگردید، روان شادصدقی مانند افغانهای دگر مجبور به ترك میهن شد و به امریکا رفت. با خانوادهء خود در پنسلوانیای ایالات متحده میزیست و در همان جا در ماه نومبر ۱۹۹۸م و عقرب ۱۳۷۷خورشیدی چشم از

جهان بست و به جاودانه گان پیوست (اناالله و انا الیه راجعون). روانش شاد و یادش جاویدان باد.

روان شاد محمد عثمان صدقی استعداد سرشار سرایش شعر و نویسنده گی داشت. و به گفتهء دوکتور روان فرهادی: " زمانی که شاگرد مکتب حبیبیه بود، از جملهء نویسنده گان به شمار میرفت ". او افزون از سرایش شعر مقاله های فراوان در ارتباط به مسایل سیاسی و اجتماعی کشور نوشت و کارهای ژورنالستی و روزنامه نگاری او در دوران گرداننده گی روزنامهء انیس رونق بیشتر یافت. او در دوران جوانی پارچه های تمثیلی نیز مینوشت. به کار بستن زبان ساده و عامیانه و گزینش کلمات و اصطلاحات کوچه و بازار از ویژه گیهای پارچهٔ تمثیلی او بود. به نقل از گفته شاد روان لطیفی که گفته اند: " در جمع کردن کلمات و اصطلاحات عامیانه حتی کوچه و بازار کمتر کسی را مانند صدقی میتوان پیدا کرد".

چنان که گفته آمد : روان شاد صدقی در بخشهای گونه گون به نویسنده گی پرداخته است. اما کارهای در خور ستایش او – که با ذوق و استعداد سرشارش درایمن رشته دانش پیوند گست ناپذیر داشت– پژوهشها در بارهء تاریخ و ابنیه و آثار کهن تاریخی کشور بود.

روان شاد صدقی جوان ۲۵ ساله بود که مقالهء (رساله نما) در پیرامون بناهای تاریخی هرات نوشت و در سال ۱۳۱۸ خورشیدی زیر عنوان (یادگار های مدنیت هری) با تصاویر در سالنامهء کابل به چاپ رسید. و دهها مقاله و ترجمه های پژوهشهای دگران _ در ارتباط به تاریخ و فرهنگ کهن میهن – از او به ما مانده است.

روان شاد صدقی در بخش تاریخ نویسی افغانستان با انجمن تاریخ افغانستان همکاری نمود و بخشهای از تاریخ کشور را نوشت. همینسان در تهیه و نگارش کتابهای درسی مضمون تاریخ با وزارت معارف کشور کار کرد. در سالهای اول بازنشسته گی – دوران جمهوری روان شاد سردار محمد داود – کتابی زیر نام شهر های تاریخی آریانا تهیه نمود که از سوی وزارت اطلاعات وکلتور افغانستان چاپ شد. این کتاب نمایانگر مطالعهء او در جغرافیای تاریخی کشور و منطقه به شمار میرود.

در این دوران ترجمهء نمایشنامهء مشهور شکنتلای کـــالیداس را هـــم تکمیـــل نمـــود و در سال ۱۳۵٤خورشیدی به مناسب سیمینار روابط افغـــان-هنـــد از ســـوی وزارت اطلاعـــات و کلتور افغانستان به چاپ رسید. همینسان بـــه مناســـبت ســـیمینار کوشـــانیها کتـــابی زیـــر عنوان (کابل شاهان) تهیه دید و به مناســـبت همـــین ســـیمینار در ســـال ۱۳۵۷خورشـــیدی از سوی مرکز مطالعات بین المللی کوشانی چـــاپ و توزیـــع شـــد. همانســـان کـــه در آغـــاز گفتیم او شاعر بود و از جوانی تا پـــیری گاه گاهـــی بـــه ســـرایش شـــعر میپرداخـــت و دو دفتر شعر او تاهنوز بـــه چـــاپ رســـیده ، یکـــی، ســـرود هســـتی، چـــاپ کـــابل و دگری، نجوای‌دل، که در دوران غربت و دوری از میهن در ایالات متحدهء امریکـــا چـــاپ شـــد.

روان شاد صدقی در دوران زنده گی پـــر بـــارش در پـــرورش و تشـــویق نویســـنده گان جون همت گماشت و در دوران وزارتـــش کـــار بخشـــهای گونـــه گون وزارت اطلاعـــات و کلتور از درخشش ویژهء برخوردار بود، بخشـــهای دیریـــن شناســـی، فعـــال گردیدنـــد و در بر نامه های رادویو افغانستان تغییر مثبتی رونما شـــد. همینســـان زمـــانی کـــه ســـکرتر جـــنرال وزارت خارجه بود، در راه بهبود روابط افغانستان با کشور هـــای خـــارجی صـــرف مســـاعی نمود. کوتاه این که روان شاد صدقی یکی از ناموران فرهنـــگی کشـــور مـــا بـــود و مـــرگش ضایعهء بزرگ به فرهنگ کشور میباشـــد.

راغلی لیک

د افغانستان د مطالعاتو مرکز، د آزاد افغانستان د خپرونې درنو او ګرانو چلوونکو او همکارانو!

د مینې او پېروزنې ولولې تاسو ته ډالۍ کوم.

ګرانو دوستانو! د آزاد افغانستان په نامه، د افغانستان د مطالعاتو مرکز نشراتي ارګان د مجلې لومړۍ ګڼه مې ترلاسه کړه. لکه چې تاسو خپله لیکلي دي، مجله د ورځپاڼې په کچ له یوې خپرونې نه خو ښه والی لري، برسیره پر دې ستاسې د مرکز په شان یو مطالعاتي او تحقیقاتي او څېړنیز مرکز لپاره هم ضروري ده چې یوه مجله ولري ځکه چې د تحقیقاتي څېړنیزو مرکزنو څېړنې او مطالعې برسیره پردې چې باید نورو ته ورسیږي باید راتلونکو نسلونو ته هم د یو تحقیقي او مستند اثر په توګه وساتل شي، خو پدې برخه کې ضرور دا ده چې مطالب تحقیقي وي نه خبري او ګزارشي. ځکه چې د خبري او ګزارشي خپرونو لپاره نورې خپرونې موجودې دي او شته.

زه نه غواړم ستاسې د مجلې په لومړۍ ګڼه کره کتنه وکړم او زما د دې لیک یوازینی هدف هم دا ندی چې د (آزاد افغانستان) مجله وستایم، بلکې زه غواړم ستاسو د مرکز د مجلې رسالت او د هغې د راتلونکې وظیفې په اړه یو څه ولیکم. کیدای شي زما نظر او غوښتنه ستاسو د مرکز او خپرونې له نشراتي پالیسی سره برابره نه وي، خو زه د خپل نظر ټکی داسې بیانوم.

د افغانستان د مطالعاتو مرکز یقیناً پدې هدف تأسیس شوی چې د افغانستان روان سیاسي، اجتماعي، اقتصادي حالت او د افغانستان د خلکو اوسنی وضع وڅیړي او له دغې څیړنې څخه ځانته یو عمومي برداشت ولري او دغه برداشت د ضرورت په وخت کې نورو ته انتقال کړي. دا مرکز په داسې وخت کې تأسیس شوی چې زموږ هیواد په یو بد او لانجمن بحران کې پریوتی دی او زموږ له خلکو څخه یې لار ورکه کړې ده.

د دې مرکز د نشراتي ارګان وظیفه دا ده چې د هیواد د پوهو خلکو نظریات او خیالات د پخوا په شان را غونډ او خپاره کړي. برسیره پر دې دا مرکز باید د راتلونکو لپاره د داسې یو مرکز حیثیت غوره کړي چې افغانان په آزادانه توګه پکې راغونډ او د هیواد او د خلکو په اړه خپلې نظریې او څیړل شوي او څیړلي مواد او افکار بیان کړي، او مرکز باید دومره آزاد او دموکرات او پاک نیته وي چې نه یوازې د ټولو افغانانو نظریې واوري، بلکې دغو ټولو او یا بیلا بیلو نظریو ته په ښه شان چې په هغه کې د تبعیض او تفریق بوی او خوند نه وي انسجام او سمت ورکړي، پداسې شکل چې دغه نظریات د پردو یا هغو کسانو لپاره چې غواړي د افغانستان او سنې سیاسي، اجتماعي، اقتصادي او یا نورو برخو په اړه څه پوهیدل غواړي مثبته او پوره مجموعه و اوسي.

هغه بله خبره چې غواړم په هغه ډیر تینګار وکړم او هغې ته ستاسو ځانګړی توجه جلبول غواړم هغه د افغانستان په اړه د تاریخي اسنادو ژباړل او خلکو ته د هغو رسول دی. لکه چې تاسو ته ښه پته ده د افغانستان په اړه هغه ډیر ښه کتابونه، آثار او تاریخي سندونه چې په بهرنیو ژبو پخوا د دنیا په بیلا بیلو ملکونو کې خپاره شویدي هغه لا زموږ د خلکو په ژبو یعنی په پښتو او دری ژباړل شوي نه دي. زموږ ډیر خلک څه چې، ډیر فرهنګیان له دغو کتابونو، سندونو او آثارو څخه بې خبره دي او یا که خبر لري لاس ته یې نه ورځي.

که مونږ د هیواد د روانو دوو لسیزو د.پیښو په اړه په پیښور کې د افغانانو له خوا خپاره شوي ټول کتابونه را غونډ کړو، هغه ټول د حوادثو او پیښو د څیړنې تعقیب او په پای کې د حقایقو په برسیره کولو کې پاتې راغلي دي او هر یو یې په خپله مخه تللی دی. هغه آفتابي حقایق چې تقریباً ټول ترې خبر دي په هر یو کتاب کې د هر یو لیکوال په زعم او په خوښه راغلي دي او حتی چې د یوې پیښې د قهرمان یا هیرو نوم په بیلو بیلو کتابونو نه بدل راغلی دی.

دا خو زمونږ په مخ کې تیرې شوې پیښې او خبرې دي. که زمونږ دغه لیکوالان د هیواد د نولسمې پیړۍ تاریخ چې انګریزي استعمار پر ضد د خلکو له ویاړه ډک تاریخ دی ولیکي او یا د روانې میلادي پیړۍ د لومړیو دریو لسیزو په اړه چې زمونږ د هیواد هم له ویاړه ډک او هم غمجنوونکی تاریخ دی وغواړي چې څه ولیکي، پوره باور دی چې تیروتنی به یې بیخي ډیرې وي. دا پدې دلیل چې تاریخي پوره شواهد او اسناد په خپله ژبه یا ورسره نشته او یا په لاس نه ورځي. زمونږ د تاریخ او زمونږ د ملت ډیر اسناد او شواهد لا هم په بهرنیو ژبو دي او دا یو تاریخي ضرورت دی چې دغه شان کتابونه او آثار زمونږ په ملي ژبو وژباړل شي. دا په هر هیواد کې د تحقیقي مرکزونو وظیفه ده که دا مرکزونه سیاسي وي او که اقتصادي دي، اجتماعي وي او که فلسفي، دولتي وي او که غیر دولتي.

د افغانستان په اوسنیو شرایطو کې چې نور هیڅ ډول د څیړنې او تحقیق مرکز نشته، زما په یقین او خیال، دا د افغانستان د مطالعاتو مرکز وظیفه ده چې زمونږ د هیواد د تیر دورو ټول اسناد او کتابونه چې لا هم په بهرنیو ژبو دي په دري او پښتو ژبو وژباړي او خپل ملت ته یې ورسوي، څو زمونږ راتلونکی نسل چې بدبختانه د خپل هیواد د ویاړلی تاریخ څخه بې خبره دی آګاه شي او دا به د افغان ملت په تیره بیا د افغانستان فرهنګي ټولنې لپاره چې تاسو هم دهغه غړي یاست، ډیر ګټور او تاریخي خدمت وي.

موږ د ګاونډيو ملکو په مطبوعاتو کې وينو که چيرې په يوه کتاب کې د دوی د هيواد په اړه آن يوه پاڼه هم څه ليکل شوی وي، په سبايي په خپله ژبه اړوي. هغوی هم داسې تکړه کسان لري او هم مالي امکانات. موږ که تکړه ژباړونکي لرو خو هغوی بيا مالي امکانات نه لري، د خپلې کورنۍ د ډوډۍ پيدا کولو په غم کې ورک وي. نو بياهم دا د افغانستان د مطالعاتو مرکز مسووليت او رسالت دی چې زموږ د تاريخ دغه کمبود ته پاملرنه وکړي او هغه ټول آثار، کتابونه او اسناد چې د افغانستان په اړه پښتو خپاره شوي او يا خپريږي د خپلې مجلې له لارې خپاره کړي او خپل ملت ته داسې کارنامه مخې ته کښيږدي لکه چې د دنيا نورو مطالعاتي او تحقيقاتي مرکزونو د خپلو ملتونو مخې ته ايښي او تر نن پورې په هغو استناد کيږي.

په پای کې تاسو ته په پخوانی رسالت خو په نوی مرحله کې ښايسته او له وياړه ډکې برياوې غواړم.

په درناوي

سميع الله تازه

Editor –in Chief: Prof. A. Rasul Amin
Editor: Senior- researcher Zalmay Hewadmal

ANNUAL SUBSCRIPTION

Afghanistan

Individuals	Af . 10,00,00-00

Pakistan

Individuals	Rs. 200.00
Institutions	Rs . 400.00
Per copy	Rs . 15 .00

Abroad

Individuals	u.s$ 50.00
Institutions	u.s $ 70.00
per copy	u.s $ 10.00

Postal Address:
P. O. Box # 867
University of Peshawar
NWFP, Peshawar, Pakistan
Tel: +92-91-840318
Fax: +92-91-840288

Bank:
Account No. 1749-38
Habib Bank (Limited)
Jamrud Road
University of Peshawar
NWFP, Pakistan.

Note:

The ASC does not necessarily endorse the ideas and views expressed on its pages by scholars and writers.

AZAD AFGHANISTAN
(FREE AFGHANISTAN)

Vol. 1, No. 2, December 1998.

In this issue:

Monthly Journal (Pashto_ Dari) of Afghanistan Study Centre (ASC).
The ASC is an independent, non-partisan and non profit-making academic center whose major source of income is subscription, donation and accepts that financial assistance only which does not in any way compromise its independence.
Its major objectives are to pave the way for pluralism, participation, democracy and human rights in Afghanistan based on Islamic values and Afghan national traditions.
It struggles against discrimination in the name of politico-religious ideology, language, race, creed, sect, sex and dictatorship in any form.